د تتمة البيان في تاريخ الافغان پښتو ژباړه

د پښتو ژباړي
د محمد رفيق حبيبي په قلم

ترتيب، سمون او لمنليکونه
د محمد معصوم هوتک
۱۳۸۵ل = ۲۰۰۶ع

www.hotakonline.com

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تتمة البيان في تاريخ الافغان پښتو ژباړه

تتمه البيان فی تاريخ الافغان د علامه سيد جمال الدين افغان (1839 ـ 1897ع) ليکنه ده، چي په 1318 هـق = 1901ع کال په مصر کي د علامه سيد تر مړيني څلور کاله وروسته چاپ سوې ده. د ليکني ژبه يې عربي ده. دا کتاب په 1318 هـش کال د اروانباد محمدامين خوګياڼي په قلم په پارسي ژبه ژباړل سوی او په کابل کي چاپ سوی دئ[1]. تر پارسي ژباړي څلوېښت کاله وروسته بيا نوموړی تاريخ د ښاغلي محمد يوسف منصور په قلم پښتو ژبي ته راواړول سو او د "پښتو اکاډمي بلوچستان" له خوا په 1979 ع کال د پنځو سوو ټوکو په تېراژ د کوټي په اسلامي پريس کي د عبدالرحمان بابړ په کتابت چاپ سو. د دغي پښتو ترجمي نوم يې (تاريخ الافغان) ايښی دئ. د ژباړي ټول چاپي مخونه 190 ته رسېدلي دي. په سر کي د ښاغلي يوسف منصور په قلم دوه مخه سرليک لري، ورپسي "د کتاب ترتيب" (فهرست) 3 مخه او بيا د سيد جمال الدين افغان لنډه سوانح (5مخه) راغلي ده چي دا هم د يوسف منصور په قلم ليکل سوې ده. په دغه ژباړه کي د هري برخي له پاره عنوانونه ټاکل سوي دي چي که زه خپلي حافظي بې لاري کړی نه وم، ګومان کوم په عربي اصل او پارسي ترجمه کي، چي زما تر نظر ډېر وخت پخوا تېر سوي دي، نسته.

---

[1] ښاغلی غوث خيبري د اروانباد مولانا محمدامين خوګياڼي له خولې ليکي چي مولانا مرحوم غوښتل دا کتاب په پښتو وژباړي خو د وخت د مطبوعاتو د مستقل رئيس مرحوم صلاح الدين سلجوقي په امر يې له پښتو ژباړلو څخه تېر سو او په پارسي يې ترجمه کړ، (وګ:- پښتانه د کلتوري ښکيلاک په څنځيرونو کي - 241، 242 مخونه - 1381 ش چاپ). خو اروانباد استاد بېنوا (1363 ش مړ) د اوسني ليکوال د لومړي ټوک په (343) مخ کي د اروانباد مولانا خوګياڼي د معرفۍ په برخه کي ليکي چي مولانا صاحب د سيد جمال الدين افغان د تتمه البيان في التاريخ الافغان پښتو او فارسي ترجمه کړېده، چي فارسي ترجمه يې په کابل کي خپره سوېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي يوسف منصور په خپل "سرليک" کي ويلي دي:

"تر کومه حده پوري چي زما معلومات دي په دې ملک کښي د ننه اول وار د کوټي پښتو اکيډيمۍ ته دا شرف حاصل دی ـ چي هغه د دې کتاب د پښتو اشاعت د پاره خپل کوششونه پکار راوستل[2]". د "اول وار اشاعت" په برخه کي خو د ښاغلي منصور خبره ښځي سمه ده خو دومره باید پر زیاته سي چي د دې اثر اول وار پښتو ژباړه د کوټي تر اشاعت 32 کاله وړاندي د يوه بل پښتانه فاضل ارواښاد محمدرفيق حبيبي په قلم سر ته رسېدلې وه او د دغي ترجمي يادونه ارواښاد عبدالروف بېنوا په اوسني ليکوال لومړي ټوک 247 مخ کي کړې ده[3]. ارواښاد محمدرفيق حبيبي د مولانا زين العابدين زوی، د شهيد مولوي عبدالرحيم کاکړ لمسی او علامه حبيب الله کندهاري (حبو اخوندزاده) (رح) کړوسی و. په شلمه پېړۍ کي د افغانستان د ادب او تاريخ د ځلانده ستوري لوی استاد علامه پوهاند عبدالحي حبيبي (1298 ـ 1363 هـ ش) او ارواښاد محمدرفيق حبيبي د اکا (تره) زامن دي[4].

زه د خپل اثر (درنه کورنۍ) تر خپرېدلو وروسته د کندهار د زلميو ليکوالو له خولې خبر سوم چي د ارواښاد محمدرفيق حبيبي په قلم د تتمه البيان پښتو ژباړل سوې نسخه له ښاغلي اسدالله خان مشهور په کاکا سره خوندي ده او د سږ کال په

---

[2] منصور - محمديوسف - تاريخ الافغان - 6 مخ - 1979 ع، پښتو اکاډېمي بلوچستان.

[3] ارواښاد بېنوا د دغي پښتو ترجمي د ليکلو کال 1320 هـ ش بللی دئ خو زما سره چي د ارواښاد محمدرفيق حبيبي پخپل ليک د دې ژباړي د خطي نسخي کومه پاڼه سته، هوري يې د (مترجم) تر سرليک لاندي بيان په پای کي کښلي دي:- پېښور حمل 1326 محمدرفيق حبيبی قندهاری. ما ته دا خبره معلومه نه ده چي دا نسخه به د پښتو ژباړي لومړی اصل وي که د هغه دوهم نقل.

[4] د تفصيل له پاره وګورئ: درنه کورنۍ. د دې قلم د ښېنتن ليکنه, 1382 ش, کابل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنوري کې د دغې ترجمې ټايپ سوې کاپي د ګران مطيع الله جان روهيال له خوا کاناډا ته د کتلو له پاره راولېږل سوه[5]. دا کاپي ما وکتله او د ښاغلي يوسف منصور له چاپ سوې پښتو ژباړې سره مې مقابله کړله. تو پيرونه مې په حاشيو کې ور زيات کړل او پر ځينو ټايپي ورانيو او توضيح غوښتونکو ځايو مې لنډې څرګندونې وکښلې او پر څنګ مې د ارواښاد محمد رفيق حبيبي ژباړه او د ښاغلي يوسف منصور ترجمه له فني او علمي اړخه ځای ځای سره پرتله کړه.

د ارواښاد حبيبي ژباړه د شپېته کاله وړاندې نثر يوه ښه بېلګه ګڼل کېدلای سي. ده هڅه کړې ده چې د پښتو ژبې هغه سوچه اصطلاحات او محاورې پخپله ترجمه کې کار کړي چې د ده په چاپېريال کې يې رواج درلود. د مرستيالو فعلونو په کارولو کې يې د خپلې لهجې تلفظي ځانګړتياوې په پام کې نيولې دي خو دا توان يې بيا نه دئ موندلی چې د عربي ژبې د ګرامري جوړښتو له اغېزې څخه ځان وژغوري. دغه راز جوړښتونه د ټکي په ټکي ترجمې ښکارندويي کوي او ټکي په ټکي ترجمې بيا د مطلب اداينه يو څه ګرانه (مشکله) کړې ده او په پوهېدلو کې يې ستونزې پېښې کړې دي. په ترجمه کې يې ځينې داسې لغتونه راوړي دي، چې که له اصل څخه سم رانقل سوي وي، نو اوس يې څوک په محاوره کې د استعمال موارد نه سي موندلای او مروجو قاموسو هم ثبت کړي نه دي، لکه: ناتروړکي يا ناتوروکي، نتني، انهار، زليلانده، ځکل، رخي کښل، پونجول يا پونځول... او نور. دې کار که د متن پوهېدل ګران کړي دي خو نوموړي لغتونه يې د ثبت له امله له مرګه او هېرېدونې څخه راګرزولي دي.

---

[5] دا کاپي د ښاغلي کاکا اسدالله خان د شخصي نسخې له مخې تهيه سوې ده. د کاکا اسدالله خان فرهنګي احساس د ستايلو وړ دئ چې خپله په بيه رانيول سوې نسخه يې د ښاغلي روهيال په واک کې وړيا او بې له کومې ملاحظې ورکړې ده. د دغه شان با احساسه فرهنګياليو کمی دې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښاغلي يوسف منصور ترجمه بيا سره له دې چې ځيني برخي يې د ټکي په ټکي ترجمې بوی ورکوي خو په پوهېدنه کي تر دې دوهمي ژباړې اسانه او روانه ده. ده د مطلب د ادايني په خاطر د اصل جملې سره ماتي کړې او لنډې کړې دي. د ده په ترجمه کي هم د عربي ژبې د ګرامري جوړښتونو سيوری ليدل کېږي.

که د ارواښاد حبيبي ترجمه د عربي ژبې د اغېزې له امله ځای ځای بېخونده سوې ده نو د ښاغلي منصور دا بيا د اردو ژبې اغېزې زيانمنه کړې ده. ځيني ځايونه د ارواښاد حبيبي عبارتونه محاورې ته نژدې وي او ځای ځای بيا د ښاغلي منصور عبارت ډېر روان او خوندور وي. د دواړو ژبه د خپل وخت او چاپېريال ښه پوره نمايندګي کولای سي او د متونو د خپرولو يوه ګټه هم دا ده.

که د ارواښاد حبيبي په ترجمه کي د علی ای حال (66 مخ) ترکيب، بلدهٔ محمديه (84 مخ)، معسکر (86 مخ)، اکراد (38 مخ)، تحصن (61 مخ)، اشربه (105 مخ)، استخلاف (26 مخ)، زريه (35 مخ) د عربي ډوله ملايي پښتو بېنه لري، نو د ښاغلي منصور بهر کيف (105 مخ)، ماتمي پوشاک (57 مخ)، ناکام مهم (61 مخ)، شرافت مکتسبه (126 مخ)، قحط عظيم (57 مخ)، ذليل و کمينه (126 مخ) او خاص کر (63 مخ) ... هم د جملو پښتني جوله ور بدرنګه کړې ده او د اردو ځبلي پښتو رنګ يې اخيستی دئ.

د ارواښاد محمدرفيق حبيبي دغه جملې نه د ګرامري جوړښت له مخي او نه د لغاتو د استعمال له مخي پښتني ايسي:-

"... مورخين په منشاء کي د دې اصل اختلاف لري".

"وروسته په ذريعه د ځينو پاچهانو د خراسان د ښارو د مشرق و خوا ته رانقل سوي دي".

"دوی خپل نوی ځای د استوګي، په ياد سره د هغه وادي چې د شام په مځکه کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده او غور يې بولي، بللی دی... ".

"زړونه د خپل اولس د اسلام و دين ته راوګځوي ".

"په استولو کي د ميرويس و اصفهان ته ".
د ښاغلي منصور ترجمه هم له دغه راز بېخوند يو ځخه خلاصه نه ده:

"ده دا دعوی درلوده ... چي هغه د عادات په امورو قدرت لري ".

پـه زمانـهٔ نـامعلوم کښـي ځنی باچاهـانو دوی د بـلاد خراسـان پـه ختـيځ کښـي آبـاد کړل ".

"... دي خلکو خپل جديد ټاټوبی د غـور لمنـي يعنـي وادی غـور واقـع ارض شـام پـه يادونه کښي د غور نوم ورکړ ".

"چي په ګران قدر سوغاتو لېږلو د شهنشاه ايران نظر التفات ځانته وګرځوي ".

د دواړو په ترجمو کي دغه راز مثالونه د ان د پاسه دي. ما يـې پـه دا ځـو جملـو غـاړه وايسته.

اوس چي مو پـه يـوه لنډه څېړنه کي د دغـو دواړو پښـتو ژباړو جولـه تـر يـوې انـدازې وښووله، بده به نه وي چي د دغه تاريخي اثر د اصـل پـه بـاب هـم يـو څـه وڅېـړم. دا کار مي بايد وړاندي لا کړی وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تتمه البیان فی تاریخ الافغان
څه وخت لیکل سوی دئ؟

علامه سید جمال الدین د خپل کتاب د لیکلو د نېټې په باب څه نه دي کښلي خو په متن کي يې يو ځای د عبدالرحمن خان د استوګني په باب کښلي دي چي "تر ننه پوري " په سمرقند کي استېږي[6]. عبدالرحمن خان له خپل اکا امیر محمداعظم خان سره یو ځای په شش ګاو او زنه خان کي د امیرشېرعلي خان له لاسه تر ماتي وروسته روس ته ولاړ او په سمرقند کي مېشت سو. دغه پېښه په 1868 ع = 1285 هـ ق کال منځ ته راغلې ده. سردار عبدالرحمن خان تر 1880 ع = 1297 هـ ق کال پوري په سمرقند کي پاته سو او د دغه کال د ځلرمي خور (جمادی الثاني) پر ځلرمه تر آمو سیند راواوښت او مخ پر کابل راوړاندي سو. چي په دي حساب نو د علامه سید تتمه البیان فی تاریخ الافغان تر 1297 هـ ق کال وړاندي باید لیکل سوی وي. علامه سید دغه راز د افغانستان د تاریخ لړۍ د امیرشېرعلي خان په پاچهي کي پر دغه هیواد باندي د انګرېزي لښکرو پر یرغل او د افغان ـ انګلیس د دوهمي جګړې پر پیل باندي درولې ده. ده د خپل کتاب تاریخي برخه په دي عبارت سره پای ته رسولې ده: "په سنه 1295 کي د روس وفدونه امیر ته راتله. په دي سبب وسوسې او اندېښني انګرېزانو لویانو ته ولوېدې. یو سفارت یې چي له ځو کسو مهندسانو او زرو سپرو څخه جوړ و، د امیر حضور ته ولېږه. امیر په دي سبب چي انګرېز له ځو کالو راهیسته هغه کلني مواجب بې سببه پر شلولي وه، د سفارت له قبلولو څخه يې نټه وکړه. پر انګرېزانو دا وضع بده ولګېده په خښم په زښت ظالمانه ورځ یې د پښتانه پر وطن لښکر وروخوځاوه[7]".

---

[6] د همدي کتاب 90 مخ.

[7] د پښتو باړي ټایپ سوی متن - 91 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېزانو دا يرغل په 1879 ع = 1296 هـ ق کې پېښ سوی دئ[8] نو ويلای سو چې د تتمه البيان فی تاريخ الافغان ليکنه هم په دغه کال سوې ده خو د چاپ چارې يې تر ليکني 22 کاله وروسته په 1901 ع کال په مصر کې سر ته رسېدلي دي.

آيا په دې 22 کلونو کې د علامه سيد دغه تاريخي اثر د چا په لاس کې و که نه؟ ما ته داسي ښکاري چې د دې پوښتني جواب به "هو" وي. شېرمحمد خان ګنډاپور د خپل کتاب تواريخ خورشيد جهان په 133 مخ کې د ميرويس نيکه په باب د بيان په ترڅ کې د يوه عربي تاريخ نوم اخلي او وايي چې په دغه تاريخ کې د ميرويس نيکه د وخت پېښې په "شرح وار" ډول بيان سوي دي.

تواريخ خورشيد جهان په 1894 ع = 1311 هـ ق کې د تتمه البيان تر ليکني 15 کاله وروسته چاپ سوی دئ. ليکنه يې، طبيعي ده چې تر دغي نېټې وړاندي ده. ما ته په عربي ژبه کي تر تتمآ البيان فی تاريخ الافغان په ها خوا داسي کوم تاريخ معلوم نه دئ چې د ميرويس نيکه حالات دې پکښې بيان سوي وي. تر دغه کتاب وړاندي د هوتکي غورځنګ په باب د کروسينسکي تاريخ خپور سوی دئ (1727ع) خو د دې تاريخ د عربي ژباړې خبره چا نه ده کړې[9] ځکه نو ما د ميرويس نيکه په نامه د اروا ښاد استاد عبدالروف بېنوا (1293 _ 1363ش) د کتاب د دوهم چاپ په سر کې وکښل چې: "له امکانه ليري نه ده چې له دغه عربي تاريخ څخه به مراد د سيد

---

[8] حبيبي. عبدالحی (پوهاند) د افغانستان پېښليک, 204 مخ، 1353 ش، کابل.

[9] د علامه سيد په تتمه البيان فی تاريخ الافغان کې د اصفهان د جګړې په ترڅ کې د هغه افغاني سرتېري له بيان څخه، چې په جګړه کې لاس غوڅ پرې سوی او د جګړې له ډګره وتلی و ... او دغه راز د اصفهان پر تخت باندي د شاه اشرف هوتک د کښېنستلو پر وخت د چور او چپاو له بېرې د اصفهان د ښارو د دوکانو د تړلو ... له کيسې څخه (د پښتو ژباړې د ټايپ سوي متن 93 _ 94 مخونه) داسي ښکاري چې علامه سيد د کروسينسکي له کتابه استفاده کړې ده ځکه دا روايتونه له کروسينسکي پرته بل چا نه وه ليکلي او په را وروسته تاريخو کې د کروسينسکي له کتابه اخيستل سوي دي...

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمال الدين افغان د تتمه البيان فی تاریخ افغان کومه خطي نسخه وي[10] ".

زه د ويلو نور څه نه لرم او خبري به ګران مطيع الله جان روهيال ته د نورو زياتو فرهنګي هڅو په دوعا پای ته ورسوم. بری دي تل په برخه وي.

محمد معصوم هوتک
اکويل ــ کاناډا
8 می 2006 ع

---

[10] بېنوا - عبدالروف - میرویس نیکه - د سريزي 5 مخ - 1384 ش (دوهم چاپ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو خبري

د هیواد د ملي شتمنیو د چور، چپاول، عامو قتلونو او نورو ورانیو په اړخ کي د غوايي د دوهم اړودوړ په لړ کي ملي فرهنګ ته هم داسي زیانونه واوښتل چي زموږ د هیواد په میلیونونو ټوکونه کتابونه هم له دې تاړاک څخه په امن کي پاته نه سوه، چاپ او ناچاپ آثار، دولتي او شخصي کتابتونونه غلا او چور سول. له دي جملي څخه ډېر کتابونه د نورو په لمسون د افغانانو د علم او پوهي د دښمنانو لخوا ګاونډیو هیوادونو ته یووړل سوه، هلته ډېر کتابونه حتّی په وزن خرڅ او اکثره يې د عطارانو او قصابانو په دوکانونو کي تريِ کار واخیستل سو.

د همدې غلا او چور سوو کتابونو څخه یو تعداد هم د کابل د پُل باغ عمومي د سړک د غاړي کتاب پلورونکو د کتابونو د خرڅولو او رانیولو بازار ډېر ګرم ساتلی و، دا ځکه چي د طالبانو د رژیم په راتګ سره په پلازمېنه کابل کي د وزارتونو په تشکیلاتو کي ډېر بستونه تنقیص او مامورین نور هم د پخوا څخه ډېر د بیکارۍ سره لاس او ګریوان سول. په دې کړۍ کي د کورنیو چارو د وزارت یو افسر ښاغلي عمراخان هم د کتابونو په پیرودلو او پلورلو ځان مشغول کړ او د تختو څخه يې جوړ یو دوکان ګوټی ځان ته برابر کړ.

زه به هم چي کله کابل ته د خپلو کارونو له پاره ولاړم د فراغت په وخت کي به مي د کتابونو په لیدلو ځان مصروف ساتی او کله نا کله به مي یو و نیم د خپلي خوښي کتابونه هم رانیول، د 1376 ش کال د قوس د میاشتي 25 ورځ وه چي د ښاغلي عمراخان دوکان ته ورغلم، د نېکه مرغه هغه راته همدغه کتاب (تتمه البیان في التاریخ الافغان) چي د هیواد د ستر علامه سید جمال الدین افغان تالیف او د هیواد د نامتو پوه مرحوم محمدرفیق حبیبي په قلم په پښتو او دري دواړو ژبو ژباړل سوی و، راته وښوده. خدای سته چي د کتاب په لیدلو ډېر خوښ سوم او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مي ښه چانس وګاڼه چي کتاب د اور له لمبو او سوځلو له توپان څخه په امان کي پاته سوی دئ، کتاب مي له هغه څخه رانيوی د ځان سره مي ژمنه وکړه چي په مناسب وخت کي به يې د چاپولو له پاره هلي ځلي وکړم تر څو ټول هيوادوال، څېړونکي او ليکوال ځني مستفيد سي.

کوم وخت چي په هيواد کي ښاغلي حامد کرزي د افغانستان په تاريخ کي د لومړي ځل له پاره د برهان الدين رباني څخه په صلح آميزه ډول واک واخيست، د مطبوعاتو آزادي يې اعلان کړه، د کتاب د چاپ په اړه مي د ښاغلي مطيع الله روهيال څخه د مرستي غوښتنه وکړه، ښاغلي روهيال يې په ورين تندي د کمپيوټر او دوباره د اصل سره د تصحيح چاري پر غاړه واخيستلې، د تحقيق، څېړني او لمن ليکونو چاري يې په کاناډا کي استوګن مهاجر ورور، درونډ ليکوال او څېړونکي محمد معصوم هوتک تر سره کړې، د ښاغلي هوتک صاحب په وينا د چاپ له پاره يې په جرمني کي د افغانستان د کلتوري ودي ټولني ژمنه کړېده.

زه د دوی ټولو څخه د زړه له کومي مننه کوم چي په لاس ته راغلي امانت کي يې د چاپ ته اماده کولو او په دې لاره کي د ډول ډول ستونزو ګاللو ته سينه ورکړې، د دوی ټولو دي کور ودان وي، او د کتاب د چاپ مبارکي ورته وايم.

په ډېر ادب

کاکا اسدالله پوپل

د معلمينو کارته، کندهار

1385/11/9

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمړی فصل

د دې امت په نامه کي

فارسيون دويافغان بولي، ځکه چي يو وخت بخت نصر دوی بنديان کړي وه دوی غلبلې وهلې او فغان يې کاوه له هغه وخته دا نوم پر دوی کښېښو سو، او دغه رنګه ويل کېږي چي افغان د ساوول[1] د لمسي[2] نوم و، د پښتنو نيکه و د خپل نيکه په نامه ياد سوي دي، عام فارسيون دوی اوغان هم بولي چي اولني نامه ته څرمه دی. د هندوستان خلق يې پټان بولي، ځيني قبيلې د پښتنو لکه اوسپدونکي د کندهار او غزني ځان پښتنو و پښتان بولي. اوسېدونکي د خوست او کورم او باجوړ پر ځان پختنو و پختان نوم ايږدي، که په ژور نظر وکتل سي او په نږدې والي کي د دغو لوړو لفظو دقت وکړه سي دا خيال کيږي چي رېښه د دې ټولو الفاظو يوه ده او افغان و اوغان و پټان له پختان څخه محرف دي او دا سمه ده چي پختان او پښتان له پاشتان څخه اخيستي سوي دي، پاشتان په نيشاپور کي يو کلی دی. يا له بشت څخه چي يو د خراسان د ښارو څخه دی اخيستی سوی دی او سم د فارسي ژبې د قانونه سره د جمع حروف الف او نون پر زيات سوي دي، ځکه چي دوی په هغه ښهر کي استوګه کوله وروسته تر پرېښودو د هغه ځای په نامه ياد کړه سوه (و) په پښتو او پغتو کي له الف او نون څخه محرف او د نسبت دپاره دی، لکه په عربي ژبه کي چي (ی) ده په جوړېدو کي جمع حذف سوي دي، او احتمال لري چي دا دوه لفظونه د بشيت د لفظ څخه اخيستـه سوي دي، بشيت د فلسطين د کلو

---

[1] ساوول: د شاول په بڼه هم ثبت سوی دئ او دا نوم د (طالوت) له پاره کارېږي، طالوت د بني اسرائيلو يو سردار و چي وايي داود (ع) يي په سپاهيانو کي و، (غياث).
[2] په کوټه چاپ کي: "د ساول کړوسی" ليکل سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاره یو کلی دی چې دې احتمال کې دوی له بني اسرائیلو چې وروسته تر دې بحث ځني کوو وبولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم فصل

د دې امت په نسب کې

دا ټولۍ له ډېرو قبیلو څخه مرکبه ده، لکه غلجي، عبدل، کاکړ، وزیري یوسفزي، مهمند، آفریدي، بنګښ او نوري قبیلې چې د خپل استوګې د ځای په نامه نومېږي، لکه خوستي، کورمي، باجوړي. د دوی هره قبیله پر ډېرو کامو باندي وېشل سوې ده، لکه:- غلجي چې هوتک، توخي، سلیمانخېل، اوریاخېل[1] یې ښاخونه دي. عبدل (ابدال) له بارکزي، الکوزي، علیزي، بامیزي[2] څخه مشتق ده.

هر یو د دغو کامو څخه پر تنو وېشلي سوي دي او هره تنه پر ښاخو وېشلي سوې ده، په سبب د تنګی د ځای اوس مو ږ له تنو او ښاخو او هغه چې اړه په هغو پوري لري بحث نکړو، واړه دا تنې او ښاخونه و یوې بخیلي[3] او ریښې ته رسېږي چې په پښتو یا پشتان سره یادېږي. مؤرخین په منشاء کې د دې اصل اختلاف لري، ځینو ویلي دي چې دوی د خزر له طائفي[4] څخه دي چې د کاستبان[5] د سین پر غاړه او په باب ابواب او شرواناتو[6] کي استېده، او د ایران و ښارو ته پرله واوښته چور او چپاو یې کړه، وروسته په ذریعه د ځینو پاچهانو د خراسان د ښارو د مشرق و خواته رانقل کړه سوي دي.

---

[1] په کوټه چاپ کي: "اوباخېل" دئ.
[2] په کوټه چاپ کي: "بادین زی" دئ.
[3] په کوټه چاپ کي: "مجتمع" لیکلی دئ.
[4] په کوټه چاپ کي: "د بحر خزر او سېدونکي" لیکلي دي.
[5] کاستبان = کاسپین.
[6] په کوټه چاپ کي: "شروان نبهر" لیکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني بيا چي په تاريخ خبر نه دي د دوی نسبت و امير تيمور ګورګان ته کوي او حال دا چي د دوی نظريه ناتروړوکي او بې ريښې ده ولي پښتانه قرنونه پخوا د تيمور تر وخت په خپلو ځايو کي استېده.

ځيني بيا دوی د ضحاک[7] اولاده بولي، هغه ضحاک چي پر دواړو اوږو يې دوه مرغړي راوتلي وه او لکه دوه هيپان (افعي ماران) داسي ښکارېده، او د فارس ستيولوجي[8] کي په دغه سره مشهور دي.

ځيني داسي وايي چي دوی د آثور کلدان د نسل څخه دي تر داسي حده چي ځيني د فرنګ سياحان دا ادعا لري چي په پښتو ژبه کي د کلدانِ ژبي څه لفظونه ليدل کېږي.

بله ډله بيا پر دي ولاړ دي، چي د پښتنو طائفه په هغه غرو کي چي ميانځ د اټک د سين او خراسان[9] دی استوګه لري، د مصر د قبطيانو د نسل څخه دي چي د سوزستريس سره د هندوستان په فتح کي ملګري وه.

بله ډله بيا وايي چي دوی د بني اسرائيل د اسباطو د نسل څخه دي، بخت نصر وروسته تر هغه چي ډېر يې ځني مړه کړه نور يې په کوهستان غور يا صرف غور کي پنډ[10] کړه. او ويلي يې دي چي دوی خپل نوی ځای د استوګي په ياد سره د هغه وادي چي د شام په مځکه کي ده او غور يې بولي بللی دی، او دغه رنګه پغتو چي

---

[7] د فردوسي د شهنامې له مخي ضحاک يو ډېر ظالم پاچا و. د ده له اوږو څخه دوه ماران راوتلي وه. دغو مارانو د انسان د سر ماغزه خوړل. وايي ده چي به انسانان ووژل، د سر ماغزه به يې دغو مارانو ته ورکول. ضحاک د فريدون له خوا ونيول سو.

[8] دا لغت به غالباً تيولوجي وي او تيولوجي د مذهبي او ديني چارو پوهني ته وايي.

[9] په کوټه چاپ کي: "د دريای اټک څخه تر کوهستانه پوري" ليکلی دئ.

[10] پنډ :- ميشت، استوګن.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پختو ښځه محرف دی بخت نصر ته منسوب دی، نوم يې ايښی دی. لکه چي دمخه مو بيان کړی دی په فارسي ژبه کي (و) لکه په عربي ژبه کي نسبتي يا داسي دی. وروسته تعداد د دوی ډېر سو پر شاوخوا يې تسلط وموند د دوی او د يهودو په ميانځ کي مراسلات او مکاتبات کېده. هغه وخت چي عربو يهودو د اسلام دين قبول کی يو سړی چي خالد نومېده د افغان و الکي[11] ته يې ولېږه دوی يې و دين ته د اسلام وبلله، افغانانو هم يوه ډله خپلو مشرانو ښځه واستوله چي يو له هغو ښځه قيس نامی و چي نسب د ده په اوه ځلو ښت پښته د بني اسرائيل و اسباط ته او په پنځه پنځوس پښته و ابراهيم ته رسېږي.

خالد دوی و حضور ته د رسول اکرم (ص) حاضر کړه او د ده و عناياتو ته يې ورسوله.

مخصوصاً پر قيس خاصي مهرباني د ده (ص) وسوې، پر ده يې د عبدالرشيد نوم کښېښنو او د امير لقب يې ورکړ. انحضرت (ص) و فرمايل چي دی د دغه لقب قابل دی، د بنی اسرائيلو د پاچهانو د نسل ښځه دی.

دغه سفيران د مکې په فتح کي د آنحضرت (ص) پر اوږه ودرېده، پوره او بشپړه مړانه يې ښکاره کړه وروسته قيس سره له خپلو ملګرو و خپل وطن ته لاړ، آنحضرت (ص) ده ته د خير او برکت دعا وکړه او د پاره د ترويج او څرګندېدو د اسلام د دين د خراسان د غور په غرو کي[12] يې يوه ډله د مديني د استېدونکو ښځه د ده سره ولېږله.

قيس چي خپل وطن ته راورسېده زښته زيار يې وکښه چي زړونه د خپل اولس د اسلام و دين ته راوښکوي، هغه و چي مطلب يې تر سره سو او واړو پيروانو يې د

---

[11] الکي: الکه، مځکه، سيمه، وطن ته وايي.
[12] په کوټه چاپ کي: "د کوهستان په غور کي" ليکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام دين ومانه.

قيس پر ځلو ښتم کال د هجرت چي عمر يې اته اويا کاله و ، مړ سو[13]، دري زامن يې پر مېنه پرېښوول‌ه، ځينو ويلي دي چي د قيس نسب په شاول[14] پوري نښلي چي تر او سه يې د پښتانه په ښارو کي په ښه توګه ذکر کېږي تر داسي حده چي لويان او غټان د پښتنو زيار کاږي چي خپل نسب و هغه ته ورسوي. پښتانه خپله شجره چي بشپړه بړوسه پر لري تر او سه يې په لاس کي ده او هغه شجره انتسال د دوی د بني اسرائيلو څخه ثابتوي، سره له دې چي نوکی[15] مشابهت په منځ کي د پښتو او عبراني نه مونده کېږي، هو کې د دوی عقيده چي دوی د هغې ريښې څخه دي سره د دې چي په ميانځ کي د دوی د وطن او د بني اسرائيلو د الکي ډېر ځکل[16] پروت دی او وجود د خيبر د دوی په وطن کي ځيني وخت ګمان د ځينو پر صحت او رشتيا والي د دې روايت ګماري.

ځيني بيا دوی د ارمنيانو څخه بولي چي په شېروان کي په الپان سره مشهور دي، استوګه يې کوله. هغه کليسې (کليساوي)[17] چي په قره باغ کي و شېروان ته نژدې دي او تر ننني ورځي په قندسار سره شهرت لري د دې مطلب تائيد کوي. ډېر ځکل د دغو اطرافو څخه اغوانج بولي د اغوانج معنی د دوی په ژبه کي ډېر اغوانه ده.

هغه ارمنيان چي په کنجه او روان او نخجوان او ګيلان کي استوګه لري د اغوان په نامه فخر کوي او اغوان والی غواړي، احتمال لري چي د افغان کلمه دي له اغوان يا الپان څخه محرفه وي او وايي چي د قندسار رئيس وروسته تر راتګ دي نوي

---

[13] په کوټه چاپ کي: "د قيس عبدالرشيد وفات د 87 کالو په عمر کي" ليکلی دئ.
[14] وګورئ د لسم مخ اوله حاشيه.
[15] نوکی: لږ څه، هيڅ.
[16] ځکل: لږ فاصله، لږلار (پښتو ــ پښتو تشريحي قاموس).
[17] په کوټه چاپ کي: "عبادت خاني (ګرجاوي)" ليکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای ته او استوګه په هغه کي يې قندسار په نامه سره بللی دی چي وروسته وروسته په قندهار سره اوښتی دی.

د دوی له اطوارو څخه دا ښکاريږي چي په وخت کي د هجرت د اولني ځايو څخه و اوسني الکي ته دوی نصاری وه او وروسته يې د اسلام دين قبول کړی دی ولي تر ننني ورځي پوري ځيني عادتونه د خپلو نيکه ګانو په دوی کي مونده کيږي لکه شکل د صليب، پر مخ ډوډۍ تکول.

د ځينو قولو نه چي بيان مو کړه که څه هم له صحته څخه پر مخ خلاص نه دي بيا هم قندهار له قندسار څخه محرف بلل دلالت پر دې کوي چي د دوی معلومات په تاريخ کي لږ وه، ولي قندهار له خورا پخوانيو ښارو څخه دی چي ذکر يې په مهابران چي د هندوانو د متيولوجۍ کتاب دی سوی دی، ځيني دا وايي چي دا طايفه له پخوا څخه په دې سبب چي د نورو طائفو څخه بيل وګڼل سي په دغه غرو کي اوسېده حتی چي د سکندر رومي سره يې جنګونه کړي دي، بلکه د ګشتاسپ په وخت کي موجوده د سجستان په ولايت پوري تړلي او د مشهور رستم تر فرمان لاندي اوسېده، هر کال يې د خراج په نامه لس د غويو پوستونه ده ته ورکوله، وروسته پر ده ور پورته سوه او له خراجه يې نټه وکړه. تر څو چي د هغه د خوا دوهم وار مغلوب کړه سوه.

الحق چي دا امت اصلاً ايراني[18] او د دوی ژبه له زند و استا څخه اخيستې سوې ده چي فارسي پخوانۍ ژبه يې تر اوسه په خولو کي ده، وروستني مورخين لکه فرنسيس لنورمان او نور هم د دغه نظريې ټينګار کوي[19].

---

[18] له "ايراني" څخه به مراد غالباً ارياني وي (مرتب).

[19] په کوټه چاپ 24 مخ کي تر "ټينګار کوي" وروسته ليکل سوي دي: "مولانا د نورمان په رايه د اعتماد کولو وروسته دا خبره کړېده چي ژند او اوستا څخه چي په پښتو ژبه کي کوم مشابهت ليدل کيږي هغه د افغانانو د ايراني کېدو دليل نه سي ثابتېدای، هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دریيم فصل

پیل د سلطنت او ولاړه د یوه زعیم و پاچهي ته

دا امت فطرتاً زړه ور، جنګي او توريالی دی، پردی سلطې ته هيڅ کله سر نه کښته کوي، د محمود غزنوي او چنګېز تاتاري او تېمور ګورګاني په وخت کي سره له دي چي بشپړه غلبه يې پر موندلې وه، بيا هم تبعيت د دوی د هغو دپاره هيڅ کله د خطره خالي نه و، همدغه رنګه هغه وخت چي د دوی ملک د هند او فارس په مېانځ کي ووېشل سو تل يې ملا و ضرر ته د مستولي حاکمانو تړلې او ورته غلي وه چي د فتنو اورونه بل کي، کله کله غلجو د محمود غزنوي پر چونې لاس اچاوه په تاړاک يې وړه او يو وخت يې هم د غزني پر ښهر غلبه مېندلې ده يو طائفي له دوی نه په دهلي کي هم پاچهي کړې ده.

لوی شاه عباس چي پر قندهار بری وموند ه غلجي او عبدل (ابداليانو) يې اطاعت ومانه وروسته چي يې د هغه د حاکم څخه ظلم وليده د ابدالي تولی څخه يې سدو و شاه ته ولېږه چي شکايت ورته وکي.

سدو چي ور ورسېده او ورو ړی شکايت يې عرض کړ، پاچا د ده و فصاحت ته حيران لاړ، د ده د خوښي دپاره يې هغه حاکم بيرته کی او دی يې پر ځای وټاکه، سدو د خپل حکومت په وخت کي په عدالت او ښه سلوک سره ژوند کاوه، د ټولو پښتنو زړونه يې ساتلي وه تر داسي حده پوري چي پاتېده د حکومت د ده په اولاده کي له ضروریاتو شمېرل کېده.

ايرانيانو تر لاس لاندي کېدو له کبله پيدا سوېده، ربښتيا همدا دئ چي افغانان د حضرت يعقوب (ع) له اولادې څخه دي، د کتاب په آخر کي به لنډه ربنا و اچوله سي".

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا بنه عقيده ددوی و داسي حد ته ورسېده، چي که له اولادي څخه د سدو د کام يو وکړی وژلی وای په قصاص يې نه رساوه او که د کام يو وګړي پر يوه له اولادي څخه د هغه توره کښلې وای په قتل محکوم کېده.

د سدوزو کام د سدو له نسله دی، احمد شاه بابا چي بيان يې وروسته راځي له همدغه کامه دی، د شاه حسين په عصر کي چي د ايراني صفوي پاچهانو وروستنی پاچا او په 1106 کي پر تخت کښېنستلی دی د غلجو کام چي په کندهار او خوا و شا کي استېده په بغاوت وخوزېده، د شاه حسين د دولت رجالو هر څومري چي زيار وېوست بېله دې چي لمبه د فتني ښه غوړېده بله نتيجه يې لاس ته نه ورغله، وروسته تر دې چي زښته ډيري حيلي يې وکړې، ګرګين خان ګرجی يې د قندهار په حکومت ولېږه، ګرګين پخوا له دې نه په ګرجستان کي حاکم و، څرنګه چي پر پاچا يې بغاوت کړی و پاچا نيولی و د ده د ګناه دپاره يې دا کفاره غوره کړه چي دی دې د عيسي د دينه راواړوي او د حضرت محمد (ص) په دين يې مشرف کړي.

ګرګين خان په ښه تدبير او دورانديشي او درونددتيا سره شهرت لري پاچا دی د کندهار په حکومت مقرر کړ. شاه داسي ګڼله چي د هند تېموري پاچهان و دې اور ته خاشې ور اچوي ځکه يې شل زره ايراني لښکر سره له يوې زړه ورې هوښياري توريالی ډلي د ګرګين خانه سره ولېږله چي د پردو د شرارت او مداخلې لاس ونيسي.

ګرګين خان چي شا او خوا ته د قندهار ورسېده فتنه لتهوونکي يې مخي ته ور وواته اطاعت يې وکی، ګرګين دپاره د دې چي دوی حتماً متواضع کي خورا بېرحمي او زښته خشونت يې ورسره وکړ، نامتو وګړي يې ذليل کړه، غښتلي يې بېواکه کړله، مشران او لويان يې په بند کي واچوله، وروسته يې ظلم تر داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځایه ورسېده چي د سهلو وووت، د کندهار خلقو یوه ډله د شکایت په توګه اصفهان ته ولېږله چي د ظلمو ویر هلته و شاه ته مخامخ څرګند کي، اصفهان ته چي ورسېده زښته زیار یې وکښه چي شاه ته ورسېږي او شکایت عرض کي، وروسته تر ډول ډول حیلو یې له حاجبانو چي د شرق په ملکو کي اساس د ظلم باله کېږي او همدغه سبب دی چي د امراء او مامورینو لاسونه یې د رعیتو پر حقوقو ور اوږده کړي او هم تر ننه ورځي پوري په دغه ډول پاته دي، ځانونه تېر کړل شاه ته ورسېده او د ویر دفتر یې ورته خپور کړ.

په دې وخت کي دوستان د ګرګین خان د شاه په مخ کي ولاړ وه، د دوی شکایت یې و شاه ته دورغ څرګند کی او و شاه ته یې داسي ښکاره کړه چي دوی غواړي لکه ګرګین خان غوندي یو پوه انظباط درلوونکي حاکم څخه ځان خلاص کي بیرته هغه پخواني حال ته هڅه لري.

هغه و چي له شاه څخه یې بې له قهر او خښم بل څه وانه وربده، نا امیده په مات زړه بیرته د وطن پر خوا را روان سوه حال یې خپلو اقوامو ته راووړ او څرګند یې کړه.

والي سړي پسي اچولي وه له حاله یې ځان خبر کئ په زړه کي ورته غلو، فرصت یې کوت، و هغو وګړو ته چي په شکوه کي داخل وه په تېره بیا میرویس چي په حسب او نسب کي د بشپړ شهرت مالک او سربېره پر هغه د یو زښته لوی کام مشرتیا یې درلوده او پر دې ټولو برسېره د ښو اخلاقو، د فصیحي ژبي او تېره فکر خاوند و په قام کي یې زښت عزت او احترام درلود، کلکه سزا ورکي.

څه زمانه وروسته والي د ظلم چپلاخه پر میرویس پورته کړه دی یې اصفهان ته ولېږه د هغه ځای واک درلوونکو ته یې ولیکل چي یوازینی د فساد وسیله او د فتني لټولو دغه سړی دی، څو دی بندي نه سي او د بیرته راتلو و کندهار ته منع نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي په ملک کي آرامي امکان نه لري.

ګرګین خان د میرویس په استولو کي و اصفهان ته سهوه سو ، ولي دی پوهېده چي د ارتشاه هڅي د شرق د امراء په زړو کي ځای نیولی دی و مقصد ته رسېده یا پاتېده په رشوت ورکولو یا نه ورکولو پوري اړه لري په استولو کي د میرویس و اصفهان ته ګواکي ګرګین خان په خپل لاس ده ته موقع ورکي چي رشوت وښندي او خپل مطلب تر سره کي. میرویس چي اصفهان ته ورسېده په لږ مده کي د حکومت له طرز، د شاه د ناتروړوکي[1]، عاقلي او د واکدارانو د نفاق خبرو نه ولـه راغله، ځکه یې د ګرګین د ډېرو غلیمانو سره دوستي وا چوله ثو چي یې فرصت د پادشاه و حضور ته ومینده واړه خبري یې چي له ځانه سره راوړي وې یوه یوه یې د شاه و غوږو ته ورسوله، د ده هوښیارو خبرو او خواږه بیان د شاه نظریه رارخي کښله[2]، او نور واکداران خو یې پخوا لا په رشوت د ځان کړي وه ځکه ثومره وخت تېر نه سو چي د شاه حکومت د واکدارانو په ډله کي رسماً مېشت سو ، وروسته تر دي چي بشپړه آګه سو چي د ایران دولت څرنګه ناتوروړوکی او چاري په څه ډول وراني دي نو یې د کندهار د تګ هوډ وکړ.

په کوټي کي یې هسک فکرونه درلوده چي د افغان هیواد به د ایران د ثپي خلاصوي.

په عین حال کي یې دا خیال وکاوه چي ورګډېده په دوني[3]، لوی کار په تلوار ښه نه دي نو یې په هوډه د حج د سفر، له شاه نه رخصت واخیست چي مکې ته ورسېده، دا یې مناسبه وګڼله چي د اهل سنت د ملایانو څخه فتوی واخلي چي جګړه د شیعه

---

[1] ناتروړوکی: قاموسونو نه دئ راوړی. ښايي د بې عقل او بې کفایت معنا ولري؟
[2] رارخي کښله: ځان ته راجلب کړه.
[3] دوني = دومره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه سره واجب ده، او په دې سره خپل کام د شاه پر شيعه دولت راوخوړه وي.

د حج مناسک يې ادا کړه او فتاوي يې لاسته راوړې، اصفهان ته رهي سو، مسئله يې د شاه نه پټه ساتله او په ښکاره يې شاه ته زښته اخلاص ځرګنداوه په دې وخت کي نابېره يو عجيبه پېښه سوه په تېره بيا د ده د مقصد د پر مختلو دپاره لو وسيله بلله کېده، هغه دا ده چي د يوه کام نامعلومه ارمنی سړی و چي په ځينو شرقي ژبو هم پوهېده او د روس د دولت دپاره يې په عثماني هيوادو کي ډېر خدمتونه کړي وه، د پطرس کبير امپراطور روسڅخه يې وغوښته چي دی د سفير په ډول د شاه و دربار ته ولېږي.
څرنګه چي ده ښه خدمتونه کړي وه امپراطور د ده هيله ومنله، د ايران دربار ته يې د سفير په توګه واستاوه سربېره پر دې د ښه خدمتو په بدله کي يې ټول هغه تجارتي مالونه چي په ده اړه درلوده د ګمرک د محصوله معاف کړه. نوموړي سفير يوه لو ډله د سوداګرو ارمنيانو يې پر ځان راغونډ کړه د ايران و لور ته روان سول و ايران ته چي نژدې سوه سفير ځان په دې سره مشهور کی چي دی يو له اولادې څخه د ارمن د پاچهانو دی. ميرويس د دې سفير ورود و ايران ته د خپل مقصد دپاره يوه ښه وسيله وبلله، په ټولو جرګو او ټوليو کي يې په برملا او پټه دا ويله چي نصرانيون غواړي ګرجستان او ارمنستان د شاه د لاسه وباسي او دا هم يقين دی چي ګرګين خان د کندهار حاکم په دې کار کي زښت لوی وساطت لري.

څرنګه چي ګرګين خان په دغو شپو کي مسلمان سوی و، دې وينا د خلقو په زړو کي ځای ونيوه د دولت د واکدارانو زړه ته ولوېده هوډه يې وکړه چي ګرګين خان سره کنبکارې، زمول يې کي، بيا هم د هغه له غښتلي اوړې او له ثبات څخه په قندهار کي په اند ېښنه کي وه له بغاوته يې بېرېده ځکه يې ميرويس بېرته خپل ملک ته ولېږه، که چيري ګرګين غاړه په عصيان لکه کي ميرويس به د پخوانۍ دښمنۍ له امله د ده په مقابله کي ولاړ سي، اوس نو ښه وګورئ د شرقيونو د رای و ضعف او اضطراب ته د فکر چي تر ننه پوري لا سته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرویس چي کندهار ته ورسېده د ګرګین د غیظ او غضب اور په لمبو سو د ده د وژلو د پاره يې لوبي پلټلې، میرویس ته يې مرکه ولېږله، د ده لور يې د خپل زوی د پاره هیله وکړه میرویس وپوهېده چي دا د خبنم سره میشته د ګرګین غوښتنه زما قدر کموي، د پښتنو یوه جرګه يې جوړه کړه حال يې ورته بیان کی، پښتنو چي دا واروېده زښته په قهر سوه دا يې غوره کړه چي میرویس دي په مقابله ولاړ سي، او له خپله شرفه څخه دي مدافعه وکي، میرویس چي حال دا سي ولید خورا خوشحاله سو بیا يې هم دوی په صبر او تاني سره امر کړه ویې ویل ښه دا ده چي زمری د بیدو په حالت کي مړ کو، که غواړئ چي مقصد لاس ته راولی ثبات او استقامت ضرور دی، پر ما بشپړ اعتماد او بړوسه ولرئ، ژر دی چي له غلیمه به کسات وکاږم، دې لوړنیو خبرو د دوی زړونه پوره کړه په ډوډۍ او مالګه، توره او قران يې قسم وکی چي ده ته به اوږه ورکوي، او له اطاعته به يې سر نه پېچي او دا يې وویل:-

هر هغه څوک چي له دې معاهدې وګرځي ښځه يې پر ده طلاقه ده.

میرویس یوه ښایسته خادمه درلوده چي په خپل کور کي يې لو کړې وه، په دې نامه چي د ده خپله لور ده و ګرګین خان ته يې د ده د زوی د پاره ازدواجاً ورولېږله او خورا خوشحالي يې وکړه، دا يې ښکاره کوله چي د ګرګین خان سره پر مخ دښمني نه لري، د میرویس دې حرکت عقده (په اصل کي حقد لیکلی دئ) او حسد د ګرګین د زړه بشپړه ویوست بلکه بړوسه يې بړیره؟ سوه څو ورځي وروسته میرویس د ښهر دباندي په یو باغ کي د مېلمستیا محفل جوړ کی ګرګین يې سره له خپلي ډلي راوباله د دې مېلمسیتا خورک او چښن د زهرو او ګنډیرو کتوري وه چي د ساقي محفل میرویس له خوا و مېلمنو ته ور وېشل کېده.

امراوْ او پاچهانو لره دا هیڅ معقوله نه ده چي یو څله پر سړي ظلم وکي حق يې وسوځي بیا بیرته پر دغه سړي بړوسه وکي په خپلو لویو چارو کي يې د څان ملګری کي، ولي کېن چي یو څله په زړه کي ځای ونیوه لړ دا سي پېښیږي چي بیرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زړه ووزي.

هغه و چي میرویس په خپله د ګرګین کالي واغوسته او نورو پښتنو د ګرګین د ملګرو لباسونه په غاړه کړه وروسته تر لمر لوېدو په ښهر ور ننواته پر قلعه ساتونکو یې حمله وروړه، دا نور پښتانه چي د ښهر په شاوخوا کي غلي وه سره له واړه ځايي استېدونکو د دوی سره ګډ سوه پر ورغله په دې شخړه کي هغه چي وتښتېده، وتښتېده پاته یې واړه د پښو واچوله قلعه یې ونیوله ږغ یې وکی:-

امان د هغو په برخه دی چي د ګرګین وګړو ته یې ځای ور نه کی، په دغو ورځو کي ګرګین شپږ سوه مېړه د ځينو کامونو د ترټلو د پاره د ولایت شا او خوا ته لېږلي وه په داسي حال کي چي ډېري اولجي یې له ځانه سره راوړي وې کندهار ته راورسېده په توپ او توپک جګړه ومښته زړه وران د پښتنو چي له اصل حاله خبر سوه ناڅاپي جګړې ته یې پیل وکی میرویس په خپله د پنځه زره مېړو سره د شخړي ډګر ته ورغی، د دوی پښه یې په جګړه کي ښه ونجتله دا شخړه درې ورځي اوږده سوه پښتنو داسي مړانه وکړه چي د ستاینې وړ ده، هغه و چي د غلیم لښکر مات سو، صرف دوني یې وکړای سوای چي ځانونه د زمرو د منګلو څخه وژغوري او د خراسان لار واخلي.

هلته چي ورسېده او خبر یې ورکی د ایرانیانو غړو ربړد واخیست، د کندهار غولی چي له غلیمه پاک سو، میرویس د کامو مشران راغونډ کړه د خطیب په څېر ولاړ سو د آزادۍ په ښېګڼو او اسارت د سختیو او ناوړه نتیجو په شاوخوا کي یې ویناوي وکړي استربل یې[4]، وویل:-

که تاسي زما سره ملګري سئ او کلکه اوږه راکئ په لږ وخت کي به د ذلت غاړوندي له غاړو وکاږو او د عزت جنډه به جګه کو، د شیعه ایران د سلطې څخه

---

[4] استربل یې = په پای کي یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

به په کورټه خلاص سو.

وروسته یې هغه فتواوي چې د شیعه وو د جګړې د پاره یې پخوا لا د مکې د ملایانو څخه اخیستي وې را منځته کړې او په لوړ ږغ یې وویل:-

هر هغه سړی چې ایران ښه بولي او د دوی تر سایه لاندې یې ژوند خوښ وي د استوګي هیله دې زموږ په هیواد کې و نه لري. ولې د ده ژوند بیا زموږ سره نه سي کېدای او نه زموږ دوستي او خپلوي د ده سره کېږي، د کامو مشران ورسره مله سوه د ټینګار د پاره یې قسمونه واخیسته.

وګوره !

دغسې دي د خرم او فضیلت خاوندان چې د خپل ملت د آزادۍ د پاره ځانونه په خطر کې اچوي او په بدله کې بې له خیر له ذکره بله هیله نه لري نه د اسې لکه دني[5]، او بې همته خلق چې د شهوت په سین کې غوټه وي خپل هیواد او ملت د خورا کښته قیمت په بدله کې پر پردو خرڅوي.

د پښتنو د اتحاد خبر چې شاه ته ورسېده پر ځای د دې چې یو وتلی لښکر یې د دوی د ترټنې د پاره ورلېږلی وای، محمد جامي خان یې ولېږه چې میرویس او د هغه ملګري تهدید کې، نوموړی سفیر چې کندهار ته ورسېده، د ایران د لویې او غښتلتیا په باب کې یې اوږدې اوږدې ویناوې وکړې، میرویس یې وبېراوه چې ستا دا اقدام به یوه ناوړه نتیجه و ښندي.

میرویس په ځواب کې وویل:-

---

[5] دني: بې همته، ټیټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو داسي ګڼلي ده چي عقل او هوښياري يوازي د عياشانو او بدايانو په کوټيو کي[6]. سته د افغانستان د غرڅنيانو په کوټيو کي نسته ده که د شاه دا د لاسه کېداى چي پر موږ برى ومومي ستا رالېږلو ته اړي او و دي ناتوروکو کاواکه[7]، وېناوو ته څه حاجت و، دغه يې وويله سفير يې بندي کی، سره له دې بيا هم شاه له خپله درانه خوبه ويښ نه سو، د لومړي سفير د بنده چي خبر سو دوهم سفير يې ورولېږه، دا سفير محمد خان نومېده د هرات حاکم و.

محمد خان د ميرويس پخوانى دوست و د حج پر لار يې هم د ده سره ملګري کړې وه، دوهم سفير چي کندهار ته ورسېده ميرويس دى مخاطب کی ورته ويې ويل:-

که د پخواني صحبت او محبت پاس په ميانځ کي نه واى خوراکلکه سزا به مي درکړې واى، بايد وپوهېږې چي پښتانه مړونه چي يو ځله د مريتوب له اوره خلاص سوه بيا ځان په هغه اور نه سوځوي، د زمري له غاړي چي غاړوندى ووت بيا په دام کي نه کښېوزي او کښلي توره تيکي ته نه ځي، ژر دى چي ستاسي هيواد به مغلوب او دولت به مو سکوت سي، وروسته يې امر وکی چي بند ته يې واچوئ.

د ايران د دولت واکداران وپوهېده چي سفيران لېږل څه ګټه نه لري بله چاره بې جګړې نسته، د خراسان حاکمانو ته يې خبر ورکی چي لښکر پر وروباسي، او پر پښتنو باندي هجوم ورووړي.

څو پرله پسي ماتي د خراسان لښکرو ته ورکړه سوې، وروسته وپوهېده چي د پښتنو د ريښو کښلو دپاره يوازي د خراسان لښکر کافي نه دى نو يې يو لوى لښکر سره غونډ کی د خسروخان تر لاس لاندي يې ولېږه، خسرو خان د ګرګين

---

[6] په کوټيو کي = په سرونو کي.
[7] کاواکه = کمزورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وراره او په زړه وري او غښتلوالي کي تر خپل اکا پاته نه و.

قيادت د عسکرو چي ده ته وسپارل سو، مطلب دا و چي د خپل اکا د کسات اخيستو د پاره به دی ښه جګړه وکي بری به راوړي. حماطله او اهمال[8]، بېله دې چي سړی په جګړه کي اچوي او خلاصېده له هغه نه بيا زښته ګران وي بلکه ګټه نه لري.

هغه و چي خسرو خان د ميرويس سره د جګړې په ډګر کډ او د شخړي اور بل سو، په دې شخړه کي ميرويس ماتې وکړه خسرو خان د کندهار ښهر قلعه بند کی د قلعه ساتونکو د خسرو خان څخه دا غوښتنه وکړه په دې شرط چي موږ ته امان راکې ښهر به در وسپارو، خسرو خان دا شرط ونه مانه.

څرنګه چي پښتنو چاره په ځان حصر وليده لاس يې د جګړې سامان ته وا چاوه هره ورځ يې پر محاصرينو پرله پسې حملې ور وړې له بلې خوا ميرويس تيت عسکر راغونډ ول او د دباندې له لوري يې پر غليم ځپې ور وړې، تر هغه چي د خسرو خان خوراکه تمامه سوه، ناچاره سو محاصره يې پرې ښووه پر ميرويس يې مخ ور ونيوه په نتيجه کي خسرو خان مقتول سو او د تولـه ايراني لښکره څخه چي په شمېر پنځه لس زره مېړه[9]، وه زياتي تر پنځه سوه مېړه روغ ونه واته، دا دی د کبر او غرور عاقبت.

د ايران شاه بيا نوی لښکر سره غونډ کی د محمد رستم خان تر جنډې لاندې يې ور ولېږی، دا ځل يې بيا بشپړه ماتې په نصيب سوه او په مخ کي يې ځوک نه سوه پاته. وروسته ميرويس وفات سو، دوه زامن ځني پاته سوه چي د لوی زوی عمر يې تر اتلس کاله زيات نه و ځکه پښتنو د استخلاف حق د ده و وورور مير عبدالله ته ورکی حکومت يې ور وسپاره.

---

[8] اهمال: ځنډ، بې غوري؟

[9] په کوټه چاپ کي دا رقم "25 زره مېړونه" ليکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میر عبدالله د ایرانیانو سره د روغې هڅه درلوده، پښتانه په دې باب کې نه وه ورسره مله، بلکه ننګه به یې کوله، او ویل به یې:-

"که دوني غښتلی نه یې چې د خپل ورور د جګړه کولو توریالی ځای دې ونیسې دوني[10] و که د روغې په خنډ کې زیار و کاږه.

میر عبدالله د دوی وینا وانه روېده د خپلو څو مصاحبینو سره یې مرکه وکړه دا غوره کړه سوه چې یو څو مېره د خپلو معتمدینو څخه د ایران دربار ته ولېږي او سم له دې درو وروستني شرطو سره روغه لاسلیک کي:-

1. شاه چې له کندهاره خراج اخلي بیا به یې نه اخلي.
2. د ایران لښکر به په کندهار کې نه اوسي.
3. د امارت وراثت به د میر عبدالله په کورنۍ کې محصور وي.

د پښتنو مشران او لویان چې له دې نه اګه سوه ډېر په قهر سوه، له ده نه خواپوته سوه، د میرویس لوی زوی محمود چې د نجابت او مېړاني نخښې یې په تندي کې ښکارېدې، د تبرې په سبب چې اکا یې پر حق د ده کړی و خپل اکا لره یې په زړه کې کینه درلوده، په دغه وخت کې یې څلو ښت مېړه له ځانه سره مله کړه، د اکا په کور ورننووت په داسې حال کې چې هغه خبر نه و مړ یې کی، دا نور پښتانه چې له دې نه خبر سوه دی یې د ځان مشر او حاکم ومانه او د کندهار شاه لقب یې ورکی، همدغه وخت کې ابدالي آزاد خان را ولاړ سو د هرات ښهر یې ونیوه د استقلال جنډه یې هسکه کړه چې د خراسان پر علاقه چې د ایران حکومت اخیستې وه حمله وروړې.

---

[10] دوني = دومره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ايران حکومت د پرش زره لښکر د صفي قليخان تر قيادت لاندې د دوى د ترټنې دپاره ور وخوزاوه، دوى هم په مقابله ورغله، له سهار څخه تر ماپښينه پورې د شخړې اور بل و، مګر غالب او مغلوب معلوم نه سو.

داسې سهمناکه او درنه جګړه وه چې د ايران توپچيان په شک کې ولوېده، وروسته يې د خپل او پردي بېلېده نه سواى کولاى د توپو خولې يې مخ پر خپل سپاره لښکر راوګرزولې د ايران لښکر دا د جګړې د لوبو يوه لوبه وګڼله ځکه چې دوى پوهېده چې پښتانه توپونه نه لري هغه و چې د ايران لښکر په خپله سره تيت او پرک سو.

پښتنو دا موقع غنيمت وبلله حمله يې پر ور وړه د ايران لښکر يې پر مخ مات کې صفي قليخان يې سره له زويه او نور اتيا زره[11] ايراني لښکره ټول تر تيغ وکښه واړه د جنګ وسلې سره له شل توپه د توريالیانو پښتنو لاس ته ورغله، د دې واقعې له لامله آزاد خان بشپړه لاس د هرات پر ولايت وموند، لکه په کندهار کې چې د غلجو د حکومت جنډې ورپېده په هرات کې د ابدالو د حکومت جنډه جګه سوه.

په دې ميانځ کې سني کُرديانو د تاړاک دپاره پر ايران ځپه ور وړه، په دننه هيواد ور ننواته تر داسې حده چې د اصفهان د بوالو ته ورغله له بلې خوا مسقطی عرب سره وپونجېده د فارس د خليج جزيرې يې ونيولې او پر ځنډو يې تسلط وموندہ.

د کندهار شاه محمود چې د ايران د دولت له چارو او د ايران د امراوْ د ناترورو کو عاقلو او اختلاف د فکر، لکه چې تر ننه پورې چې د شرق په واکدارانو کې ستنه دي، آګه سو د هغه د پاچهۍ هيله يې وکړه خپل لښکر يې د جګړې دپاره د کرمان

---

[11] په کوټه چاپ کې دا رقم: "اته زره" ليکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له لاري سره له هغه چې اوبه او شنګيا[12] يې نه درلوده ور وخوزاوه.

کرمان ته چې ورسګيده څرنګه چې د هغو په غفلت کې يې حمله ور وړې وه هغو د جګړې توان په ځان کې ونه ليده، ښهر يې بې له جګړې ور وسپاره. لښکرو لکه چې د شرقي بلکه غربي بري موندونکو عادت دی د اهاليو په چور يې لاس پورې کې.

وروسته د ايران شاه د بندر عباس والي لطف عليخان ته امر ورکی چې د پښتنو سره په جګړه ولاړ سي او دوی له هيواده و باسي، والي د جګړې ډګر ته ولاړ هغه و چې په لومړۍ جګړه کې پښتنو ماتې وکړه بې له هيڅ ځنډه چې پر لاري يې وکي کندهار ته ورسېده.

په دې وخت کې د کرمان د اوسېدونکو حال لکه د هغه چا داسي و چې له توښ څخه اور ته پناه وړي، وروسته د ايران لښکر داسي حال پر دوی وروو ست چې دوی شکمن سوه چې آيا د پښتنو د بري سختي درنې وې او که مرسته د دوی د خپلو حکومته سره د سهلو وتلې وه.

لطف عليخان وپوهېده چې مير محمود دوهم ځل حمله راوړې، ځکه يې د لښکر په غونډ بدو پيل وکی، ذخيرې او د جګړې وسلې يې په شيراز کې کوترم[13] کړې، د وخت اقتضا دغه شي وه يا د جګړې د تياري انتظام ښه نه و، خبره دا ده چې پر اهاليو زښته ظلم وکړه سو، مالونه يې ترې واخيستل، حيوانات يې د خپلو چارو دپاره ترې نه ضبط کړل. د لطف عليخان غليمانو دا حال د ځان دپاره يو ښه وسيله وګڼله شکايت يې و شاه ته وکی، شاه دی د لښکر له مشرتابه څخه بيرته کی، هغه و چې تولو سره تيت او پرک سوه هرې خوا ته چې يې زړه غوښته ولاړه.

---

[12] شنګيا: شنه ګياه، واښه.
[13] کوترم: راغونډول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ و حال ته د دونانو[14] رذيلانو او خاينانو د وطن او ملت چي څرنګه د خپلو کوچنيو غرضو او دښمنيو او دپاره د خوښېدو د يوه سړي د لښکر چي د وطن او ملت د ساتني سبب دی د تفرقې موجب وګرزېده، هغه پر دې تفرقه مرتب سوه وروسته به يې بيان وکړ سي په دې وخت کي ابداليانو د خراسان ډېر ښارونه ونيوله او نزدې و چي د مشهد ښهر يعني پخوانی طوس دي هم ونيسي. د دې فتنو په منځ کي يوه زښته درنه زلزله د تبريز په ښهر کي وسوه، چي اتيا زره نفره يې تر خاورو لاندي کړه، او داسي تياره سوه چي د لمر روښنايي نه معلومېده، د لمر سترګه لکه سور مس داسي ليده کېده. عامو خلقو دا د خدای قهر او غضب وباله، او پيل يې د آسماني بلاوو د نزول وګانه، ډول ډول لوبي يې وکړې چي راز راز فسق او فجور او نور منهيات ورک کړي، ملايان او مشايخ په کوخو کي ګرزېده وګړي يې په استغفار امر کوله، منجمينو قطعي حکم وکی چي دا پېښه د اصفهان د ويرانېدو نخښه ده، هغه و چي عقلونه په وحشت کي ولوېده، پر افکارو تياره وغوړېده، زړونه بې سبکه سوه ، همتونه کوړنګ[15] سوه، تر داسي حده چي دا لوی ملت ټوله و مرګ ته منتظر ناست وه، د ژوند او خلاصېدو يې هيله کښلې وه.

اوس نو ښه فکر وکئ د ناوړه مزخرفو عقيدو او هغه نتيجې چي ترې زېږي لکه د نفس ضعف، بې همتي، له کاره او چارو د لاس اخيستلو ضرر وګورئ.

په 1135 هجري کال کي مير محمود دوهم ځل د کچستان له لاري تر کرمانه پوري د پنځه ويشت زره لښکر سره مخ راوګرځاوه بې له هيڅ زحمته يې کرمان ونياوه، اما د قلا نيول چي حکومت پکښي ناست و ، ونه سوه، په بدله کښي د دوه نيمو زرو تومنو يې د قلا ساتونکو ته ور پرېښووه، هر تومن له نيم انګليسي پونډ سره برابر دی، د خلقو په فکر او عقيده کي دې ځای نيولی و چي محمود د ايران دپاره د

(14) دونان: کم همتان، ټيټ خلق.

(15) کوړنګ: کمزوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای (ج) غضب دی، او لکه علماوْ او منجمینو چي ویلي وه دی یې د اصفهان د ړنګېدو موجب بللی و، محمود د یزد د نیوو دپاره ملونه راوګرزوله مګر کامیابه نه سو، هغه خوا یې ایله کړه پر اصفهان یې مخ ورونیوه.

اصفهان ته چي نژدې سو شاه دوه ایلچیان ور ولېږله هیله یې وکړه چي که دوی د چور او چپاو نه لاس ونیسي په بدله کي به یې پنځه لس زره تومنه ورکي.

له دې پېښي نه محمود وپوهېده چي ایرانیان بې سبکه دي او په زړو یې ببره ننوتلې ده ځکه یې په سفیرانو کي خیال ونه کی د کلتاد پر لور چي له اصفهانه دوه پرسخه لیري کلی دی روان سو او عسکر یې هورې واچول، څرنګه چي وپوهېده چي جګړه د ده او د شاه په منځ کي هم په دغه ځای کي پېښېږي د لښکر پر خوا او شا یې خندق پرې کی، په دې وخت کي ډېر مجوسیان چي د زرتشت په دین وه په دې هیله چي بری د محمود و خواته دی او دی به دوی د شیعه ګانو له ظلمه خلاص کي د محمود په لښکر ګډ سوه، د شاه په مغزو زښته ببره ننوتلې وه ځکه یې ټول وزیران د مشورې دپاره راغونډ کړه په دې باب کي یې پوښتنه ترې نه وکړه، محمد قلیخان وزیر وویل که څه هم پښتانه زړه ور دي او د جګړې پر ډګر د کلکي پښي خاوندان دي بیا هم د قلاوو د فتح طاقت او قوت نه لري، نظریه دا ده چي موږ خپل عساکر د اصفهان په قلاوو ننباسو او مدافعه کوو په دې توګه به غلیم پښېمانه سي د قلا د فتح نه به مخ واړوي لکه په کرمان او یزد کي چي پېښه سوه بیرته به خپل وطن ته ولاړ سي، شاه دا وینا خوښه کړه.

د عربستان والي خان اهواز ولاړ سو په ډېر حمیت یې وویل دا خورا بې زړه توب او زښت بې سبکي ده څرنګه دې ته تن ورکو چي محمود د یو څو لږو مېړو پښتنو سره د ایران د شاهي دولت پایتخت محاصره کی زما فکر دا دی چي د دښمن پر مخ ور ووزو په داسي وخت کي چي دوی خملبدلي وي پر ورسو او ورسره په جګړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بو خت سو.

دې نظرېې د شاه د غيرت رګ پر ښور راووست پنځوس زره لښکر يې سره د شلو توپو د محمود په مقابله ولېږله، دواړه خواوې د کلتاد د کلي سره مخامخ سوه ښی او کيڼ او منځ د لښکر يې سره ترتيب کی، محمود پخپله پر فيل سپور سو، د لښکر پر خوا او شا ګرځېده، ياد د هغه مجد او شرف چې دوی په پخوانيو جګړو کې حاصل کړی و، ورته کاوه او ويل يې:-

که برې ومومئ د اصفهان ښهر ستاسو د زيار بدله ده، او که ماتې وکی وپوهېږئ چې له مرګه تښته نسته، ستاسې او د وطن تر منځ زښته اوږده لار ده، نو د اجل زهر په ډېر فضيحت او ذلت چيښی، د محمود د عسکرو له ځايه تر کندهاره پوري پنځوس مزله لار وه د مخابرې وسيلې هم ټوله شلېدلې وې، د پښتنو څخه توپ نه و، سل زنبورکه يې درلوده، زنبورک لکه توپ داسي آله ده، پر اوښ يې بار کې د اوښ د شا نه ډزې کوي، پښتنو د زنبورک اوښان د لښکر تر شا چوک کړه ايرانيانو په جګړه پيل وکی، د دوی کيڼ د پښتنو پر کيڼ څپه ورووړه، پښتنو ماتې وکړه تر شاه سوه څه غنيمت هم د ايرانيانو لاس ته ورغی.

وروسته د ايرانيانو ښی پر پښتنو حمله وکړه پښتنو دلته د جګړې د لوبو نه کار واخيست تر شا سوه د ايران سپرو د پښتانه لښکر غارت کی، د ايران لښکرو چې د پښتنو پر عسکر ګاه حمله ورووړه، پښتانه پر دوې ډلې وويشل سوه د ايران د لښکرو پر مخ يې زنبورکونه ور خوشي کړه داسي يې سره ورژوله لکه د مني پاڼې.

په دې وخت کې امان الله خان پښتون د ايران د لښکر پر استربل حمله ورووړه توپچيان يې ور مړه کړه، سمدلاسه يې د فير امر د ايران پر عساکرو ورکی، څومره وخت نه و تېر سوی چې د ايران لښکر ماتې وکړه، واړه خپل حربي لوازم او د جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسلې يې پښتنو ته په غنيمت پرې ښوولې، د ماتي خبر چې اصفهان ته ورسېده زړونه يې په لړزه سوه او شاه هولکي[16] سو، وزيران يې د مشورې د پاره راغونډ کړه ويې ويل:- زما فکر دا دی چې موږ له اصفهانه ووزو خزانې راسره بار کو، بل چيرته بيا لښکر سره غونډ کو د شا د خوا پر پښتنو ځپه ورو ړو، ريښې يې وکاږو.

محمد قليخان دا نظريه خوښه کړه مګر د عربستان والي په هغه سبب چې موږ يې وروسته وايو موافقت ونه کی او ويې ويل:-

د شاه سره دا وړ نه ده چې په يوه ماتي سره د هيواد پايتخت پرېږدي، ځکه دا د بې سپکۍ نخښه ده، او سربېره پر هغه اهالي د شاه څخه متنفر کوي، هغه و چې د مدافعې لوازم يې سره غونډ کړه، و محاصرې ته تيار کښېناسته، په دې حال کې محمود په خپلو چارو کې متردد و، ځو چې د عربستان د والي د تبعه وه خوا د مخصوصو جاسوسانو په ذريعه ده ته خبر راورسېده چې د ايرانيانو په زړو کې زښته درنه بېره لوېدلې ده.

له دې خبر نه د محمود زړه پوره سو لښکر يې د فرح آباد و لور ته ور وخوځاوه خرنګه چې هورې عسکر نه وه بې له کومې جګړې يې هغه ځای ونيوه وروسته تر استيلا يې پر جلفا چې په اصفهان کې د ارمنيانو د استوګې ځای و حمله وروړه، هغه يې هم ونياوه استېدونکو ته يې په دې ښخړه کې لوی تاوانونه ورسېده.

وروسته يې د اصفهان د ښهر پر يوه برج حمله وروړه، د توپو او ټوپکو د زور نه بېرته پر شا سوه، سمدلاسه يې فکر وکړ چې دا پر شا کېده زموږ بېره د ايرانيانو د زړه باسي، زښته زيار يې وکښه چې هغه يې فتح کی. دوهمه ورځ يې د توريااليانو

---

(16) هولکي: وارخطا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو په مرسته پر ځينو استحکاماتو حمله وروړه، داسي زړه ورتيا او رشادت يې وکاوه چي که احمد آغا چي يو د حرم له آغايانو څخه و، نه وای ښهر يې نيولی و. احمد آغا زړه وري وکړه پښه يې کلکه ونجتله پښتانه يې پر شا کېدو ته ناچاره کړله. دې واقعې د محمود په زړه کې ببره واچوله روغې ته يې هڅه وکړه، په دې شرط چي د قندهار، کرمان او خراسان حکومت به د ده په اولاده کي ارثي وي او هم به شاه خپله لور ده ته سره د پنځوس زره تومنه ورکوي[17].

د عربستان والي چي د دې نه آګه سو محمود ته يې پټ ايلچي ولېږه او د روغې د غوښتلو په سبب يې پر ده ملامتي وويله، وصيت يې ورته وکی چي پښه ټينګه لګوه، ځان بري ته تيار که دا يې هم ور ورسوله چي:- زه په مذهب کي ستا سره اشتراک او وحدت لرم مه بېرېږه پښه ونجته.

محمود چي له دې نه اګه سو بيرته پر ښور راغی، نورو لوبو ته يې پيل وکی، هغه دا وه چي واړه د اصفهان پر شاوخوا کلي ړنګ کي د خپلو لښکرو دپاره ذخيرې ترې نه راوباسي، څه چي پاته سي اور ور واچوي دا نقشه يې هم واچلوله

د کليو استېدونکي و ښهر ته وتښتېده، د ښهر واک درلوونکو خورا په خوشحالي دوی قبول کړه. ولي په اصله مسئله دوی خبر نه وه دا فکر يې وکړ چي د دوی په راتګ به زموږ شمېر د مدافعې دپاره ډېر سي، مګر د کاختۍ د پېښېي فکر يې ونکړ، ولي د ښهر محاصره له يوې خوا نه پېښېدونکي وه.

پښتنو له بله لوره ځپه پر وړوړه، او پر يو کلک ځای يې بری وموند، د هغه

[17] د کوټي چاپ په 52 مخ کي تر دې وروسته دا جمله "دا شرط د ايران پاچا قبول نه کړای سوای" اضافه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

استحکام ساتونکي کوچیان[18] وه، په چښن د شرابو اخته او د سده وتلي وه، پښتانه په دې ځای کې پر یوه پله ور تېر سوه، ځیني ځایونه یې ونیوله، پښتنو وارووېده چي ایرانیانو ذخیرې د ځانه سره اخیستي دي، ښهر ته یې وړي، ځان یې پر پېښن کی تړوله یې ترې یووړې، پخوا تر هغه چي خپلي چوني ته ورسیږي له یوه کوچني کلي څخه یو کام پر راووت ذخیرې یې بیرته ترې نه واخیستې، د محمود اکا یې سره د وروره او د اکا له زویه بندیان او قتل کړه[19]، شاه امر وکی چي نه دي قتل کېږي، او محمود یې وغوښت مګر پخوا تر رسېدو د امر د قتل موضوع ختم سوې وه. محمود چي دا خبر وارووېده په بدله کي یې د ایران اسیران مړه کړه و محاصرې ته یې ځان ښه چمتو کی، د تګ راتګ او مخابرې لارې یې سره پرې کړې. په دې حال کي یوه له واکدارانو څخه د ایران له شاه نه غوښتنه وکړه چي دی دې د مدافعت په قیادت وټاکه سي، دی به پښتانه د ایران د شاوخوا څخه طګرد کی، مګر د عربستان والي خان اهواز پـه ډول د چمو شاه له قبوله څخه د دې غوښتو منع کی.

څرنګه چي د محاصرې مده اوږده سوه، نرخونه لوړ غورځېده، د کاختي نخښې ښکاره سوې، شاه بې له دې چي خپل زوی شاه طهماسپ ولیعهد د ایران و نورو ښارو ته ولېږي او اهالي دې د پایتخت د خلاصېدو او د پښتنو د جګړې د پاره راوبولي، بله چاره ونه موندله، دا بلنه د اهالیو له خوا ونه منله سوه. زحمت او تکلیف ورځ په ورځ پر خلقو ډېرېده څکه واړه د شاه حضور ته ولاړه کلکه هیله یې وکړه چي د پښتنو په جګړه کي ملګرتیا وکي، او ځان له لوږې او کاختي نه خلاص

---

[18] په کوټه چاپ کي: "ګورجستاني محافظان" لیکلي دي.

[19] دلته یوه جمله له ژباړونکي څخه پاته سوې ده. په کوئټه چاپ کي تر "قتل کړه" وروسته راغلي دي: "محمود له شاه ایران څخه غوښتنه کړې وه چي دا خلګ باید چي ونه وژل سي. که څه هم ... ".

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي، په تېره چي وا يې روېده[20] چي په نزدو ورځو کي دوی ته د خوراک ذخيره راځي، د ارګ پر شاوخوا راغونډ سوه، او چيغي يې وهلې چي شاه دي د جګړې ډګر ته ووزي، نه چي راتلونکې ذخيره د پښتنو په لاس کښېوزي، او د ښهر وګړي د کاختیـ واري (قربان) سي.

د دې غوښتني ځواب شاه و صبا ته واچاوه مګر اهاليو لاس د غوښتني نه واخيسته خورا کلک ودرېده تر څو چي شاه زښته تنګ سو، خادمانو ته يې امر وکی چي ډزي پر وکي، چي اهالي وبېربړي بيرته ولاړ سي، د شاه د دې چاري نه د اهاليو زړونه ډېر ملول سوه، که احمد آغا، چي د مخه يې نوم اخيست سوی دی، نه وای راوتلی او د وګړو زړونه يې بيرته لاس ته نه وای راوستلي نزدې وه چي د شاه پر مېنه دي ځپه ور وړي.له ارګه چي راوګرځېده يوې ډلي د زړه ورانو څخه د لښکرو ټولیـ سره وکړه، يو ناځاپه ځپه يې پر پښتنو ور وړه څو چي ځيني استحکامات يې هم ترينه ونيوه. مګر هغه ډله چي د خان اهواز تر امر لاندي وه قصداً يې پر شا کېدو ته پيل وکی، احمدآغا چي دا وليده او ور په ولګېده خپلو عسکرو ته يې امر وکی چي د خان اهواز پر ټولیـ ډزي وکي.

څرنګه چي جګړه په منځ کي د عسکرو پيدا سوه، يو د بله په غاړه کي سره ولوېده، پښتنو دا فرصت غنيمت وشمېره حمله يې وکړه دوی يې مات کړه، په دې وخت کي احمد آغا شاه ته ورغی ويې ويل چي لوی سبب د ماتي زموږ خان اهواز دی، ولي دی د محمود سره په مذهب کي يو دی، که دی زموږ په لښکر کي نه وای په لمړي ځل به مو پښتنو ته ماتي ورکړې وای.

له بلي خوا خان اهواز هم د قلا ساتونکي سره وپونځوله[21] چي شاه ته عريضه وکي

---

[20] وا يې روېده = وا يې وربده.
[21] وپونځوله: ولمسول، تحريک يې کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد آغا له رياسته ولاړ کي، احمد آغا چي دا وليده د زهرو ګوټ يې پر سر پورته کی ځان يې وواژه.

پښتنو چي دا وارويده زښت خوشحاله سوه او د اصفهان په اهاليو کي ډېر اضطراب پېښ سو شاه ناچاره سو محمود ته يې ايلچي ولېږه پر هغه پخواني شرطونو يې روغه ومنله، محمود ځواب ورکی، شاه اوس د هيڅ شي خاوند نه دی، چي ماته يې راکي، بلکه هر هغه څه چي د ده په لاس کي دي زما دي.

د دې شخړو په منځ کي ملک محمود د سجستان حاکم سره وځونېده، د لس زرو لښکرو سره مخ پر اصفهان ور وخوزېده، د اصفهان د اهاليو په ځان کي نوی روح و پونځېده، د هيلي واښ ته يې لاس واچاوه.

محمود چي له حقيقته خبر سو د سجستان حاکم ته يې خبر ورکی چي له خپلي دې هوډې څخه وګرزي، د خراسان او سجستان ولايتونه ستا دي، چي ته او ستا زُريه[22] مستقله حکمراني پکښي ولري، د حاکم سترګي دې رشوت ور وتړلې هغه خوا يې پرېښووه مخ يې د هغو ولاياتو پر لور چي محمود ورمنلي وه راوګرزاوه، د اصفهان د وګړو د هيلي واښ وشلېده، د خلاصېدو لاري د هري خوا پر وتړلي سوې، قاختي هم هر ګړی ډېرېده، تر داسي څکله[23]، چي په خوړلو يې د هغو حيوانانو پيل وکی چي غوښي يې حرامي دي، لکه مردار هډي[24]، پيشياني او سپي، او وروسته وروسته يې د مړو سړو غوښي هم خوړلې، وګړي له لوږې په لارو کي مړه کېده.

---

[22] زُريه: اولاده.

[23] تر داسي څکله: تر داسي اندازي.

[24] مردارهډی: مجازاً د (خره) په معنا راوړل کېږي. (مرتب)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زاينده رود واله د مړو په لاشو ډکه سوه، تر داسي حده چي د لاشو د ډېرښته او به پر بل حال واوښتې د هيچا د اوبو چښن ته زړه نه کېده.

خبره چي دې حال ته ورسېده پر 21مه نېټه د اکتوبر 1722 عيسوي سم له 1153 هجري وه چي سلطان حسين د آهنګر لباس(25) واغوست د ټولو واک درلوونکو سره د اصفهان په کوڅو کي ګرزېده، او له هغو مصيبتونو څخه چي د ده د پاچهۍ په وخت کي پر ملک او ملت اوربدلي وه په وټ وټ يې ژړله ويله يې:-

"دا ټوله د ناصحينو د خيانته او د مشرانو له بده ديانته راپېښي دي و بس" او وګړو ته يې دا برېښوولـه چي دی هوډه لري چي تاج او تخت دي و پښتنو ته ور پرېږدي.
وګړو چي دا ژړاند حالت د ده وليد خپل دردونه او مصيبتونه يې هېر سوه تر سترګو يې په شوراوو(26) اوښکي را ايله سوې، دا ټوله بدله د غفلت او خوب ده او ډوبوالی په شهواتو کي او رخي کښل(27) د هغه کسانو و خدمت ته د لوړو مصالحو چي په جنس او مرام کي ضديت لري په تېره بيا د جګړې په وخت کي.

په دا بله ورځ يې د سپارلو ليک وليکه د واړو لويانو او مشرانو په لاسليک يې ورساوه په درويشتمه ورځ د نوموړي مياشتي(28) سلطان حسين سره له ټولو مشرانو او لويانو او درې سوه سپرو سره ورغله چي د هغه په ماڼۍ ورننواته،)محمود(د خپل ځايه ونه ښورېده، دوی چي د سالون منځ ته ورغله وروسته شاه د پاچهۍ خول له خپله سره ويوست محمود يې مخاطب کړ و يې ويل:-

(25) په کوټه چاپ کي: "ماتمي پوشاک" راغلی دئ.
(26) په شوراوو: په ليو ليو، په شورهاري.
(27) رخي کښل: کشول، بيول (لس زره لغتونه).
(28) په کوټه چاپ کي: "11 محرم 1135 هـ، اکتوبر 1172" ليکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای زویه ! ښبتن زما ناسته د ایران پر تخت نوره نه ده مقدر کړې اوس ته ډېر مستحق باله کېږې.

محمود ځواب ورکی: ان الله يعطى الملک من يشاء و ينزعه ممن يشاء. شاهي خول يې واخیست په خپله بګړۍ کې یې وواهه، د ده سره يې د لاس روغبړ وکی، شاه په هغه ټولی کې خپله لور ده ته په نکاح کړه.

په دوهمه ورځ محمود د اصفهان ښهر ته ور ننووت د سلام رسم ادا کړه سو، لويان او واک درلوونکي د ده مخې ته ورغله او د ده پاچهي يې ومنله، محمود چې د اصفهان پر تخت او کرسۍ ټینګ سو ډېر زيار يې وکښه چې خلق د کاختۍ د توره تمه خلاص کي او د وګړو مات زړونه ور سکنده[29] کي په دې سره وګړو ده ته هڅه وکړه. ده هر منصب درلوونکی پر خپل پخواني منصب پرېښووه له هره یوه سره یې یو پښتون وټاکه چې د سلطنت چاري زده کړي او سم له لاسه د سلطنت د چارو انضباط سبب د اطمينان هم وي[30].

وروسته يې امان الله خان د شپږو زرو لښکرو سره د قزوين د ښهر د فتح د پاره ولېږه، ده په لار کي د قم او قاشان ښارونه هم ونيوله او بې له هيڅ راز ممانعته د قزوين په ښهر ننووت، د قزوين وګړي خورا کلک غښتلي او ډېری وه دا یې نه خوښوله چې هغه چاته چې د دوی څخه په مذهب کي بېل وي ضررخي کاږي.

---

[29] سکنده: تسکين، آرام.

[30] تر دې مطلب وروسته د کوټي په چاپ کي دا سي ليکل سوي دي: "کومو خلګو چي د ايران له پاچا سره خيانت کړی وه، او د جنګ په دوران کښبي يي له ده سره خيانت کړی وه، د خان اهواز پرته نور ټول يې مړه کړل، د خان اهواز ټول مال او اسباب يي ضبط کړ، ډېر ذليل او رسوا يي کړ، لاکن مړ يې نه کړه، ممکن دی چي له ده سره د جان بخښنې عهد کړ سوی و."

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته وروسته يې ځيني تېري د پښتنو شخه وليده، سره غونډه سوه او له هره لوره يې پر پښتنو حمله ورووړه، څرنګه چې هغه قلا ته چې حاکم پکښې استېده نژدې ورسېده، امان الله خان د فتنې د اور وژلو دپاره پر راووت او زخمي سو. هغه و چې اهاليو برى ومونده پښتنو وروسته چې يو زر مېړه يې واري کړه مخ يې و تښتې ته کښېښو 1136 کال.

پښتنو د تښتې لار وهله چې د محمود د اکا زوى اشرف د درو سوو پښتنو سره بېل د کندهار لار يې ونيوه د قزوين تر شخړو وروسته د خنسار او نورو ښارو وګړي ولاړ سوه د قزوين لوبه يې د پښتنو سره رانوې کړه، تولـه پښتانه د اصفهان په ښهر کي کوترم سوه.

محمود چې دا حال وليد خيال يې وکی چې د اصفهان وګړي يقيناً هغه چاري چې بل د دوی سره کړي دي، دوی به يې د ده سره وکي ځکه يې حيله غوښته چې ټولـه د حکومت ليري مستخدمين او پاته د قلا ساتونکي او هغه عسکر چې د شاه سره يو ځای وه قتل کي، واړه وګړي يې د ښاره وايستله تر داسي حده چې د ښهر شخه يوه کنډواله جوړه سوه.

محمود وليده چې د پاچهی شالوده داسي ښه نه ده، ځيني وګړي د کردي کامو چې سني وه او په رجزين[31] کي استېده راوبلله اکراد[32] چې راغونډ سوله او د کندهار مرسته راورسګېده يوه ډلـه د عسکرو يې د جلبايکـان خنسـار[33] او کاشان[34] و لور ته ولېږله او هغه ځايونه يې ونيول.

---

[31] په کوټه چاپ کي: "درجزين" دئ.

[32] اکراد = کردان (د کرد جمع).

[33] په کوټه چاپ کي (خوانسار) دئ.

[34] په کوټه چاپ کي: "(شاقان) دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجوسی نصرالله يې چې په کرمان کې د ده سره يو ځای سوی و، شېراز او نورو ځايونو ته چې د فارس د خليج پر غاړه پراته وه واستاوه نوموړي نصرالله هغه ځايونه پرله پسې ونيوله مګر شېراز چې د هغه په محاصره کې يې تېر واخيست مړ سو. د ده تر تېرو وروسته د عسکرو مشرتوب د زبردست خان پښتانه په لاس کې ولوېده.

د محاصرې په وخت کې د قلا دننه وګړي له ډېري لوږې مړه کېده، ښهر په زښته زيږه او بده ورځ خلاص کړه سو، دی ښهر ته ور ننووت هغه ګړی يې امر وکی چې د غلې محتکرين دي مړه کړه سي تر داسې ځايه چې ځينې ګداموته چې ور ورسګېده محتکرين يې په خپلو ګدامو کې ځوړند کړه تر هغه چې د لوږې مړه سوه.

د شېراز تر فتحې وروسته د محمود هوډ نوی سو او په پلو کې يې نوی قوت وپونځېده د ېرش زره لښکر يې سره غونډ کی او د کوه کيلويه پر لور چې درې درجې د اصفهان د جنوب و خواته پروت دی وخوزاوه هغه کامونه چې په لار کې پراته وه د دوی د لښکرو پر مخ را ولاړ سوه ښه يې وشکوله، زوبل يې کړه.

نابېره يې په لښکر کې د بدې هوا او کرغېړن والي د استوګنې د ځای د له امله د مړيني ناجوړې پېښه سوه، حتّی چې پر ده په خپله هم اثر وسو، ځکه نا اميده سو راوګرځېده په شپه کې په اصفهان ننووت، همدغه رنګه يې د ګز په ښهر کې ماتې وکړه د لښکرو لو ډله يې تلف سوه، څو چې واقعه موجب د نفرت د پښتنو د زړه وګرځېده دی يې ناچاره کی چې اشرف د کندهاره راوغواړي او د ده وليعهد يې کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د محمود پر دماغ د وسوسي لښکرو تاړاک وروی (وروړی) غوښته يې چي په ګوښه کي کښېني مرسته وغواړي. دا د شرقينو عادت دی چي هغه وخت چي د خپل غفلت له لامله بې سبکه سي مخ پر هلاکت ځي، له ظاهري اسبابو نه چي څښتن تعالی د بري او مقصد موندلو دپاره پيدا کړي دي، ځان ټول کي مخ د باطني اسرارو مرستي ته ورګرزوي. د غوښو خوړل پرېږدي ګوښه غوره کي، او دا د صنم پرستو[35] هنديانو عادت دی چي په دولسمه هجري صدۍ کي په مسلمانانو کي ځرګند سوی دی. چي د عالم غيبه يې و ظاهري دنيا ته مخ راوګرزاوه او له پتي دنيا نه لخي ته راورسګېده، وسواس او سوڅن يې په دماغ کي ډېر سو، تر داسي ځايه چي په اروېده د يوه خبر چي هيڅ حقيقت يې نه درلود د صفوي پاچهانو د اولادې څخه يې نهه دېرش مېړه مړه کړه، دا وسواس تل د ده سره و، چي لېونی يې کی. ملا حزين ويلي دي چي د ده لېونتوب و داسي حال ته ورسېده چي خپلي غوښي يې په غاښو شکولې.

د مير محمود د لېونتوب په وخت کي پښتنو واروېده چي شاه طهماسب د دوی د غارت دپاره په تياري بوخت دی، ناچاره سوه چي اشرف د محمود په ژوند کي د پاچهۍ پر تخت کښېنوي مګر اشرف ننه وکړه چي تر هغو څو محمود د ده د پلار مير عبدالله په قصاص نه دی واژه سوی، دی به پر تخت کښېنني. هغه و چي په 1138 هجري کال کي يې محمود وواژه او سر يې اشرف ته حاضر کړ اشرف وروسته پاچهي ومنله او د حکومت واښ يې په لاس کي ونيوه.

محمود اوه ويشت کلنی مړ دی، او د پاچهۍ موده يې دري کاله وه.

اشرف هغه چاري چي محمود د خپل ژوندانه په وروسته توک کي کړي وي

---

[35] صنم پرست: بت پرست.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغندلې او د عامو په حضور کې يې بد پر ويل، د اهاليو د خوښې او د دوی د زړه د ساتنې د پاره يې د پاچهۍ خول وا خيست د شاه حسين و مخ ته يې کښېښو او ډېرې جګړې[36] او زښته ټينګار يې وکړ چې هغه يې پر سر کې.

مګر شاه قبوله نه کړه په خپل لاس يې خول وا خيست د اشرف پر سر يې کښېښو ويې ويل:-

ما عزلت پر عزت غوره کړی دی خپله دوهمه لور يې ده ته په نکاح ورکړه. اشرف هوډ وکړ چې پر شاه طهماسب يو چم راوباسي، ليک يې ورته وليکه دا يې ښکاره کړه. دا هاړو دوړ[37] چې په ايران کې لوېدلی دی د پردو غليمانو لاس هيواد ته را اوړېد سو، راځئ چې سره يو سو روغه وکو د غليمانو د ريښو د کښو د پاره يو له بله مرسته وکو.

د اشرف د دربار ځيني واک درلوونکي خبر سوه پټ يې شاه طهماسب ته خبر ورکی او دی يې وبېراوه چې د اشرف پر وينا بړوسه ونه کې او ورسره ملګری نه سې.

اشرف چې له دې چارو خبر سو، د ايران پاته اوليا‌ء چې د مير محمود له توري نه بچ سوي وه له دې سببه چې د ده د دښمن سره مراسله او مکاتبه لرې تر توري تېر کړه.

د محمود تر مړيني لږ وروسته عثماني سلطان د روس د پطر کبير سره معاهده لاسليک کړه چې هغه د ايران (هغه برخي) چې د پښتنو په لاس کې نه دی سره ووېشي، او پښتانه له هغه ځايو نه چې نيولي يې دي وباسي، او که شاه طهماسب دا معاهده ومني و ده ته يې وسپاري.

---

[36] جګړې: زارۍ.

[37] هاړودوړ: اړودوړ، الهګوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه اشرف چي د حکومت واښ په لاس کي ونیاوه قسطنطنیې ته یې سفیر ولېږه د هغه ځای د علماوو سره یې خبري اتري وکړې چي سلطان لره نه ښایي د نصراني پاچا سره د سني مسلم سلطنت د ړنګېدو په کښنو کي معاهده وکي، که څه هم په دې چاره کي علماء ورسره مله سوه، مګر وزیرانو علماوو ته دلیل وړاندي کی ویې ویل: عثماني سلطان د مومنانو امیر او خلیفه د رسول د رب العلمین او د څښتن تعالی سیوری دی پر مځکه، هر څوک چي د ده امر ته غاړه کوږنګه[38] نه کي او خطبه د ده پر نامه ونه لولي او خراج ده ته ورنه کي د دین غلیم دی، د هغوی سره جګړه د نصاری تر جهاد افضله ده.
علماء له دې دلیله څخه چي له نفساني اغراضو څخه و، پټه خوله سوه، سفیر نا امیده سو بیرته را رهي سو احمد باشا ته چي پر مراغه او قزوین یې تسلط درلود حکم وکړه سو چي لښکر د اصفهان پر لور ور ولاړ کي، اشرف چي دا واورېده اور یې و کلو ته واچاوه لښکر یې سره غونډ کی مخ پر عثماني لښکرو وخوزېده، د اصفهان څخه پنځلس فرسخه لیري لومړی له دوو زرو مخ لښکرو سره د هغو ونښت، او جګړه یې له استربله د هغه شروع کړه ترکانو چي دا خبر واورېده په زړو یې روي ننوته ځکه احمد باشا حکم وکړ چي لښکر دې ودرېږي امر یې وکی چي پر خوا و شا دې خندق پرې کړه سي.

په دې وخت کي اشرف ځیني وګړي په پټه دپاره د دې چي د کردیانو زړونه لاس ته راوړي او د ده دوستی ته میل پیدا کي وخوزوله په عثماني لښکر کي یې دا ځرګنده کړه چي دا اوسنی جګړه پر ضد د حنفي مذهب ده، بلکه ډله علماء یې په ښکاره و احمد باشا ته ولېږله چي د ده خاطر امن و سلام ته مائل او د صلح او صلاح برکت او ښېګنې ده ته وړاندي کي احمد باشا دې وینا ته ته اعتبار ور نکی،

[38] کوږنګه: ټیټه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امر يې وکی چي لښکر وروپا څوئ. د احمدباشا لښکر شپېته زره مېره، اويا توپه وه، په مقابل کي اشرف شل زره مېره، څلوېښت زنبورکه درلوده.

چي دواړي خواوي سره مخامخ سوې، عثمانيانو خورا مدهشه ماتې وکړه، دوولس زره لښکر يې و مرګ ته وسپاره، تولهٔ د جګړې وسله يې و غليم ته پرې ښووه، پخپله احمدباشا و کرمان شاه ته وتښتېده له دې بيري چي اشرف په ده پسې دی هلته هم ونه ځنډېده بغداد ته ولاړ.

اشرف د عثمانيانو د زړه د لاس راوړو دپاره دا ښه موقع وليده احمدباشا ته يې ليک واستاوه پکښې ښکاره يې کړه چي د مسلمانانو په مالو کښي تصرف زه خوښ نلرم يو امين او خپل د بړوسې سړی راولېږه چي پرته د حربي وسلو نور واړه ستاسو شيان ور وسپارم.

همدغه وخت کي تولهٔ عثماني بنديان چي له ده څخه وه ايله يې کړه دې چاري دی په ښه سيرت او غوره سلوک په عثمانيانو کي څرګند کی، ناچاره سوه چي د ده سره روغه وکي او د ايران په پاچهي يې وپېژني، او اشرف د زړه عثماني سلطان د خدای سيوری په ارمينو کي ومنی.

دې حوادثو څه اشکالات پېښ کړل لومړی دا چي:-

د محمود ورور په کندهار کي د استقلال ډول ودرباوه، په غلجو کي يې نفاق او شقاق واچاوه پر شاه اشرف يې د مرستي رسېده وشلول.

دوهم ملک محمود سجستاني ځان پاچا څرګند کی د خراسان پر ډېرو ښارو يې لاس وموندہ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دريم نادر چي په هوډه او زړه وري مشهور و د شاه طهماسپه سره يې لاس يو کی او د استراباد په ښهر کي يې د ده د لښکر مشرتوب ونياوه.

د دې اشکالاتو په منځ کي شاه اشرف هوډه وکړه چي د يزد ښهر ونيسي او ويې هم نيوه، وروسته يې عثماني سلطنت ته سفير ولېږه چي د عثماني رجالو د خوا په ډېر عزت استقبال سو.

شاه اشرف دا واقعه د ځان دپاره د اقبال فاتحه وبلله، مګر خوشحالي يې ځومره اوږده نه سوه، ځرنګه چي خبر سو چي نادر د طهماسپ له خوا لښکر سره غونډ کړی او پاځولی يې دی چي مشهد او هرات د ابداليانو پښتنو د لاسه وباسي، هغه و چي نادر هغه ځايونه ونيوله او ځان يې هورې ټينګ کی.

شاه اشرف ډېر مضطرب سو زيار يې وکښه، ډېرش زره لښکر يې غونډ کی او د خراسان پر لور يې وخوزاوه دامغان ته نژدې د نادر د عسکرو سره مخامخ سوه، هلته يې امر وکی چي پښتانه او عسکر دي يو ځای سي، د ښهر په شمال کي مورچه خوار ته نژدې يې خندق پرې کی ټينګ او کلک ځايونه يې جوړ کړه.

نادر د ده لار پسي ونيوه په لار کي نور ايرانيان ورسره مله سوه د عسکرو شمېر ډېر سو ځو چي د اشرف و چوڼۍ ته ورسېده، سره له دې چي د اشرف استحکامات يې زښته کلک وليده بيا يې هم امر پر حمله ورکی، پښتنو په دې هاړ ودوړ کي زښته زړه وري او خورا کلک همت وکی، ځرنګه چي د غليم لښکر زښته ډېر و پر دوی يې برې وموندہ څلور زره توريالي او جنګالي پښتانه په قتل ورسېده، دوی ناچاره سوه اصفهان ته پر شا سوه، او په هغه ځای کي يې هم ډېره پاتې نامکنه وبلله، شپه يې هلته تېره کړه باروبونه يې سره وتړله دمخه تر لمر ختو پر شيراز وپاځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي چي اشرف دمخه د ښهر تر پرېښوو بدبخته سلطان حسين د عدم کندي لېږلی و، څو مياشتي وروسته نادر د طهماسپ په امر سره عسکر د شيراز پر لور وخوزاوه او د مات زړګي پښتنو سره چي پر شا او خوا د اصطخر غونډ سوي وه مخامخ سوه چي وروسته تر يوې جګړې وپاشل سوه او اشرف خان و شيراز ته پر شا سو.

څرنګه چي وپوهېده چي د خلاصېدو لار پر ترلې ده د دوو سوو سپرو سره د ښاره ووت د کندهار لاره يې ونيوه. پښتانه سره له خپلو غتانو چي شمېر يې شل زره ته رسېده سره وپاشل سوه.
د کندهار په لار کي يې ډېر زحمتونه وليده، آزوقه يې نه درلوده ايرانيانو او نورو کامو يرغلونه پر راوړه ډېر ځني مړه سوه څو مېړو ځان سلامت ويوست. شاه اشرف په داسي حال کي چي د کامو سره په جګړه اخته و بلوچستان ته ورسېده، د بلوچستان اهالي هم په جګړه ورسره ولاړ سوه تر داسي حده چي پرته بې دوو کسو د اشرف سره څوک نه سوه پاته وروسته عبدالله خان بلوخ[39] پر ده پيښ سو، دی يې وپېژانده سر يې ور پرې کی سره له يوې داني الماسه چي له ده څخه و د شاه طهماسپ حضور ته يې وړاندي کی. دا واقعه په 1142 کال کي پېښه سوې ده.

شاه اشرف په پښتنو کي په ښو خويو او غوره اخلاقو څرګند و، ايرانيان هم دی تر محمود ښه بولي، په ايران کي د پښتنو پاچهي اوه کاله اوږده سوه په دې زمانه کي ايرانيانو په جګړو کي دوه مليونه خپل نفوس د مرګ ومنګلو ته سپارلی دی. څه وخت چي نادر د ايران پر تخت پښه کښېښووه، او د صفويه وو د لاسه يې ويوست اتيا زره لښکر يې تيار او د کندهار پر لور يې ولاړ کی، چي کندهار ته ورسېده هغه يې خورا محکم وليده ولي چي کندهار د قيطول غره پر اړخ پروت دی او په

---

[39] په کوټه چاپ کي: "د عبدالله خان بلوخ له يوه زويه "ليکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکل د نیمي دائرې پر هغه راګرزېدلی دی، او له هغه خوا بیا چي غر نه دی پر را څرخېدلی کلک او محکم برجونه یې درلوده نادر ناچار سو چي د محاصرې د پاره بل ښهر و یوې خواته واچوي بشپړ یو کال یې ښهر په محاصره کي وا چاوه څرنګه چي د پښتنو سره ثوري زښته ډېر وه ویې نه سوای نیولای هغه و چي هجوم یې پر محاصره غوره کی وروسته تر څو حملو یې ځیني برجونه ونیوله، توپونه یې پر کښېښنوده، خولې یې پر ښهر وروګرزولې، داسي اور یې پر ښهر بل کی چي وګړو بې ځان سپارلو بله لاره ونه موندله.

دروازې یې وپرانیتلې د نادر لښکر ښهر ته ننووت د دوی د ورننووتو څخه لږ زیان هم د ښهر وګړو ته ونه رسېده څرنګه چي نادر دا پر ځان لازمه ګڼلې وه چي که دی پاچا سي رفض به دفع کي او د اصحابو د تراضي[40] مرسته به وکي.

هغه وخت ته ایرانیانو دی خپلې پاچهۍ ته رابللی و ده ننه کړې وه ویلي یې وه: زه تر هغه وخته پاچهي نه کوم څو تاسي رفض پرېږدئ او د صحابه وه څخه خوښي کوی دوی دا منلې وه وروسته ده پاچهي قبوله کړې وه. وروسته یې و عثماني دولت ته ولیکل چي ایرانیانو د صحابه وه د ښکنځلو څخه لاس اخیستی او له هغو څخه خوښي کوي مګر جعفري مذهب چي اهل سنت یې غوره مذهب بولي هیله لرم چي حکومت اجازه وکي لکه نور مذهبونه چي امام لري جعفریون[41] هم خپل امام ودروي.

شیخ الاسلام دا ونه منله او دولت یې هم په نه منلو ولتاوه. پښتانه د اشرف تر مړیني وروسته د نادر د وفات تر وخته د ایران تر پاچهي لاندي پاته سوه.

---

[40] ښایي مراد یې د اصحابو له نامه سره د (رضي الله تعالی عنه) ویل وي. تراضي په لغت کي "خوشاله کېدو، راضي کېدو" ته وایي.
[41] د جعفریه مذهب پیروان.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي نادر په 1161 کال وفات سو سدوزی ابدالي احمدخان چي د نادر په لښکرو کي میشت و د پښتنو او اربکو په اوږه سره یې یو زلیلانده[42] یرغل پر ایرانیانو وروی وروسته یې زښته په یوه ګړندۍ ورځ مخ پر کندهار ونیوه هغه یې ونیاوه څه خراج چي د کابل او سند د ښارو د کندهار د لاري د نادرشاه حضور ته وړه کېده لاس ته یې راووست خپل ځان یې ښه مړوچه کی د استقلال ادعا یې وکړه ځان ته یې د شاه لقب کښېښنو او خپل قام یې ابدالي درانی وباله.

وروسته یې د هرات، مشهد، سجستان او د خراسان پر نورو ښارو لښکر وپاخاوه هغه واړه ښارونه یې ونیوله که یې څه هم کولای سوای چي بشپړه د ایران هیواد تر خپله سلطه لاندي کي، مګر له دې سببه چي د پښتنو زړونه له پخوانیو اوضاعو نه مات وه او هم یې مذهب چي سبب یې نادرشاه و تغیر موندلی و د احمدشاه زړه په پوره نه و، پرې یې ښووه، وپوهېده چي نیول د هغو هیوادو ګټه نه لري، لومړی یې انتظام د دننه لازم وګاڼه او په رشتیا خلاصېده د خپل ملت یې له پردي تسلطه څخه حتمي وبلل. ځیني د خراسان ښارونه یې د نادرشاه زوی ته د پلار د حقوقو له امله ور پرېښووه او سربېره پر هغه یې ساتنه د هغو هم پر ځان کښېښووه.

چي په خپل هیواد کي یې پښه ښه ونجتله شپږ ځله یې د هندوستان پر لور لښکر وخوزاوه او هر وار یې بری وموند په تېره بیا د پاني پت په دښت کي چي د دهلي و ښهر ته ور څرمه دی.

دا شخړه د بت پرسته مرهټه و سره پېښه سوې ده د مرهټه زښته غټان د هند تیمګوري پاچهانو مات کړي وه اوس یې دا هوډ درلوده چي د مسلمانانو د لاسه پاچهي وباسي په دې شخړه کي د مرهټه وه لښکر اتیا زره مېړه او د احمدشاه د

[42] زلیلانده: ناڅاپه، چټک.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکرو شمېر و شپېته زره ته رسېګده چې نيم د هغو پښتانه وه او د احمدشاه زړه په پوړه و.

احمدشاه په دې جګړه کې مرهټه وه ته داسي کلکه ماتې ورکړه چې نه يوازي يې دوی هغه وخت د پښو واچوله بلکه دې پېښې د دوی د وروستنيو بريو لار هم وتړله.

دې بري د احمدشاه ښه نوم په هند کې څرګند کی او د ده فتوحات يې په نور هند کې هم تائيد کړه. څرنګه چې نور ځايونه يې هم لکه پنجاب، کشمير، سند او نور شاوخوا د هغه يې ونيوله. وروسته يې پر بلوچستان، بلخ او نورو نقاطو لاس ومونده په دې سبب نورو غټو امراوو هم غاړي ده ته کوږنګې[43] کړې هغه و چې دی د هوښيارۍ او ښه تدبير له لامله د خورا ارت هيواد خاوند سو. که څه يې هم د ملک وګړي بډايان وه ولي بيا هم د حکومت مالياتي حالت فقر باله کېده، د کابل او کندهار خراج د قامو غټانو ته ورکول کېده چې په بدله کې يې پرته بې اطاعته او لښکر ترې نه جوړول بله هيله ترې نه کېده.

دا لوی او نامتو پاچا لکه دمخه چې مو وويل د (سدوزو) له قامه و، پښتنو دوی ته خورا په درنه سترګه کتله او عقيده يې پر درلوده، سربېره پر دې احمد شاه يو زړه ور، هوښيار او د کلکي هوډې، علم و حکمته، ښو خويو، پاک نفس خاوند و پر ضعيفو يې د شفقت سترګه درلوده د رعيت اصلاح ته يې په ژوره کتنه کتله.

هم له دې لامله د ده ميني د واړو رعيتو په زړو کې له هر جنسه چې وه په تېره بيا د پښتنو په زړو کې ځای نيولی و، دی يې د ښتن تعالی (ج) له مقربينو او د پښتنو

---

[43] کوږنګي: ټيټي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار باله ځکه يې پر ده د بابا لقب ايښی و، چي تر ننه پوري په هغه نامه څرګند دی او احمدشاه بابا يې بولي.

د ملک او پاچهۍ ريښه يې خورا مروجه کړې وه مګر د مروجتوب سبب يوازي د ده د حکمت او تدبير نتيجه وه څرنګه چي وروسته تر ده د ده په څېر څوک نه و، تر وفات وروسته يې خود ملک خورا هولکي او کړغېړنه ورځ وموندله.

د ده وفات په 1185 کال کي پېښ سوی دی او ځينو ويلي دي چي په 1187 کال کي چي له عمر يې پنځوس تېر سوي وه پېښ سوی دی[44]. په دې وخت کي د ده زوی تيمور په هرات کي چي د پلار له وفاته يې وارويده علماء، مشران و غټان د لښکر يې را غونډ کړه خطاباً يې وويل:- "پلار زه په خپل ژوند کي د ځان وليعهد ټاکلی وم مګر وزير يې د ځکندن پر وخت دی واړاوه سليمان يې زما پر ځای په ده وليعهد وټاکه، لکه چي اوس د پاچهۍ ډول په کندهار کي د ده په نامه وهل کېږي ځان يې مروج کړی دی په تاسي کي څوک سته چي زما سره مرسته وکي څو له هغه مغتصبه څخه خپل حق واخلم".

حاضرينو دا ومنله او په لوړ آواز سره يې وويله: لو برخه زموږ له تا سره مله يو زموږ اختيار ستا په لاس دی ستا د غزم او مقصد چلولو د پاره موږ واړه حاضر يو.

وروسته يې د خواجه عبدالله انصاري په زيارت کي تولنه وکړه مشهور عالم شيخ يحيی[45] د پاچهۍ توره په غاړه ور وځړوله ټولو پښتنو غاړه ورته کښېښوده کړه تر څو

---

[44] لوی احمدشاه بابا د 1186 هـ ق کال د لومړۍ خور (ربيع الاول) په دوهمه د پنجشنبي په ورځ (3 جون 1772ع) د کندهار په توبه کي وفات سو، (مرتب).

[45] خليفه مير يحيی قتالي (1192 مړ) په هرات کي د چشتيه طريقي لوی مرشد او ستر عالم و، (مزارات هرات 152 مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې مرسته وکړه چي پر وورور يې برى ومونده. وورور يې ونيوه په قفس کي يې واچاوه بندي يې کى څو چي د تېمور د پاچهۍ تر پايه په بند کي پاته او په 1233 کال هوري مړ سو.

بيا يې نو هوډه وکړه چي د پلار وزير قتل کي چي د ده په خلع کي يې زيار کښلى و، وروسته يې مخ پر هند او کشمير لښکر وروړ کى چي د هغو هيوادو اهالي چي د پښتنو د اطاعت د واښه يې سر ايستلى و بيرته تر لاس لاندي کي خپل دوهم زوى محمود ته يې ډېر کلونه د هرات تصرف ورکړى و، پايتخت يې له کندهاره کابل ته نقل کى تصرف يې خپل دريېم زوى زمان ته وسپاره دا زوى يې د خورا ښو خويو درلوونکى و.

په دې وخت کي داسي پيښه سوه چي شاه مرادبيګ د بخارا امير د مرو ښهر ونيوه لوټ يې کى اهالي مذهباً شيعه وه استغاثه[46] يې تېمور شاه ته يووړه فيض الله چي يو له قاضيانو څخه و ځان يې په ميانځ کي ور واچاوه فتوا يې ورکړه چي سنيانو ته دا روا نه ده چي د شيعه وه په خلاصېدو کي زيار وکاږي.

فاعتبرو يا اولى الابصار[47].

تېمور د کوچني اختر د مياشتي پر اتمه په 1207 کال کي په کابل کي وفات سو هغه و چي د پښتنو راحت هم د ده سره تر خاورو لاندي سو.

تېمور ښه خويونه درلوده او پوست سړى و هم د دغه لامله و چي د ځينو ځايو اميرانو سر د ده د امره واخيست.

---

[46] استغاثه: عرض و داد و فرياد کول.
[47] په کوټه چاپ کي د دې جملې پر ځاى: "څه د عبرت خبره ده" ليکلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېمور درې سوه ماينې درلودې چې يوه هم پښتنه نه وه، دو ډېرش فرزنده يې پاته سوه. همايون چې په کندهار کې د پلار د مرګه واروېده د پاچهۍ په توګه په قام کې ودرېده لښکر يې غونډ کی مخ پر کابل يې وخوزاوه، زمان چې دا واروېده د يو تکړه لښکر سره پر مخ ورو پاڅېده. د غلجو په کلات کې د جګړې اور ولګېده په دې شخړه کې د همايون د استقامت پښه ونښوهېده د هرات پر لور وتښتېده خپل بل ورور محمود ته يې پناه ورووړه، هيله يې وکړه چې پر زمان باندې د ده سره مرسته وکې مګر محمود قبوله نه کړه.

چې د محموده يې هيله وخته د هرات ښهر يې پرېښو، د کندهار لار يې ونيوله د هرات او کندهار تر منځ يې ځای ونيو. له پېښو څخه يوه قافله د کندهار څخه هرات ته تېرېده همايون تاړاک پر ورووړی قافله والا يې مړه کړه مالونه يې ځيني يووړه د لښکر په ټولېدو کي يې مصرف کړه د دې د پاره چې دوهم ځل د وروره (شاه زمان سره په جګړه غاړه لګه کړای سي.

دا خبر د حيدر[48] غوږ ته ورسېده پورته سو چې بيرته يې کي مګر برى يې ونه مونده مات سو. همايون د کندهار په ښهر ننووت د وګړو سره يې زښته خشونت وکاوه سوداګر يې سخت کښېکښنه، مالونه يې ترې نه رخي کښله[49] په لښکرو يې خرڅ کړه، زمان شاه چې له دې نه آګه سو مخ پر کندهار يې لښکر ورو خوزاوه پر همايون يې حمله وکړه د مقاومت غولى پر همايون تنګ سو، ملتان ته وتښتېده هلته د ملتان والي پر را ولاړ سو مات يې کی زوى يې ځني مړ کی، دى يې په خپله ونياوه د زمانشاه حضور ته يې ولېږه زمان شاه يې سترګې وکښې.

لنډه دا چې زمانشاه ته د قاضي فيض الله او پاينده خان او د بخت په مرسته د

---

[48] حيدر د شاه زمان زوى و.

[49] رخي کښله: وتروښوله، يووړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچهۍ غولي ور ايله سو، رحمت الله خان يې پر وزارت کښېناوه که څه هم غتهانو دی د دې ټاکني وګواښه مګر ده غوږ پر ونه نيوه پای ته هغه و چې دې ټاکني داسي فسادونه پېښ کړه چې زه به يې وروسته ذکر کړم.

د زمانشاه اقتدار په هغو ښارو کي چي د ده پلرو خواږه لکه: سند، کشمير، ډېره، ښکاپر او بلخ ارتوالی ومونده.

وروسته يې د کندهار هوډه وکړه په دې منځ کي په هرات کي محمود استقلال وغوښته لښکر يې سره غونډ کی پر کندهار يې ويونځاوه[50]. زمانشاه چي ويوهېده له کندهاره يې پر مخ ور ووت د ګرشک او زميندا ور په منځ کي سره مخامخ سوه.

زمانشاه لمړی د خپل ورور محمود څخه د روغي غوښتنه وکړه محمود پر خپل قوت او اقتدار اعتماد وکی نته يې وکړه هغه و چي د جګړې اور د دوو لښکرو په ميانځ کي بل سو، محمود ماتې وکړه هرات ته وتښتېده، ډېر لويان يې بنديان سوه خزانه يې د ورور په لاس کي ولوېده.

له دې شخړې وروسته يې روغه سره وکړه، په دې شرط چې هرات او فراه محمود ته ورکړه سي مګر خطبه او سکه به هلته د زمانشاه په نامه ويله کېږي او وهله کېږي وروسته تر دې شاه مخ پر کابل ونيوه له کابله پر لاهور ولاړ لاهور يې سره له خپله شاوخوا ونيوه دې بري د ده لښکر ډېر بډای کی.

دی په لاهور کي و چي وايې روېده چي محمود معاهده ماته کړه د کندهار د فتح

(50) ويونځاوه: ورږهي يې کړ، ويې لمساوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوډه يې وکړه زليلاندي[51] يې مخ پر کندهار راوګرزاوه، له هغه ځايه پر هرات ورغی.

محمود چي له دې نه خبر سو لښکر يې غونډ کی له هراته په جنګ ور وووت، مګر لنډه يې واروېده، کوم چي لويان چي ده تر شا په هرات کي پرې ايښي وه شخړه يې جوړه کړه په اخيستو کي د هغه په غاړه کي سره ولوېده دا شخړه يې د ده د وزير د شيعه والي له امله چي غوټه يې په زړه کي ورته درلوده اچولې وه، محمود ناچار سو بيرته راوګرزېده.

چي ښهر ته ورغی قليچ خان د ايماقو رئيس، چي د ترکو يو قام دی، سره د يو ډلي لښکر ولاړ سو بغاوت يې وکی، محمود خپل شيعه وزير د دوی د استمالت[52] د پاره ورولېږه دوی وزير بندي کی ښنه يې لا په طغيان ونجتله.

په دې وخت کي واروېده سوه چي د شاه زوی قيصر د هرات ښهر ته نژدې راغلی دی بله چاره نه وه د خپله زويه کامران سره ور وووت د عجمو د ښارو[53] پر لور وتښتېده، فتح علي شاه ته يې چي د اوسني شاه نيکه دی هيله ور وړه[54].

ځکه قيصر بې هيڅه مزاحمته د هرات په ښهر ننووت، خپل پلار شاه زمان يې هورې پرېښو والي يې کی[55].

---

[51] وګورئ د 45 مخ 42 حاشيه.
[52] استمالت: ځان ته راکشول، راضي کول، د ځان پلوي کول.
[53] "د عجمو د ښارو" څخه مراد ايران (فارس) دی.
[54] اوسنی شاه مظفرالدين شاه دئ.
[55] په کوټه چاپ کي وايي چي: "شاه زمان راولاړ سو قيصر يې د هرات والي مقرر کړ". 81 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه زمانه وروسته محمود د هرات شاوخوا ته راغی د پاره د نیوو یې ځیني لښکر سره ټول کی مګر بېله ماتي یې بله نتیجه ونه مونده څرنګه چي زړه یې نه غوښته فتح علیشاه ته ورسي د امیر بخارا شاه مراد حضور ته ولاړ.

اته میاشتي هوري پاته سو وروسته یې اجازه ځني واخیسته چي مخ پر خوارزم وخوځېږي د خوارزمه څخه یې دوهم ځل هوډ وکړ چي فتح علیشاه ته ورسي.

وروسته تر یو څه مودې یې یوه تکړه ډله توریالي عسکر د هغه څخه وغوښته، مخ پر کندهار یې وخوزاوه هغه و چي بې له څه ګواښني په کندهار ننووت په کندهار کي د پاینده خان زوی فتح محمد خان ورسره مل سو په ګډه یې عسکر پر کابل ور ولاړ کی.

شاه زمان چي خبر سو پر مخ یې ور ووت دواړه ډلي سره ونښتې درنه جګړه یې سره وکړه د دواړو خواوو ډېري ویني توی سوې، شاه زمان ماتي وکړه، بندي د محمود په لاس کي ولوېده، امر یې وکی چي سترګي دې وخېژي، او وزیر یې رحمت الله خان خاین چي پاچهۍ ته ډېر سولېدی، سره ورځ یې کوله شاه زمان یې په قتل د امراوو او پاینده خان د فتح محمد خان پلار چي د محمود سره مل و، وغولولی ژوندی یې لاس ته راووست.

محمود امر وکی چي د هغه شریر وزیر څخه کالي وکاږي د بوریا کالي په واغوندئ، پر خره یې سپور کئ په ښهر یې وګرزوئ[56] وروسته یې نو مړ کی. څرنګه چي قیصر د شاه زمان زوی د اکا پر مخ د ولاړي اقتدار نه درلود د هرات ښهر یې د محمود ورور فیروزالدین ته ایله کی پخپله یې د ایران و پاچا ته التجا

[56] مراد د کابل ښهر دئ، (ترتیبوونکی).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ور وروه هغه و چي د محمود سلطه بشپړه سوه لاس يې د کابل پر تخت ومونده.

څرنګه چي د محمود هڅه شيعه مذهب ته وه سنيان ځني خواشيني وه د غيرت وينه يې په ښور راغله سره وځونبېده[57] وروسته وروسته شيعه و هم په سپکه سترګه ورته کتله ټوله سره مله سوه چي دی وځځيري، ويې نيوی په بالا حصار کي يې بندي کی.

ړوند شاه زمان له بنده خلاص سو د پاچهۍ واښ يې په موته کي ونيوه تر څو چي شاه شجاع ورسره يو ځای سو.

پنځه ورځي وروسته شاه شجاع له پنجابه وارد سو محمود يې له بنده ايله کی، شاه زمان ته يې ودراوه، چي دی خپل قصاص ځني واخلي، مګر شاه زمان[58] دی وباخښه مرحمت يې وکی امر يې وکی چي بيرته دي د بالاحصار په محبس کي واچول سي، وروسته تر يو څه زماني شاه شجاع سره له يوه تکړه لښکره مخ پر کشمير ونيوه، چي د شېرمحمد خان زوی عطامحمد خان چي سر يې اخيستی و، وترټي.

چي مظفرآباد کشمير ته نژدې ورسېده د عطامحمد خان سفير ورته راغی، د عطامحمد د سر اخيستو نه يې ډېر عذرونه وکړه د بادار اطاعت او عبوديت يې پېش کړ. شاه شجاع چي ښه زړه پوړه سو بيرته لاړ، په لار کي خبر سو چي محمود ګډ له نورو غټانو سره د قلا محافظين وژلي او تښتېدلی دی. په قندهار کي يې فتح خان له بنده خلاص کړی او بيا نو تللی دی د محمود زوی کامران سره يې چي په دې وخت کي د پښتنو د اُلکو په شاوخوا کي و، لاس يو کړی دی د دې خبر د

---

[57] وځونبېده: وښورېده.

[58] په کوټه چاپ کي دا نوم شاه شجاع دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخيستو نه په کابل کي زښت اضطراب پيښ سو.

شاه شجاع چي په ښهر ننووت له هغه اضطرابه چي وګړو ته پيښ و ډېر تاسف يې وکی. محمود او زوی يې سره له فتح خانه مخ پر هرات ولاړه چي د هرات د والي فيروزالدين څخه مرسته واخلي، والي خورا ښه استقبال وکی عزت يې ورکی، هديې او ښه د برم کالي يې دوی ته وړاندي کړه، مګر ښهر ته يې پرې نه ښووه، او د مرستي له ورکړي يې هم نټه وکړه، عذر يې وغوښت. څرنګه چي مقصد لاس ته وره نه غی بيرته راوګرزېده په لار کي نابېره پر دوو قافلو چي د يوې مخ له کندهاره پر هرات او د بلي مخ د هراته پر قندهار و پيښ سوه دا هوډ يې وکړه چي قافله ووهي مال يې يوسي او د غسي يې هم وکړه.

دا چي يې واخيسته څلور زره سپاره مېړه يې تيار کړه د کندهار پر فتح يې ور وخوزوله چي ښهر ته نژدې ورغله، د هغه ځای حاکم عالم خان د لښکر سره په جګړه ور وووت درنه جګړه وسوه عالم خان ونيوه سو وروسته تر يو لږ تکه او تو که ښهر خلاص سو دوی ونيوه.

يو څه زمانه وروسته يې سل زره لښکر سره غونډ کی او د شاه شجاع د مقابلې دپاره يې وخوزاوه په غزني کي دواړه سره ونښته زښته درنه جګړه وسوه، شاه شجاع ماتې وکړه بيرته مخ پر کابل لاړ.

څرنګه چي ده د کابل پر وګړو بروسه نه درلوده ځکه يې د دوی و مړوند ته هيله ونکړه ښهر يې د شاه زمان زوی امير حيدر ته پرېښووه په خپله مخ پر پېښور وپاځېده. دي پيښي د محمود بری ور بشپړ کی. په ښهر ورننووت د هيواد پر تخت يې لاس وموند، د وګړو سره يې ښه وکړه فتح خان يې وزير وټاکه، واړه د ملک چاري يې ده ته وسپارلې، بشپړه واک يې ورکی خپل زوی کامران يې د کندهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

والي وټاکه.

وروسته وزير فتح خان خپل ټوله ورونه هر يو په بېل ټکي کي د وطن واليان مقرر کړه، په دې وخت کي د محمود زوی کامران قيصر (چي زمبی مو يې د تبنتي ذکر و ابران ته کړی دی) د شاه شجاع د پاچهۍ په اړوبدني بيرته راتی (کار ورتمام کی)، څه مده وروسته شاه شجاع د پېښوره طرد سو د کشمير والي عطامحمد خان سره يې ليک وکاوه، و يې غوښته چي د ده سره د روپو مرسته وکي.

عطامحمد خان جواب ورکی چي که هغه غمی چي ستا څخه دی ماته يې په ګروي کښېږدې زه به د برش لکه روپۍ[59] در ولېږم هر لک روپۍ لس زره پونډه کېږي. د شاه څخه پرته د دريای نور بې غمي نور غمي نه وه هغه يې عطامحمد ته ولېږه، عطامحمد خان پنځلس لکه روپۍ په بدله کي ورولېږلي د نورو د استوني يې وعده وکړه.

شاه شجاع لښکر سره غونډ کی پېښور ته ولاړ چي وروسته مخ پر کابل وخوزېږي. دا خبر چي محمود ته ورسېده شاه زمان يې له بنده خوشي کی ورته ويې ويل:-

ملک تر بېره او خطر لاندي دی مخ پر بېراني ځي، او هم د مسلمانانو ويني خوشي تويېږي راسئ چي دا نفاق او بېلتون په اتفاق او ټولنه اليش کو او په هغو چارو ځان اخته کو چي د هيواد ښېګڼي پکښي ليده کېږي، زه دا پر خپل ځان اخلم چي ستاسي حقونه بشپړه درکم او هر يو له تاسو نه پر ښو ښو چارو وټاکم او هم واړه غتيان چي په بند کي دي له بنده خوشي کم.

---

[59] په کوټه چاپ کي د برش لکه کلداري دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرنګه چي زه زموږ د پلار غوره زوی يم تاسي ته ښايي چي زما د منزلت رعايت وکی، شاه زمان دا وينا واورېده خپل ورور شاه شجاع ته يې ليک ولېږه شاه شجاع دا ليک د عطامحمد د بېرولو د پاره ښه وسيله وبلله ليک يې ورولېږه چي:-

که ماته په مال او هم په مېړو مرسته رانه کړ زه به د ورور سره مل سم ريښتې به دي وکاږم عطامحمد سره پونځيده پنځه زره مېړه يې غونډ کړه پر پېښور يې ولاړ کړه.

شاه شجاع د اسي وګڼله چي عطامحمد د ده په مرسته ور روان دی خوشحاله سو او حال دا چي عطامحمد په چم کي و، شاه يې نابېره په پېښور کي ونياوه، په قفس کي يې واچاوه کشمير ته يې ولېږه، د ښهر په تېنګار کي يې زښته زيار وکښه، په پسي يې د انګليسي حکومته سره ليک وکی چي په تيارېدو کي د لښکر د رنجيت سنګ[60] دا بت پرست چي په دې کورنيو جګړو کي يې د پښتانه ځيني ځايونه په پنجاب کي نيولي وه او ځيني نور د پښتانه نيولي ځايونه يې بيرته اخيستي او انګرېز ته يې په دې شرط ورکوله چي که محمود پر ده راولاړ سي انګرېز به مرسته ورکوي. د جګړې د پاره د ده سره مل سي، داسي ښېښه سوه چي دا ليک د رنجيت سنګد جاسوسانو په لاس کښېووت ده ته يې وراندي کی، رنجيت سنګ دا ليک محمود ته ولېږه هيله يې وکړه چي د عطامحمد په جګړه کي د ده سره مل سي. وروسته هر يوه د دوی څخه لښکر تيار کی يرغل يې پر ورورې دی يې بندي ونياوه. سره له دې محمود دی وباخښه شاه شجاع يې له بنده خلاص کيفتح خان خپل ورور عظيم خان د کشمير والي وټاکه، رنجيت سنګ د شاه شجاع سره يو

---

[60] رنجيت سنګ يو د بابا نانک د اتباعو څخه دی، بابا نانک په وروستني زمانه کي په بت پرستانو کي ښکاره سوی او يو کتاب يې چي له څلورويد څخه اخيستنه سوی دی را ايستلی دی څلورويد اسماني مقدس کتاب دی، دی يې ګرنت بولي دغه سړی و چي پر خلاف د نورو بت پرستانو يې غوښې خوړل جايز وبلله، په معابدو کي يې د بتانو ايښوول منع کړه او د هغه پر ځای يې د نوموړي کتاب په ايښوو امر وکی. (مولف)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای لاهور ته ولاړه.

دوه کاله وروسته د حرص او شرارت اور د رنجیت سنګ په ځان ولګېد په هوډ د کشمیر د نیوو سو اتیا زره بت پرسته باباڼکي لښکر یې سره غونډ کی مخ پر ښهر یې ورووست.

عظیم خان په مخ کې ترلس زره مېړه زیات نه درلوده. عظیم خان خپل وګړي پټ ګني کړه چي بت پرسته لښکر ټوله په ناوه کښېوزي، وروسته تر څه جګړې یې امر وکی چي د پټ ګني لښکر پر راووزي، دې ټولې یو زلیلاند [61] یرغل پر ورورې څلو ښت زره مېړه یې ځني مره کړه یا یې په بند بوتله پاته لښکر مخ پر کور وتښتېده په ډېر زحمت یې ځانونه وژغورله.

رنجیت سنګ له دې حرکته سره کیخووت [62] په لیک یې د محمود څخه عطوفت وغوښت، عذر یې وکی هغه چا چي زه په دې چار کي غولولی وم شاه شجاع و، شاه شجاع په دې خبر سو هوډه یې وکړه چي د لاهوره ولاړ سي رنجیت سنګ هیله وکړه چي غمي یې لاس ته راولي مګر شاه شجاع له په ځان ورکولو څخه نټه وکړه، امانت یې ورکړه له هغو څخه یو دریای نور و. زه داسي انګېرم چي دا هغه غمی دی چي اوس د برطانیې په خول کي ځلېږي.

(شاه شجاع) په شپه وتښتېده د انګرېز حکومت ته یې هیله وروړه رنجیت سنګ پر دې چار ډېر لاسونه ومښله ده ته یې لیک واستاوه، د ده د بیرته راتګ غوښته یې وکړه. په دې یې هم زړه تم نه سو غمي یې بیرته ورکړل.

---

[61] وګورئ د 45 مخ 42 حاشیه.

[62] په کوټه چاپ کي لیکلي دي چي رنجیت سنګهـ له دې حرکته ډېر پښېمانه سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انګرېز حکومت چې لا هيسته کله د شاه داسي هيلي ته تيار و له دې چاري نه ډېر سره وغوړېده د ده ډله يې په زښته اکرام هرکلی کړه.

په دې وخت کي ړوند شاه زمان چې په علماء او غښانو کي يې درنه مرتبه درلوده، د بلخ د سفر دپاره د زيارت د هغه ځای چې د سيدنا علي (رض) په مقبره مشهور دی عزم وکی وروسته تر رسېدو مخ پر بخارا ولاړ د بخارا د امير مير حيدر د خوا په ډېر عزت هرکلی سو خپله لور يې ورکړه[63].

وروسته د بخارا څخه د طهران پر لور ولاړ فتح عليشاه هم په درنه ستركه ورته وكتل له هغه ځايه بغداد والي په هغه وخت کي مشهور داود پاشا و، له هغه ځايه يې د حج هوډ وکړه د حجاز په اورشو کي وفات سو.

د دې چارو تر ميانځ په 1222 هجري کال کښې د هرات والي فيروزالدين د خپل ورور محمود له خوا د خراسان پر فتح وخوزېده دا هوډ د ده د بخاري صوفي اسلام چې يو له جهريه صوفيه طبقې نه و او خپل وطن يې د ببګ بان ازبک له بيري پري ايښی و په مهمت سره وه. دې صوفي داسي زعم درلود چې وحی ورته راځي، او خرق عادت کولای سي غوښته يې چې د باطني انفاسو له امله د پاچهۍ پر تخت کښېني.

نو يې پنځوس زره وګړي د هرات، کندهار، اندخوی، کندوز، ميمني، فارياب له قامونو سره غونډه کړه د شکيبان د قلعي پر لور يې وروه پنځوله. د خراسان نائب محمد خان قاجار چې له دې چاري خبر سو د مقابلي دپاره يې لښكر ټول کی پر مخ ورغی، دواړه لښکره اوه فرسخه د هراته ليري سره مخامخ سوه د جګړي اور بل سو

---

[63] شاه زمان خپله لور د بخارا امير ته ورکړه (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دواړو خواوو شخه ډيرى مړه سوه په خپله صوفى اسلام ښايسته کړي جوپان کي د معسکر په منځ کي ناست و شپږ شپېته(64) وګړي مخلصين يې شاوخوا پر راګرځېدلي وه وروسته تر دې چي واړه مريدان يې په قتل ورسېده په خپله دى هم قتل کړه سو.

په پاى کي د فيروزالدين لښکر ناچاره سو چي هرات ته پر شا سي د محمد خان لښکرو د صوفي اسلام جسد و سو د کوټي پوستکى يې وکيښ فتح عليشاه ته يې ولېږه.

هغه کسان چي د شيخۍ او پيرۍ د لاري د دوو مسلمانو ډلو تر منځ نفاق او فتنه او شخړه اچوي دوى په دې توګه غولوي او داسي ښکاره کوي چي د ټولو کائناتو د تصرف واګي د دوى په لاس کي دى او د ښتن قوه او اسرار له دوى سره ملګري دي مسلمانان يو له بله سره ولاړوي ويني تويوي، دا يې سزا ده.

فيروزالدين تر ماتي وروسته ناچار سو چي د شاه حضور ته ښه ښه هديې ولېږي، زړه يې لاس ته راوړي او په دې چم د ده د لښکرو د ضرره ځان وژغوري او ګايه(65) يې وکړه چي هر کال به شاه ته يو لوى ټوک د خراج ورلېږي.

دا روغه چي د ايرانيانو سره وروسته تر پرمختګ او بيرته راتګ او روغو او جګړو اوسني والي شيعه والي وسوه، د فيروز سياست د حسن علي ميرزا د فتح شاه زوى د خراسان د والي سره وران سو او وبېرېدى نه چي د ده پر ښارو حمله وروړي.

(64) په کوټه چاپ کي: دري سوه شپږ شپېته ښوول سوي دي، (مرتب).
(65) ګايه: ژمنه، تعهد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته يې خپل وړور محمود ته سفير ولېږه مرسته يې وغوښته محمود دا چار د هرات د نيوو د پاره وسيله وبلله وزير فتح خان يې د يو تکړه لښکر سره د هرات پر لور وخوځاوه، چې ښهر ته خرمه سوه فېروز هولکي سو د ده ننوا ته يې ښهر ته ونه منله، بلکه امر يې وکی چې غوريان دي د ايرانيانو د لاسه وکښل سي.

مګر فتح محمد خان د خپل بادار د خوا مامورو، چې په ښهر ننوزي، بې چمه يې بله چاره ونه ليده فېروز ته يې حال ورکی چې معسکر ته راسي چې مشوره او خبري اتري ورسره وسي فېروز چې راووت فتح محمد خان ونياوه، د اهل سره يې بندي کندهار ته واستاوه، دی په خپله په ښهر ننووت خپل وړور کهندل خان يې د غوريانو د نيوو د پاره تيار کی په شاوخوا کي د خراسان يې ليکونه خرګند کړه غټانو او مشرانو د قامو يې د ايران د جګړې د پاره د ځان پر خوا راوبلله.

حسن علي ميرزا چې دا خبره واروېده د هغه ځای د ساتني د پاره يې عسکر ولېږل، څه وخت چې مدافع او مهاجم لښکر په تصادم کي سوه فتح خان يوه لوی ډله عسکر د کندهار، هرات بلوچستان، جمشيدي، فيروزکوهي د وګړو څخه سره غونډ او د توپو او زنبورکانو سره يې د هغه ځای او د خراسان د نورو ښارو د نيوو د پاره وخوزاوه.

چې کوسيا[66] ته ورسېده خبر ورته راغی چې حسن علي ميرزا خپل لښکر کافر قلعې ته رارسولی دی چې د دوو غليمانو تر منځ دوه فرسخه ځکل نه وه، حسن علي ميرزا ته يې سفير ولېږه د غوريان تسليمېده يې څني وغوښته او په حرب سره يې وبېراوه داسي يې ښکاره کړه:-

---

(66) په کوټه چاپ 92 مخ کي يې "کوسيه" ليکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاته معلومه ده چي عاقبت د جګړې به ستا په ګټه که په زيان تمام سي دا ستا کبر او لويي چي له خودبينۍ نه پيښـه ده ځان د سلطانزوی بولې و داسي حال ته ورسېږې چي د پلار باچهي په تزلزل کي واچوې.

حسن علي ميرزا دا جواب د سفير په لاس ور ولېږه: ستا بادار محمود چي د شاه په نعمت تربيه سوی دی د داسي خبرو کولو لياقت نه لري ځه لا ته خاين چي د سدوزو د غتانو سره جنګېږې.

سفير بېرته مايوس لاړ فتح خان خپل لښکر پر کافر قلعه وروپاځوله خورا درنه محاربه وسوه لو ډله د دواړو خواوو ځخه مړه سوه.

نژدې و چي ايرانيان ماتې وکي نابېره د فتح خان په خوله کي ګولۍ ونښته، هرات ته پر شا سو، محمود او د ده زوی کامران چي په هرات کي وه هولکيان سوه.
وروسته يې دوه سړيه ملا شمس الدين د هرات مفتي او خان ملاخان شيخ الاسلام و فتح عليشا ته ولېږله چي هغه خبر کي چي محمود د فتح خان د دې جرئته هيڅ خبر نه و، غوښته يې په دې توګه د شاه زړه پر ځان نرۍ کي(67).

شاه چي په دې وينا آګه سو سفير ته يې کتل ويې ويل:-

تر هغو ځو محمود په سر سره فتح خان ماته راونه سپاري يا يې سترګي ونه باسي زه به ځني راضي نه سم. کامران چي دا واروېده بې سپکۍ، د نفس جبن او بېعقلي پر ړندېدو د هغه زړه ور مړه، چي د ده پلار د هغه په مرسته و پاچهۍ ته رسېدلی و، ولاړ کی د وروره سره يې چي شېردلخان دی په بند کي واچاوه.

(67) له "نرۍ کي" ځخه مراد دا دئ چي د شاه ترحم ځان ته جلب کړي، (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده بل ورور (شېردل خان)[68] له هراته د نادعلي کلي ته وتښتېده د غلجو د يوې ډلي سره ملګری سو چي خپل ورونه د بنده خلاص کي.

کامران چي د دې ټولني خبر وارو بده جبن او بې سيکي ورپېښه سوه امر يې وکی چي دوی دي د بنده خلاص سي. د فتح خان د ړند بدو ازانګه په شاوخوا کي تيت سوه د دربيم زړه ور ورور عظيم خان غوربڼد ته ورسېد له هغه و چي ده دوه نور خپل ورونه دوست محمد خان او يارمحمد خان د محمود د وروور شاه زاده ايوب د غوښتو د پاره ولېږله امر يې وکی چي هغه دي په پاچهي وخوزاوه سي دوی هم دغسي وکړه د ده په نامه يې ږغ وکی د جلال آباد شا و خواته ننواته، دوست محمد خان پر کابل يرغل وروی ويې نياوه، خپل وروو محمد زمان خان يې د شاه شجاع د راغوښتو د پاره چي په انګليسي هندوستان کي استېده ولېږه. شاه شجاع راغی د سمندرخان سره يې چي د درې والي و، جګړه ومښلوله او بری يې پر وموند. لنډه دا چي د فتح خان ورونه چي شمېر يې شلو مېړو ته رسېده)د تېمورشاه له زامنو سره(ټوله ولاړ سوه هر يو د تېمور د يوه زويه سره چي په شمار د دودېرش مېړه وه، مله سوه د افغانستان هيواد يې د شرقه تر غربه ورو زه د محمود د پاچهی ريښې يې وکښېي.

څو چي د محمود په لاس کي پرته بې کندهاره او هراته بل ځای پاته نه سو. بيا يې نو د تېمور د زامنو څخه پاچهي واخيسته هر يوه د افغانستان په يوه ولايت کي په استقلال حکومت کاوه، دا ټوله د وروور فتح خان د ړندېدو د غچ د پاره وه.

لږ زمانه وروسته يې پر کندهار لاس وموند ه د محمود سلطه يوازي پر هرات پاته سوه، په 1241 کال کي محمود پر خپل زوی بدګمانه سو ، د هغه د ولاړي او بغاوته

---

[68] په کوټه چاپ کي دا نوم (دل) دئ، 94 مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ډار وکی چي نه چي دی ونيسي، د هراته راووت د فراه ځيني کامونه يې سره غونډ کړه د خپل زوی په جګړه يې وخوزوله، زوی يې ناچاره سو حسن علي ميرزا ته يې استغاثه يوړه (د مرستي) هيله يې وکړه:-

حسن علي ميرزا هم د ده سره مرسته وکړه تر څو چي پر پلار يې بری وموندہ مات يې کی. نوموړي زوی کامران يې په هرات کي د دې چاري وروسته خورا د برم مېلمستيا جوړه کړه حسن علي ميرزا يې راوباله د پنګو کيلۍ[69] يې وروسپارلي.

د دې چارو په وخت کي د رنجيت سنګ بت پرست متې مړوچه سوي وه څو چي د کشمير ولايت يې په غياب کي د محمد عظيم خان والي چي د خپل وررور دوست محمد خان د ليدو دپاره کابل ته تللی و، ونيوه.

په 1245 کي يې سفير د شاه حضور ته ولېږه دوهمه مرسته يې پر خپل پلار ځني وغوښته اتفاقاً داسي پېښه سوه چي د ده سفير ايران ته ورسېده پلار يې وفات سو.

سفير په ايران کي د هغه فيروزالدين سره چي دمخه يې ذکر سوی دی او په کندهار کي بندي و، او د فتح خان په واقعه کي ايران ته تښتېدلی و پېښ سو، په چاره کي د کامران د ولاړېدو او د ده د کښېنولو د هرات پر تخت ورسره وږغېده، دی يې وغولاوه چي د شاه په مرسته به دا چار تر سره کو. وروسته چي کاربار يې څه پرله پوري سو لښکر يې تيار کی مخ پر هرات يې ولاړ کی، په لار کي نابېره د فيروزالدين د خادمانو او د ځيني ايرانيانو شخړه پېښه سوه فيروزالدين د خادمانو په مرسته ووت، ايرانيانو بې له دې چي خادمان يې خبر وموموی دی يې

[69] د پنګو کيلۍ = د خزانو کيلۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مړ که.

په 1248 کال کې عباس میرزا د هرات د نیوو هوډ وکړ خپل زوی محمد میرزا یې د یوه تکړه لښکر سره ولیږه وروسته تر یوې درنې جګړې هرات محصون[70] سو.

په دې وخت کې مستر کمیل انګلیس زښته زیار وکښه چې هرات محاصره نه سي مګر ټوله زیار یې هدر ولاړه.

نابېره محمد میرزا محاصر[71] د ښار ته د پلار د موت خبر ورسېده دا یې غوره وبلله چې کامران ته د روغي دروازه وټکوي کامران هم د روغي چار ومنله مګر د روغي چارو وزیر یار محمد ته چې په مشهد کې بندي و ، وا چوله سوه.

روغه داسي وسوه چې په هرات کې دې سکه د فتح علیشاه په نامه ووهله سي او کامران به هر کال پنځلس زره تومنه و شاه ته وړاندي کوي، انګلیس چې دا واروېده چې د پښتانه ښارونه د ایرانیانو په الکه ګډ سو دا چار یې د خپل سلطنت د ړنګېدو د پاره په هند کې سبب وشمېره ، شاه شجاع یې راولاړ کی د لښکر مرسته یې ورسره وکړه سربېره پر دې یې رنجیت سنګ او میر غلام علیخان د سند میر ته خبر ورکی چې شاه شجاع ته اوږه ورکي، دوی سره له دې چې د انګلیس تر لاس نه وه لاندي بیا یې هم امر ومانه شاه شجاع ته یې عسکري مرسته ورکړه د برش زره میره یې ور تول کړه، د پنجاب د لاري یې مخ پر کندهار وخوزوله، کهندل خان سره له خپلو ورونو په مخي کې ورته ولاړ او د جګړې په ډګر کډ سو زښته کلکه ماتې یې ورکړه، شاه شجاع مخ پر هرات وتښتېده، د خپل وراره کامران څخه یې مرسته وغوښته هغه نټه وکړه. وروسته تر ډېرو زحمتو د بلوڅ

(70) محصون = کلابند.

(71) محاصر: محاصره کوونکی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیواد ته ورغی او له هغه ځایه هند ته تېر سو.

خبره دا ده د تیمورشاه حرص او په شهوت کي غوټه ورځي او هځي و لذاتو او ډېرو اولادو له ډول ډول مندو څخه سبب د نا آرامۍ وګرزېده امنیت له منځه ولاړ او په زرو زرو خونونه وسوه د یوه زوی حرص یې و سلطنت ته موجب د حرمان د نورو وګرزېده.

په کال 1250 کي کامران د سجستان د نیوو هوډ وکړ د سجستان امیر و محمد شاه د عباس زوی ته یې التجا وروړه محمدشاه دا د هرات د نیوو د پاره ښه وسیله وګڼله لښکر یې تیار کی او مخ پر هرات یې ولاړ کی هرات یې خورا اوږده زمانه په انحصار[72] کي واچاوه پښتانه د حصاره راواته او د شاه پر عسکرو یې یرغلونه وړه، ډول ډول زړه وری یې ښکاره کولې.

پر کامران چي کار درونډ سو زوی یې نادر میرزا میمنې، شبرغان او سرپول ته ولېږه چي هزاره او ازبک راوبولي دې کامو د ده غوښته ومنله لوی لښکر یې تیار او مخ پر هرات یې ولاړ کی چي د حصار د ناورینه یې وژغوري، هغه و چي د شاه د عکسرو او د دوی په منځ کي ډېري جګړې سره وسوې د دواړو خواوو څخه ډېری مړه سوه شاه بری وموند.

کامران چي دا ولیده هولکي سو د خپله وزیر سره یې مشوره وکړه رایه پر دې راکښته سوه چي د دیني جګړې بږغ وکي.

نو هغه و چي په ملا عبدالحق وخرېده چي یو د هرات د علماء څخه و[73] دا ملا د

---

[72] مراد یې کلابندي ده.

[73] په کوټه چاپ کي ملا عبدالحق "د عراق عالم" بلل سوی دئ، (99 مخ).

(c) ketabton.com: The Digital Library

جمعې په ورځ د خطيب په خبر ودرېده خلقو ته يې اجازت د ديني جګړې ورکی د ښار وګړو او د نژدو کلو او سپېدونکو دا د ده بلنه ومنله.

اهاليو د جمعې لمبو ووهله[74] نکان يې پرې کړه کفنونه يې غاړې ته کړه راووا ته، پر غليم يې يرغل وروی، د ايران د غټو کسانو څخه يې ډېری مړه کړه مګر دا يې د لاسه ونه سوه چې ګرد سره په بيرته کې، بيرته ښار ته لاړه.

وروسته تر دې چې د محاصرې موده اوږده سوه مکنيل د انګرېز سفير له طهران څخه د شاه و معسکر ته مخ ونيوه، چې له شاه سره يو ځای سو وپوهېده چې دا چار موجب د انقياد د پښتنو او د دوی د ملتيا د ده سره ده او دا خو ښکاره زيان دی چې نتېه نه ځني کېږي چې د دوی د هند و سلطې ته يې رسوي نو يې شاه ته کتل ويې ويل:-

ما پرېږده چې ښار ته ننوزم او کامران په تسليم راضي کم. شاه داسې ګڼله چې دی په خپله وينا کې رشتينی دی، اجازه د ښار د ننوتو يې ورکړه. چې په ننووت او له کامران سره يو ځای سو زيار يې وکښه چې دی زړه ورکی او ښنه يې ونجتي، ويې ويل هيڅ صحت نه لري چې تسليم دي سي، که يو لږ وخت ښنه ونجتي موږ به توپ، ټوپک، وسله او نور ذخاير تاته ورسوو.

کامران يې په دې چاره کې زړه پوره کی، بيا نو شاه ته ورغی هغه ته يې کتله ويې ويله: هر څومرې چې ده او د ده لښکر ته د ترغيب او تهديد ببره وسوه په ترغيب توزن نه سو. شاه چې دا واورېده امر يې وکی چې هر څومرې مس چې په چهاونۍ کې سته دا دې واړه غونډه کړه سي (توپ دې ځني جوړ کړه سي) پر شاګۍ[75] دې

[74] د جمعې لمبو ووهله: يعني د جمعې د ورځې غسل يې وکړ.

[75] شاګۍ: وړه غونډۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخېژاوه سي خوله يې د ښار پر وګړو وروګرزوئ اور پر ورکئ.

له دې نه اهالي ډېر تنګ سوله برسېره پر دې چي په خورا قاختي اختـه سـوه ځلور زره بې سېکه او فقيران يې د ښار وياسته زياتو يې تحمل ونسواى کولاى کامران شاه ته يې سفير ولېږه چي تسليم سي.

د انګرېز سفير چي په دې خبر سو هولکي سو ، په پټه يې کامران ته خبر ورکى هيله يې وکړه چي پښه ونجتي او ګايه يې وکړه چي دا ټکه به ژر تر ژره ترې نه ليري سي. بيا نو شاه ته ولاړ وويې ويل :-

د انګرېز او شاه په منځ کي دوستي او خپلوي ده او دا منلې خبره ده چي د هرات فتح په هند کي شخړه خوزوي، هيله لرم چي د هرات د فتـح نـه لاس واخلي، شـاه د اوږدې محاصرې نه سرغاړى سو ، پر خپل آس سپور سو د لښکر په مخ کي ودرېده ږغ يې وکى، چي پر ښار يرغل ورورئ. لښکر يې هم په يوه وار حمله پر ښـار وروړه او پر توپو يې اور وركى، ډېر برجونه يې ونړوله نژدې و چي ښار ونيسي، د انګرېز سفير شاه ته ور پر مخ سو ويې ويـل: زه لـه تـا نـه دا هيلـه لـرم چي درې ورځـي مـاتـه اجازه راکى چي ښـار تـه لاړ سـم کـامران او وزيـر بـه بې ويـنـي تـويېـدو او د مـالـو د ضـياع تاته وسپارم. د انګرېز د شان او لويې روى وګوره زما دا هيله ومنه.

شاه د انګليس مجد[76] ته وکتله د ده هيله يې ومنله چي د کامران او د ده د ډلي سره يو ځاى سو پنځه زره پونډه يې ورکړه ورته ويې ويل :-

درې ورځي د جګړې د وسلو استعمال پاته دى نړېدلي برجونه جوړ کى تر څو چي

---

[76] مجد = عظمت، لويي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمورې قافلې د فارس د خليجه رارسي پښه ونجتي.

شاه چي په دې تکي خبر سو دی يې له خپله معسکر ليري بيرته کی. وروسته شاه زښته سر وخروښېده امر يې وکی چي پر ښار يرغل وروړی د جګړې اور بل سو، پښتنو په مخي کي پښه و نجته او په مدافعه کلک ودرېده د ايرانيانو چار داسي ځای ته ورسېده چي پر قلعه وروخاته او پښتنو بيرته کوله ډيری له دوارو خواوو مړه سوه.

په دې منځ کي د انګرېز قافله د فارس خليج ته راورسېده د خارق جزيره يې ونيوله شاه چي دا واورېده ښه يې دا وبلله چي محاصره ايله کي ړومبی انګرېز د وطنه وباسي.

د انګليس نورو مامورينو د محاصرې په وخت کي د کابل او کندهار واک درلوونکي د ايران پر جګړه پنځوله ملايانو ته يې روپۍ ورکولې چي جګړې ديني وبولي وګړي جنګ ته ولاړ کي مګر زيار يې څومري تر ځايه ونه رسېده.

دا محاصره شل مياشتي ته ورسېده، دا چار په 1255 کاله کي پېښه سوې ده.

انګرېز دا وفهموله چي د پښتنو د اميرانو هڅه د ايرانيانو و خواته ده ولي دوست محمد خان د کابل امير او کهندل خان د کندهار والي او د دوی نور ورونه چي د تېمور د زامنو تر نفاق وروسته پاچهۍ ته رسېدلي وه د هرات د محاصرې په وخت کي يې د شاه سره د ليک تار اچولی و، خپل سفيران يې ورلېږله، د دې بيري چي دوی به سره مله سي د انګرېز په زړه کي وسوسه پيدا سوه، چي دا به د دوی سايه د هند له ملکه پورته کي څکه يې د دې په هيسته وخت ته کتل چي د پښتنو پر هيواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

بری ومومي، چي په دې وپوهېده چي پښتانه د خپلو اميرانو څخه تره[77] لري وخت يې کوت چي شاه شجاع د ملک نيوو دپاره وټاکي.

نو هغه و چي شاه شجاع يې د يو تکړه لښکر سره چي له منتظمه ټوليو څخه جوړ و د ماهرو افرادو تر لاس لاندي او لوړ واکه انګليسي منصبدارانو تر امر لاندي وخوزاوه.

شاه شجاع دا لښکر د بلوخ او سجستان د لاري د کندهار پر لور ور تېر کی د لښکرو په مخ کي داسي سرې وه چي ځای پر ځای به يې پښتانه د شاه شجاع وخواته بلله، ويله يې چي حقيقي وارث د ملک او وطن او اصلي حقدار د پاچهۍ دی دی او وګړي يې په دې توګه په خلاصېدو د بريالیانو د سلطې څخه پنځول او خورولـه.

شاه چي کندهار ته ورسېده وپوهېده چي کهندل خان عسکر لږ دي د ده مقابله نه سي کولای او هم د ښار وګړي د شاه خواته زښته هڅه لري نو کهندل خان سره له خپلي عائلي د پنځو (سوو) سپرو په ملګري ووت او د تهران پر لور روان سو.
محمد شاه دی په عزت قبول کی او د بابک ښار يې چي د فارس له ښارو څخه دی ده ته ورکی، شاه شجاع انګريزي تاو د کندهار والي وټاکه په خپله مخ پر کابل وخوزېده په لار کي يې غزني ونيوه.

کابل ته چي ورسېده امير دوست محمد خان د مقابلي سبک په ځان کي ونه ليده ناچار سو د ښاره ووت مخ پر بخارا روان سو چي د بخار د امير مرسته وغواړي مګر دا هوډ يې تر سره نه سو، بلکه د احترام پر ځای يې سپکتيا وليده هغه و چي

---

[77] تره (د لومړي په سکون) نفرت، کرکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګرېز دی ونیاوه او کلکتې ته يې ولېږه.

شاه شجاع (مستر باتنجر) چې يو له غوره غتهانو څخه د انګليس و د کابل والي وټاکه پخپله يې بې له هيڅ ډول مخنيونکي جلال آباد ونيوه.

وروسته انګرېز يو سفير سم د يوې جرګې سره چې شلو مېرو ته رسېده د درو سوو زرو پونډو سره کامران ته ولېږله او د هغه څخه يې وغوښته چې د شاه شجاع بلنه ومني هغه قبوله کړه او د انګرېز سفير سره له خپلو ملګرو هلته پاته سو تر څو پوري چي دا مبلغ د قلعو په جوړېدو او استحکاماتو او د ذخيرو په غونډېدو خرڅ کړه سو.

دې چاري په محمد شاه کي کار وکی، او د ده په حق کي يې چي افراط کړی و عذر يې وغوښته او ويې منله چي خطبه او سکه به د ده پر نامه وايي او وهي دا واقعه په 1257 کال کي پېښه سوې ده.

علي ای حال په ډېرو ټکو کي د ملک د پاچهۍ چار د شاه شجاع لاس ته ورغله که څه هم په ظاهر کي د شاه شجاع پاچهي بلله کېده مګر زښته يې د انګرېز سره اړيکه يا تړون درلود تر داسي ځايه چي د انګليس زړه پوره و چي ټول د پښتانه هيواد د ده تر لاس لاندی دی بلکه د انګرېز د هيواد يو ټوک و او د ده د لاسه بيرته کښل زښته محال دی درې کاله او څو مياشتي په دغه هيواد کي وپائيده.

په څلورمه خور د 1258 کال يې اشخاص د خراج د اخيستو دپاره ولېږله چي د ځينو کامو څخه يې ټول کي هغو کامو له ورکړي نه سر وپېچي په بغاوت يې غاړي لکي کړې او يو کوچنۍ جګړه پکښې پېښه سوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاه شجاع چي دا واروېده يوه ډله لښکر يې ورولېږله چي دوی وترټي څرنګه چي کامو په ځان کي سېک د مقابلې نه ليده د غرو سرو ته وخاته.

د غره رجب مياشتي په لومړۍ روځ دري کسه د غلجو خانان د کابل د ښاره ووواته يوه ټولۍ د کامو هم ورسره مله سوه، غلا او لاسوهني ته يې پيل وکی د کابله دري فرسخه ليري يې سنګر وواهه د هند د تلو راتلو لاريې د هغې خوا وتړله.

د دې چارو په ترڅ کي محمد اکبر خان چي وروسته د خپل پلار دوست محمد خان تر مړيني د پښتانه ښارو کي ګرزېده سره د خپلې ډلي باميان ته راغی د هغه ځای وګړي ورسره مله سوه او سربېره پر هغه د غلجو يو ټولۍ چي د انګليس د خوا وظيفه ورته ټاکلې سوې وه او وروسته د انګليس د واک درلوونکی د خوا د هغه د بخل او امساک له پلوه پرشلېدلې وه هم ورسره ګډه سوه.

هغه و چي شخړه خورا درنه سوه انګليس هوډ وکړ چي ملسلتن[78] د يوې ټولۍ لښکر سره ولېږي او د دې شخړې اور مړ کي.

چي د کابله وواته دري فرسخه د ښاره ليري سوه يوه ډله غلجي پر راووته لاس يې ورواچاوه وګړي يې ځني مړه کړه هغه و چي لښکر تم سو په دې حال کي جنرال سيل سره له فوجه چي د محمد اکبر خان د جګړې د پاره و، د دوی سره يو ځای سو مګر د پښتنو د يرغله او غوتې نه زښته په بېره کي وه.

د رجب په شلمه شپه يې عسکري مرسته راوغوښته عسکر چي راورسېده محمد اکبرخان پتنګۍ ته يې هوډ وکړه په منځ کي د لارې د پښتنو او د دوی په

---

[78] په کوټه چاپ کي دا نومونه مکناټن او متهسن ليکلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ميانځ کې جګړه ونښته دوې ورځې جګړه وسوه برى يې پر ونه مونده.

په دې وخت کې شاه شجاع يو غلجى مېړه چې حمزه خان يې کاوه، بندي کړى و دا چاره موجب د زو مړو[79] غاړې په شخړه لګې کړې د کابل لارې يې د نورو خواوو څخه وتړلې.

وروسته ميجر کريفن د دوى پر مخ د ښاره وروت جګړه ونښته يو ډله د انګرېز د غټانو مړه سوه.

د شعبان د مياشتې په لمړى ورځ د ښار وګړي سره وپونځېده هتې يې وتړلې د سکندر برنس پر مېنه يې هجوم وروى، دى يې مړ کى او پر لو لار يې په دار ځوړند کى بيا يې نو د حکومت پر خزانه چې د جانسن تر کتنه لاندې وه حمله وروړه چور يې کړه يو يې وړه.

شاه شجاع چې په بالاحصار کې و، له دې چار خبر سو خپل زوى يې د لښکرې وګړو سره چې دوه توپه هم ورسره وه واستاوه مګر د شخړې اور يې مړ نه کړاى سو.

د شعبان د مياشتې په څلورمه پښتنو پر باغ شاه د محمد شريف پر قلعه برى ومونډ د دې دپاره چې مو اصله د انګرېزانو د قلعه چې ذخاير پکښې ساتلې وه او د دوى د استحکاماتو په منځ کې پرې کې يو حائل يې جوړ کى هغه يو ډېرين استحکام و، چې يو زر ګزه يې اوږدواله او شپږ سوه ګزه يې بر و، پر قلعه ورغله په محاصره کې يې وا چوله په قلعه کې وانسن وارن او نور هندو لښکر او څه د قلعې ساتونکې وه مګر نې وسواى کولاى چې قلعه دې خلاصه کې څو چې انګرېزانو

---

[79] زومړو = زوى مړو (سيمه ييزه اصطلاح ده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلعه ایله کړه کپتان سوین یې د وانسن وارن د خلاصېدو د پاره ولېږه مګر پښتانه داسې چمتو او تکړه وه چې کپتان سوین یې سره د ملګرو تر تېغ وکښنه څه چې د تېغ د بریښنه خلاص سوه په ماتې معسکر ته لاړه.

بیا یې انسن کارون سره له یو تازه لښکره د وانسن وارن د خلاصېدو د پاره ولېږه مګر پښتنو هغه شربت چې په ړومبی ډله چښلي وه په دوهمه یې هم وچښله.

وروسته کپتان بوید د لښکر عمومي سردار ته ورغی ویې ویل:-

که قلعه غلیم ته وسپارله سي سربېره پر دې چې موږ ته پنځوس زره پونډه زیان چې د ذخیرو قیمت دی رسي، پرته د دوو ورځو د قوته څه نه پاتېږي څه بنایي چې وکو؟ د ذخیرو راغوښت هم څرنګه چې لار لیري ده رارسګېده یې وړیا چاره نه ده. سردار چې دا واورېده وانسن وارن ته یې خبر ورکی څو یې د وسه کېږي قلعه ونه سپاري ژر دی چې مرسته به ورسېږي وانسن وارن داسي ځواب ورکی:-

که نن شپه موږ ته مرسته را ونه رسېږي د غلیم د لاسه خلاصېده امکان نه لري، غلیم اوس د قلعې تر یوه برج لاندې نغم وهي زموږ د وګړو په زړو کې داسې بېره لوېدلې ده چې ځیني ساتونکي ځانونه تر قلعې لاندې غورځوي که نن شپه زموږ مرسته ونه کی د غلیم په لاس کې لوېږو.

دا ځواب وروړسګیده سردار واړه غتان د لښکر راغونډ کړه خبري اتري یې وکړې او یو چم یې ترې نه وغوښت چې د هغه له امله قلعې ته ورسېدای سي او ساتونکي یې د غلیمه خلاص کي، تولو دا خوښه کړه چې په دغه شپه مرسته ورکي ولي دوی خیال کاوه چې پښتانه د ساتني په چارکي ناپوه دي، ویښتیا به نه ګالي مګر بیا هم احتیاط دا و چې ړومبی یې جاسوسان تاکلي وای چې د اصلي پیښنو احوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکي.

هغه و چي کپتان جان يې ولېږه دی بيرته ژر راغی او دوی يې نا اميده کړه چي مرسته نه وررسېږي ولي ده ليدلي وه چي پښتانه ويښ وه او هوډ يې درلود چي په دغه شپه پر قلعه يرغل وروړي د مرستي له استولو نه عاجز پاته سوه.

د سهار په وخت کي پښتنو په ډېره زړه وره ورځ پر قلعه يرغل وروی د قلعې دروازې ته يې اور واچاوه.

ساتونکي د قلعې د بلي دروازې نه ووا ته چونۍ ته ولاړه، انګرېز چي دا حال وليد خورا سره وخروښېده د ننګ او هم بيري نه يې دا غوره کړه چي خو لښکر د ميجر تر لاس لاندي د محمد شريف قلعې ته ولېږي ويې نيسي.

دا قائد چي په لار کي ولوېده، ګاه پوټېده ګاه به ښکاره تی، انګرېز چي د ده دا حال وکوت دی يې بېرته تم کی، سبا يې لښکر سره تيار کی، د کريفتس تر قيادت لاندي يې ولېږه هغه و چي وروسته تر جګړې عبدالله خان د کپتان اندرسن د لاسه مړ سو د محمد شريف قلعه يې ونيوله باغ شاه يې هم نيم لاندي کی.

وروسته د پښتنو وينه پر جوش راغله د جګړې پر ډګر ور واورېده زښته زړه وري يې ښکاره کړه هغه چي يې د باغ شاه نه د لاسه وتلې وه بيرته يې وا خيسته ډېری يې د انګرېزانو مړه کړه.

د شعبان د مياشتي پر اتمه د کابل قزلباشان په پښتنو پوري ملحق سوه د محمد شريف د قلعې په استحکام کي يې زيار وکښه انګليسانو چي دا وليده په زړو يې داسي روې ننوته چي تر هغه پورته خيال نه سي کېدای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې وخت کې عموم عسکر مشر ناجوړه سو نو د انګلیس مختار وزیر عمومي حاکم یا کونسل چې سرولیم نومېده هوډ وکړه چې د ده پر ځای بل سړی ودروي.

ځکه یې بریګ ډیرمشبل تان[80] راوغوښت هغه هم دا چاره ومنله، څه چې انګرېزی لښکر او د شاه شجاع په بالاحصار کې و سره غونډ یې کی مخ یې پر استحکاماتو ولېږه.

هغه ځای ته چې ورسېده پر ځای د دې چې عسکرو ته د جګړې د پاره زړه ور کې او په ثبات ترغیب ورکې په عسکرو کې ودرېده ویې ویل:-

ویوهېږئ چې د پښتنو د مقاومت توان په موږ کې نسته، که پښه ونجتو تر وروستني سړیه مو ریښه راکاږي، ښه دا ده چې دا ځای پرېږدو ځان جلال آباد ته ورسوو او هورې تحصن[81] غوره کو.

د عسکرو سردار په جواب کې وویل:-

موږ دا ځای په کورته نه پرېږدو څو مو توان وي مدافعه کوو، یقیناً واته زموږ و بیابان ته د پښتنو د مقابلې د پاره خپل ځانونه په لوی لاس د زمرو په خوله کې اچول دي.

دې بېلوالي د ګایي د دوی بېره لا ورډېره کړه. د پښتنو غښتانو په دې حال کې لوړ لوړ سنګرونه چې د لمر خاته او لمر لوېده د خوا مخ پر معسکر خلاص وه ونیوله او د ریکاباش پر برج یې لاس وموند د توپ ګولۍ یې پر پرنګي او توپکو دا یې د

---

[80] په کوټه چاپ کې دا نوم "ویرمشل" لیکلی دئ.
[81] تحصن = کلابند کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی پر وګړو واورولې.

وزیر مختار د شلتان پر حرکت هځه وکړه امر یې ورکی چې د ریکاباش پر قلعه یرغل وروړي لښکر تیار سو هوډ یې وکړ چې د لمر خاته د لوره وروزي، کپتان (بلو) لاړ ورکه کړه له بلې خوا ور ووت نابېره پښتنو حمله پر وکړه پر ده زښته بېره راچاپېره سوه مړینه یې په سترګو ولیده مګر خلاص سو، پښتانه پر راتوی سوه درنه جګړه سره ونښته ډېری یې تر ېنه مړه کړه.

کولونل مکرلان او لیفټنټ برت د خپلو فوجو سره هوډ وکړه چې د کپتان بلو مرسته وکوي مګر پښتنو ځان په منځ کي ورواچاوه قتل عام یې په ګډه کی.

شلتان چي دا هولناک حال وکوت زړه یې وښوهېده پر لښکر یې امر وکی چې حمله وکي په یوه وار یې حمله وکړه مګر بیرته تر شا سوه بیا یې حمله وکړه بیا پر شا کړه سوه.

په وروستني ځل کي پرته بې لیفټنټ برته او یو بل سړي بل څوک ژوندی نه سو پاته مګر پښتنو په دې درنه جګړه کي له د برشو مېړو نه زیات نه بایلوله. انګرېزانو سره له خپله هروز او کره و فره[82] په دې جګړه کي یوازي دا وکړای سوای چي د ریکاباش او ذوالفقار قلعې ونیسي او څه غنم لاس ته راولي لښکر ته یې ورسوي.

ژر شپه پر راغله پښتنو یرغل پر وروی دواړي قلعې یې پر وترلې، په دغه شپه یې بیرته ځني ونیولې انګرېزان یې په ماته ویاسته.

---

[82] کروفر: جاه و جلال، شان و شوکت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ديرلسم د شعبان د مياشتي د پښتنو يو کام ولاړ سو دري توپه يې پر يوه شاګی وخېژوله د لمر لوېدو د خوا يې چې د دوی پر لښکر يې مخ خلاص و اور پر ورکی.

وزير مختار پر شلتان امر وکی چې ميجر شتوين پر وروباسي هغه د يو ټولی عسکرو سره ور ووت، څه شکل پر مخ ولاړ چې د دوی او د پښتنو د پياده ګور په ميانځ کي تر دوولس ګزه شکل زياته مځکه نه وه، سره ګډ سوه، د جګړې اور ولګېده پښتنو په دغه ورځ ښه پښه ونجتله او زښته مړانه يې ښکاره کړه چې جګړه خورا درنه سوه سپاره را پر شا سوه پياده ګور هم ناچار سو پر شا راغله انګرېز شاګی ونيوه د درو توپو څخه د يوه اربه ماته وه دوه نور يې خپل عسکر ګاه ته يووړه.

دي بري د انګرېز په جسد څه روح ننه يوست او نژدې وه هغه عيش او خوښي چې بشپړه يې د لاسه ايستلې وه بيرته لاس ته راولي هغه و چې د جنرل سيل څخه د جلال آباد د خوا خبر وررسېده چې څو ژمی تېر نه سي مرسته ورکول و دوی ته د ده تر وس تېره ده، زښته نااميد سو.

مګر بيا هم د ژوند حرص دوی وګمارله چې د محمد خان د استحکام د لاس راوستو د پاره چې په لار کي د ذخيرې رارسېدو دوی ته سد و، چم جوړ کی مګر ستهورټ مهندس دوی له دې چم جوړولو څخه وګواښله او ويې ويل د انګليس لښکر وروسته د جګړې توان نه لري له دې رای څخه يې مخ وګرزاوه بله رای يې غوره کړه، ملا يې وتړله چې د بيمارو (بي بي مهرو) پر کلي چې خوراکه يې له هغه ځايه موندله لاس وهومي.

هغه و چې ميجر شتوين يې له ډېر لښکر سره ولېږه مګر دا ښکاره سوه چې پښتنو پخوا تر دوی دمخه د هغه کلي د لاس ته راوړو دپاره حرکت کړی دی په دې وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي ژر په ژر يو جګړه پېښه سوه او پر انګليس يې داسې حال جوړ کي چي ډېرو ضابطانو يې ټپونه واخيسته نا اميد پر شا ولاړ.

دوه ويشتمه د شعبان د مياشتي وه چي محمد اکبر خان د باميانو د خوا ښخه کابل ته راورسېده د پښتنو سره يې ملا وتړله مل يې سو.

په دغه ورځ د انګليس رايه پر دې سوه چي پر بېمارو[83] (بي بي مهرو) لاس ومومي وزير مختار شلتان يې وګماره چي وخوځېږي وروسته ده سره له ميجر کارشه لښکر وخوراوه تر څو چي هغي قلا ته ورسېده چي پر هغه کلي سپره وه زياتي تر يوه توپ له دوی ښخه بل څه نه وه او په قلا کي فقط څلو ښت تنه استېده.

شلتان پر ميجر شتوين او ميجر کارش ږغ وکی چي پر قلا هجوم وروړي مګر دوی پر غير عادي لار يرغل وروی، د پښتنو تر توده لاندي ويده يوه ټولی تري نه مړه کړه سوه پخپله ميجر شتوين ټپ واخيست، شلتان چي دا حال وليده ميجر کارش او سلو تنو مهند سينو ته يې امر وکی چي په زښته تلولې ورځ يو استحکام ساز کي چي دوی له دې بلا نه وژغوري، د استحکام کار لا نه و تمام سوی چي د کابل د وګړو ښخه لس زره مېړه په سترګه سوه چي پر غره ولاړ دي او دا غر هم پر دوی سپور دی او ګولۍ يې هم دوی ته رارسي.

ژر په ژره کولونل او ليور امر کړه سوه چي لښکر تيار کي او د قلا په څېر يې ودروي او سپاره د دوی تر شا ودروي هم په دغه توګه پر پښتنو يرغل وروړي.

د پښتنو سپرو چابکي وکړه د دوی پر ښی خوا يې يرغل وروړ، ليفتينينټ واکر يې

---

[83] په کوټه چاپ کي: "بېجارو نومی کلی" ليکلی دئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

محاصره کړ په دې شخړه کې د پښتنو یو غټ ټپي سو، وروسته یې د درو خواوو ځخه عمومي یرغل پر ورو دوی یې زښته سره زمول کړه، سخته جګړه یې وکړه د قتل لاس یې پر بر کی.

انګلیس په دې حال کې د تښتې لار غوښته په سپرو یې جبن ګډ سو قائد چې امر په حرکت ورکی دوی هولکیان سوه پر شا ولاړه هغه و چې پښتنو د دوی پر توپو او ذخیرو لاس وموند ه، ځرنګه چې یو له غټانو ځخه یې ټپی سوی و، دا یې غوره کړه چې مخ پر ښار لاړ سي.

انګلیسانو دا فرصت مغتنم وګاڼه پر غره یې مخ ورونیوه توپ یې بیرته لاسته راووست او خوله یې پر پښتنو وروګرزوله، پښتنو بیرته مخ پر راوګرزاوه کلک یرغل یې پر وروور، د انګلیسانو ټولې یې سره تیت او پرک کړه انګلیسان وګړی وګړي وتښتېده، پښتنو تر عمومي عسکرګاه پوري د دوی استربل ایله نه کی تر ځو چې انګلیسانو سوا له دېوالو ځخه بل استحکام ونه مونده.

ځرنګه چې د انګلیس د خاطر ډګرد د غم لښکر ونیوه او له هره لوره د هیلي او ژغور لار پر وتړله سوه هله یې ځان و تقدیر ته وسپاره د روغي دروازه یې وټکوله هغه و چې وزیر مختار پښتنو ته سفیر ورولېږه د مسالمې مهرباني یې ترې نه وغوښته.

پښتنو وویله: ستاسو غوښتنه په دې شرط منلای سو چې د انګلیس د جنس یو وګړی هم په ملک کې پاته نه سي نور شرطونه یې لا هم وروړاندي کړي وه چې مختار وزیر په هیڅ توګه نسوای قبلولای او منل یې زښته دروند بار و.

بعداً_ وروسته یو د پښتنو له سفراو ځخه جګ سو ویې ویل:-

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قيامت ورځ نزدې ده هغه ورځ به موږ واړه سره غونډ کي ظالم به له مظلومه او حق به له باطله پيل کړي.

وروسته تر څه جګړې پښتنو په پای کي پر شپږمه د روژې د مياشتي د محمد شريف قلا بيرته لاس ته راوړله.

په دې حال کي غولی پر انګرېز تنګ سو او ويې وېده چي په زور يا خوښي بله چاره بې روغي نسته ځکه يې يوه معاهده وليکله چي درلوونکې د څو مادو وه، پخپله اوشلتان او نبکتل او جمريز لاسليک کړه.

پر يوولسمه د روژې د مياشتي دغه وزير د کپتان لارنس او ترزرو مکنيزي او نورو رجالو د سياه سنګ د غره سره نزدې راووا ته. او هورې يې يوه جرګه د پښتنو سره وکړه، دی ودرېده غوښته يې چي د پښتنو زړونه لاسته راولي ويې ويل:-

موږ انګرېزانو تل امير دوست محمد خان ته په درنه سترګه کتلي دي د ده شان مو لوړ بللی دی او عزت مو ورکړی دی.

وروسته يې معاهده راوايستله و جرګې ته يې څرګنده کړه، مضمون يې دا دی:-

پر انګرېزانو لازمه ده چي کندهار، غزني، کابل او جلال آباد او نور د پښتنو ښارونه ايله کي په دې شرط چي پښتانه يو له خپلو غټانو څخه د انګرېزانو سره مل کي چي انګرېزان د پښتنو له ملکه څخه روغ ووزي، وروسته چي هند ته ورسېده هغه سړی (مراد امير دوست محمد دی "مرتب") به بيرته را ايله کي.

پښتنو لره دا لازمه ده چي د کاله به يو لک روپۍ و شاه شجاع ته که په دننه کي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملک وي يا دباندي هر ځای چي استېږي ورکوي.

انګليس به و خپل لښکر ته حکم نه ورکوي چي افغانستان ته داخل سي مګر هغه وخت چي اهالي په دې خوښ وي.

دا معاهده چي محمد اکبرخان ته وړاندي سوه تر حرج او تعديل وروسته يې داسي مقرره کړه چي پر انګرېز لازمه ده چي په درې ورځي کي دا نور ښارونه تش کي او دی به د تشبدو په کار کي مرسته ورسره وکي، انګرېزانو په تلوار پيل د عساکرو و نقل ته وکي د بالاحصار يې ايستله او قلاوي يې په داسي ذلت او مسکنت چي تر هغه زيات سړی خيال نه سي کولای تشولې، د محمد اکبرخان وجدان دا نه قبلوله تر هغو څو دوی قلاوي واړي تشي کي د دوی سره دې مرسته وکي.

پر اتلسم د روژې مبارکي د مياشتي واوره پر ولوېده مصيبت يې پر کوترم کی، ناچاره سوه چي غزني تش کي او خپل لښکر راوغواړي. مختار وزير پر شلم د روژې د ښتنو سره يو مجلس جوړ کی، پښتنو د انګرېزانو څخه نيمه حصه د توپو او جبه خانو چي د انګرېزانو په لاس کي وه څني ويې غوښته، نوموړي وزير په بې وزلي سره د دوی غوښته ومنله بلکه لا علاوه پر هغه يې د خپلي وعدې د ټينګار دپاره کپتان کيلي او کپتان ابري د رهن[84] په ډول دوی ته پرېښود.

پر دوه ويشتم د روژې مستر اسکنيز چي د محمد اکبرخان په لاس کي بندي و، مختار وزير ته ورغی خبر يې ورکی چي محمد اکبر خان د يو سخت کار غوښته زما څخه کوي، صورت يې ربړېدېده ژبه يې بند بده، ويې ويل:-

---

(84) رهن: ګروګان، يرغمل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه غواړي چي په خپله ته سره د عسکري ضابطانو ده ته ورسي چي هغه ستا سره يو مخيزه فيصله وکړي. وزير چي دا خبره واورېده بې اطاعته يې بله چاره ونه ليده مګر له وروستني غدره ببرېده وروسته يې د تياري ږغ پر لښکرو وکی. د لښکر د مشرانو سره د تپې پر خوا وخوځېده هلته يې د محمد اکبر خان د قدوم انتظار کاوه لږ وخت تېر سو چي هغه د ځيني پښتني خانانو سره راورسګېده، د مختار وزير سره يې روغبړ وکی، دغه رنګه هر خان د فوځي ضابطانو سره بېل بېل روغبړ وکی.

وروسته د پښتنو سپاره يو ــ يو، دوه ــ دوه پر دوی راتوی سوه محمد اکبر خان ناره کړه چي هر يو له تاسي څخه چي له يوه سره يې روغبړ کړی دی حمله پر وروړی، هغو هم دغسي وکړه د مختار وزير لاسونه يې پرېکړه په داسي حال کي چي ده ناري د واويلا واغوثا وهلي کوتی يې اُزُو ور ببل کی د کابل په کوڅو کي يې د نمايش په ډول څکاوه تر واريه (ترېور) يې پر يو لار په دار وځړاوه.

لنفټيننټ ابري چي د دي واقعي روايت کوي د انګرېزانو د عقل ضعف او سپتانه د دوی د لويانو ښکاره کوي.

دی د محی الدين خان په لاس کي بندي و د محمد اکبر خان حضور ته يې راووست محمد اکبر خان په داسي سترګو چي قهر او غضب تر څڅېده ده ته يې وکتل او ويې ويل:-

ای انګرېزه ! تاسي زموږ ملک ته هيله اچولي ده، ومو ليده چي په خپله سزا ورسېداست. سره له دغه زه تا بخښمه ځکه چي څه اړی ستا وژلو ته نه لرم، وروسته يې د ده ساتنه د ملا مومن پر اوږه واچوله.

وروسته ميجر پاتنجر چي خلف و د مختار وزير چي سروليم نومېده هوډ يې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د پښتنو سره بله جرګه جوړه کړي.

موږ صلح په دې لاندني شرطو سره کولای سو :-

1. ستاسي لښکر دي توپونه موږ ته راپرېږدي، پرته بې شپږ توپه نور دي ځانته نه پرېږدي.
2. هر څه مالونه او سامانونه او درانه شيان چي په خزانه اړه لري موږ ته دي راوسپارل سي.
3. يو ډله د مشرانو څخه د انګرېزانو سره د ښځو او اولادو دې د ګروی په ډول موږ ته راپرېږدي.
4. څوارلس لکه روپۍ چي مختار وزير يې د راکړن وعده کړېده هغه وعده دې پر ځای کړه سي.

دوی چي دا شرطونه واروېده وپوهېده چي دا هغه ځای دی چي هغه د ګيدړو لوبي او خبلي[85] چي د انګرېز طبيعت په هغه عادت نيولی دی پر مخ نه ځي، بلکه د تېغ او توري ځای دی، ځکه يې بې قبلولو بله چاره ونه ليده، که څه هم شرطونه ډېر ورانوه او ځروکړي هيڅکله هغه ته غاړه نه ايږدي. جنرل الفنستن هوډه وکړه چي لويي او غيرت ښکاره کي ځان يې لکه پشي وپړساوه مګر دې پړسېدو د ده د انګرېزانو په نفس کي څه تودوخه پيدا نه کړه. بلکه داسي سوه چي د لښکر مشرانو پر نونسم د روژې موافقت ورسره وکی.

کپتان واربرتن، کپتان دب، کپتان درمند او کپتان وانسن يې سره د دوی د ښځو او کوچنيانو د رهن په توګه پرېښوول، زخميان يې د يوه پښتانه کره وسپارله،

---

(85) خبلي = چمونه، چمبازی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني طبيبان يې و علاج ته وګمارله، پنځه توپه يې و پښتنو ته پرېښوول.

د کوچني اختر د مياشتي پر شپږمه سره د نهه توپو او دوولس زره اوښه چي نر او ښځي يې پر سپاره وه وخوزېده، پياده لښکر يې وروسته وروسته په پسې و، په لار کي يو ولې[86] ته ورسېده چي پوري واته)باندي(ضروري وه، او پرته بې يوه پله بله لار د پوري وتو هم نه وه، وروسته تر ډېرو زحمتو او تلفاتو پوري واته، لږ لار چي يې پرې کړه بکران[87] ته ورسېده.

پښتانه چي هر ځاى وه د دوى په ځان بلا وه، د دوى استربل يې نه پرېښود د دوى په څرک پسي لکه وږي شرمښان راورسېده ځاى پر ځاى او ټاپي پر ټاپي يې دوى شکوله او ټونګرى (؟) يې يو بل توپ هم ځني يووى. او محمد اکبر خان ته يې وروى.

محمد اکبر خان بيرته راوګرزېده پر دوى يې شرط کښېښود چي د خپلو لويانو څخه شپږ کسه نور په ګروي کي راپرېږدي دوى هم قبوله کړه او وعده يې وکړه چي په کورته به بيا يوه ډزه د پښتنو پر مخ هم نه کوي او نه به وسله پر دوى راباسي په دې شرط چي پښتانه به هم دوى ته ضرر نه رسوي او نه به د دوى ازوغ ځني وړي.

وروسته تر څه وخت په دغه خواري او بده ورځ بت خاک ته ورسېده. د کوچني اختر پر اتمه پښتنو بيا ډزي پر وکړې ميجر شتوين د دفع هوډه وکړه مګر ويې نسواى کولاى.
محمد اکبر خان بيا يوه بله ډله علاوه پر هغه پخوانيو وکړو د رهن په توګه

---

[86] وياله.
[87] ښايي چي بګرام دي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وغونبتله بله ډله يې وروسپارله څو چي سالم پاته سوه د خورد کابل[88] لاري ته ورسېده خورد کابل د غرو يوه سلسله ده چي څو ميله اوږدوالى لري، لار چي پر هغه ښايي سړى تېر سي د غره په بېخ کي تېره سوې ده. د لاري يوې خواته يوه شېله ده چي شپېته ګزه تر غره لاندي بهېږي و بل لوري ته يې جګ غر ولاړ دى.

په دې ځاى کي بيا پښتانه پر راغله دوى يې محاصره کړه بل توپ يې ځني واخيست. او لا خورد کابل ته نه وه رسېدلي چي درې زره وګړي يې ځني مړه کړه، او ډېري غوره ذخيرې يې ځني يووړې.

پر نهمه د کوچني اختر په داسي حال کي چي د دوى ژوندو د مړو سره حسد کاوه په هغه وخت کي چي د کوچ اراده يې درلوده د دوى د ښځو او کوچنيانو د حفاظت خبر د محمداکبر خان د خوا وورسېده دا چي يې واورېده څه په خاطر پوره سوه او په تن کي يې لږ څه د اميد روح و پوتځېده.

پر لسمه د دغي مياشتي په داسي حال کي چي دوى په کوچ اخته وه پښتنو بيا تاړاک پر راوى د هري خوا يې د تښتي لار پر وتړله، توري يې و کښېي. انګرېزان زښت هولکيان سوه تر داسي حده چي هندوستاني لښکر يې وسله واچوله مخ يې و تښتي ته کښېښو. مګر د ژغور لار د هر لوري تړلې وه او نجات د مرګه څخه ناممکن و.

انګرېزان لا و قبر جبار[89] ته نه وه رسېدلي چي د پښتنو تورو دوى د ريښو وکښه مالونه او ذخيرې يې ځني يووړې پرته بې يوه توپه بل شى نه وه ور پاته د "هفت

---

[88] په کوټه چاپ کي "واړه کابل" ليکلى دى، (خورد کابل) اسم خاص دئ بايد ونه ژباړل سي، "مرتب".

[89] په خاک جبار مشهور دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوتل "لار د مړو د لاښو ډکه وه.

لنډه دا ده چي د هغه منتظم لښکر څخه د دوی دوولس زره وګړي له هغي روځي څخه چي راوتلي وه تر هغي روځي پوري چي کټه سنګ ته ورسېده په قتل ورسېده د غیر منتظمه لښکرو د مړو تعداد یې خدای (ج) ته معلوم دی.

په هغه ورځ چي کتر سنګ ته ورسېده یوه بله ډله یې په بند ولاړه او یو توپ چي ورپاته و هغه یې هم بایلو.

پر یوولسم د کوچني اختر له کتر سنګ څخه د جګدلک[90] پر لور وخوزېده مازدیګر هلته ورسېده پر تپه وخاته صفونه یې وتړله د پښتنو د بېرولو د پاره یې زړه وري او جلادت ښکاره کاوه پښتنو چي دا ننداره ولیده د خښم وینې یې وایشېدې ځکه یې تر دوی لوړ ځای وټاکه او د توپو خولې یې پر را خلاصي کړې.

هغه و چي محمد اکبر خان اسکنیز راوغوښت ورته ویې ویل پرته بې دې بله چاره نه لرې چي شلیتان او جانسن هم په ګرو کې راپرېږدې په دغه خبرو اترو کې اسکنیز ناخبره و چي ډزه یې پر وکړه مړ یې کی.

انګریزانو چي دا ننداره ولیده وغورځېده جلال آباد ته رهي سوه پښتنو توره وکښله له هره لوره یې د دوی استربل ونیوه په دې ځای کې یې د مړو شمېر تر خورد کابل ډېر و.

په سهار د شوال د دیرلسمي پښتانه وپوهېده چي د انګریزانو وګړو شمېر پر مخ لږ

---

[90] په کوټه چاپ کې: "چکولی "لیکلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سو نو په منځ کي د دوی ګرزېده ځيني يې وژله ځيني يې ژوندي بېوله پرته له ډاکتر برېدون بل غوړ نجات ونه مونده ډاکتر برېدون مخ تښتي ته کښېښنو ، جلال آباد ته ورسېده له هغه ځايه يې مستقيماً انګرېزانو ته خبر ورکی. پښتانه پوهېده چي د دوی د مکرو او حيلو خبري پرته د دوی د بهاندو وينو بل شی نه سي پرېولای او د توزنانو[91] سترګي بې د ګور د خاورو بل شی نسي ډکولای ځکه يې د انګرېزانو ويني وبهولې د غرو څوکي يې د دوی هديري کړې. د عهد نه پاللو مړغونه يې په دوی ښه وڅکله.

محمد اکبر خان د دوی د لښکرو ښځي او هلوکان او زخميان د ځان سره واخيستل مخ پر کابل وخوزېده، کيفيت او حالت د انګرېز د لښکرو په کابل کي پر دغه ځای پای ته ورسېده.

د انګرېز لښکر چي د غزني په ښار کي اوسېده هم په دغه حال اخته سو لکه لمړی لښکر چي په اخته سوی و. ځيني يې د يخه مړه سوه څه يې په توره د پښتانه قتل سوه. څوک يې بنديان ونيول سوه، او په مياشتو مياشتو په بند کي پاته سوه وروسته کابل ته ولېږل سوه چي محمد اکبر خان ډېر په عزت د دوی استقبال وکی او هلته د ميجر پاتنجر سره يو ځای سوه.

وروسته تر دې واقعې محمد اکبر خان د دوی و ضابطانو ته خپلې توري بيرته ورکړې او څه روپۍ يې هم وروبخښلې د دوی د ښځو سره يې مهرباني وکړه او د دوی اولادونه يې په تخرګ کي د رحم او شفقت ونيوله.

وروسته داسي پېښه سوه چي شجاع الدوله خان بارکزايي شاه شجاع مړ کی په

---

[91] توزن = طمع کوونکی، بې همته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتنو کي لګه درګه ګډه سوه، ډلي يې جوړي کړې يوه ډله د بلي پر مخ ودرېده په ملک کي جګړې پيښې سوې لويانو او مشرانو وطن سره وويشه د محمد اکبر خان لښکر تر ښار د باندي و، فتح جنګ د شاه شجاع زوی هم په دوی پوري و. په دې منځ کي د انګرېزانو عسکر چي د ژمي او سړو په سبب په کندهار کي بند پاته وه د کابل پر لور وخوزېده څه مدد هم ورته ورسېده څه جګړه د دوی او د محمد اکبر خان د لښکرو په ميانځ کي وسوه په نتيجه کي يې سوله وکړه د انګرېزانو د بنديانو لار خلاصه سوه جنرل بولوک[92] وعده وکړه چي امير دوست محمد خان به د خپله کهوله سره افغانستان ته لېږي. د انګرېز لښکر چي د پښتنو دا نفاق او اختلاف د قول او بيان وليد او دا يې وکته چي ځوک نسته چي زموږ مخي ته دي راسي پر ښارو يې تاړاک واچاوه په چارچته يې اور ولګاوه چارچته يو مشهور بازار دی چي د سلطان هند اورنګزېب د وخته څخه موجود دی له عجيبه و بناو[93] څخه دی پرله پسي بندونه او ګردشونه لري اوږدوالی يې شپږ سوه او بر يې د پرش قدمه دی پر د يوالو باندي يې ډول ډول نقشونه او تصويرونه کښل سوي دي پښتنو د مختار وزير سروليم لاښ هم په دغه بازار کي ځړولی و.

وروسته يې مخ د استالف پر کلي ونيوه ښځه او نر، کوچنی او لوی، جوړ او ناجوړ واړه يې په قتل ورسوله محمد اکبر خان او د کابل وګړي په دې وخت کي غرو ته وخاته.

ځرنګه چي د انګليس لښکرو د کسات په اخيستو کي د پښتنو څخه ځانونه کامياب وګڼله دا ښېره ورسره وه چي له موږ سره به هم دغسي وکړه سي بې له دې چي تم سي د هند پر لور وتښتېده.

---

[92] جنرال پالک؟

[93] بناوي = ودانۍ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډه دا چي شاه شجاع چي د سلطنت طمع او هیله یې کړې وه وینه یې هدر ولاړه انګرېزانو چي دا حرص درلود چي د پښتنو تېک ونیسي او فایده ځني واخلي د دوی د استوګني ځایونه د دوی قبرونه سوه، پښتنو چي د دوی د ښځو او اولاد ساتنه کړې وه او قتل عام چي انګرېز په ښځو، کوچنیانو او ناجوړو کي د استالف ګډ کړی و، و دنیا ته یې دا ښکاره کړه چي:-

طبیعي ښه خصایل او شریف اخلاق ډېري استوګي په غرو کي هیڅ بدل نه کړه او پست کوړنګ طبایع علومو او معارفو مهذب نه کړه او چینو د تربیت پرې نه ولـه او پاک یې نکړه.

وروسته تر دې انګرېزانو امیر دوست محمد خان له اسارته خلاص کی کابل ته یې ولېږه (او هغه) په خپله پر کابل او جلال آباد او شاوخوا یې بری ومونده.

د دوست محمد خان ورور کهندل خان چي دمخه مو یې ذکر وکړ، سره له نورو ورونو یې د ایران پاچا ته التجا وروړه چي وایې روبده چي د انګلیس لښکرو کندهار خالي کړی دی د شاه په مرسته یې لښکر تیار کی او مخ پر کندهار یې ور وخوزاوه، وروسته تر لږ جګړې چي د ده او سدوزو په میانځ کي وسوه پر کندهار یې بری ومونده فرمان یې پر خواوشا خپور سو.

دغه ډول د ده او دوست محمد خان په میانځ کي جګړې وسوې، بری د امیر و خواته و، (امیر) لښکر یې د هرات پر لور وپونځاوه مګر نا امیده بیرته راوګرزېده. وروسته تر څو کاله له امارت څخه د امیر، رنجیت سنګهـ په پېښور کي د ده پر لښکر تاړاک وروی، ګاه یو غالب ګاه بل مغلوب و.

څرنګه چي جګړې ډېر ځنډ وخوړ او له دواړو خواوو څخه ډېر وګړي په قتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسېده انګرېزانو داسي وګڼله چي پېښور ته ننوا ته د پنجاب کيلي بلل کېږي او د دې ځای لاندي کېده د امير تر لاس سبب د مړوچه کېدو د امير ګرځي او هم د انګرېزانو و هندوستان ته خلل پېښوي. ځکه يې هڅه وکړه چي په منځ کي د دوی سوله وکي دا شرط يې کښېښنو چي د پېښور ښار دې د رنجيت سنګهـ په لاس کي وي.

انګرېزانو په دې حرکت کي خپل نه يوازي د هند څخه د خلل لاري وتړلي بلکه دا يې هم اراده درلوده چي د خپلي استېلا لار و هغه ته خلاصه کي ځکه چي انګرېز په دې پوهېده چي د رنجيت سنګهـ پاچهي چي ده جوړه کړېده زښته پر سُستـه پايـه جوړه سوې ده او د غسي هم وه چي لږ وخت وروسته تر سولي يې هغه استېلا کي.

په دغه لګه درګه کي کهندل خان مړ سو، د ورونو يې په منځ پر پاچهی جګړې پېښي سوې يو له بله قتلونه وسوه، ويني وبهيدې وروسته د ټولو پر دې اتفاق سو چي دوست محمد خان په خپل منځ کي حاکم وټاکي.

دوست محمد خان چي خبر سو مخ پر کندهار يې لښکر وخوزاوه کندهار يې فتح کي او هر يوه ته د دوی يې دپاره د دې چي د فتني او شر لار وتړي مواجب مقرر کړه چي هره مياشت به ورکول کېږي هغه و چي دغه اقدام د ده پاچهي پر ټولو پښتني ښارو باندي نتيجه ورکړه په دې وخت کي يې خپل زوی محمد اکرم د بلخ و خوا تـه چي د انګرېز د بري په وخت کي ياغيان سوي وه او د استقلال ډول يې ډنګولی و، واستاوه بيرته يې د پښتـانه تر اطاعت لاندي راوسته پرته د هرات بې ښاره نور اصلي ځايونه د پښتنو د ښارو څخه د ده تر سلطه دباندي پاته نه سوه، لکه دمخه چي مو ذکر وکړ هرات د کامران په لاس کي و، دې زړه ور سړي بشپړه شل مياشتي په ډېره پوهه سره، سره له دې چي خورا لږ لښکر يې و، د ايران د لښکر مقابله وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته شهوت پر ده بري وموندە، هوا او هوس لاندي کی، په نشو او مسکراتو کي ډوب سو، په دې سبب پښتانه ځني خواپوته سوه خپل وزیر یارمحمد خان بامیزي بازی په کولې تر خو چي د ښار دباندي یې دی مړ کی او پر ملک یې غېګړ راوګرزوله، د ده د مړیني سره د سدوزو د پښت سلطه د پښتانه له ښارو ځخه پرې سوه.

لنډه دا ده هغه چي احمد شاه سدوزي لکه وسیع ملکونه او بشپړه سلطه د خپلي زړه وری او پوهي او عدالت اقتصاد په معشیت کي لاس ته راوستلي وه د ده زامنانو، لمسیانو، کړوسیانو په نتیجه کي د جبن جور[94] په شهوتو کي ډوبتیا، ضایع او د لاسه وایسته.

نوموړي وزیر د ایران د پاچا سره مراوده درلوده د خپلو ښارو د ساتني دپاره یې د ده پر اوږه تکیه کوله.

وروسته د ده تر مړیني د ده زوی سید محمد خان د شاه په مرسته د پلار استخلاف وکی سید محمد خان یو ناپوه، بد اخلاق، سنګدل، ظالم او بېرحمه خلف و. د پښتنو زړونه ده ته له غضبه ډک سوه، فتنه (یې) په پرته کړه، شاهزاده یوسف سدوزی چي په هغه وخت کي په مشهد کي اوسېده راویې غوښت د شاه ځخه یې هیله وکړه چي دی د لښکر سره راولېږي شاه هم دغسې وکړه دی سره د ایران د لښکره بې مانعه د هرات ښار ته ننووت او سید محمد خان یې مړ کی.

وروسته په هرات کي ځیني فتني ولوېدې، ناصرالدین شاه د بري دپاره فرصت غنیمت وباله لښکر یې د سلطان مراد میرزا تر قوماندە لاندي په سنه 1274 کي

---

[94] جبن: بېره، بې زړه توب. جور: ظلم ــ ستم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخوزاوه خو روځي يې هرات په محاصره کي واچاوه ويې نيوه هرات يې د ايران تر پاچهۍ لاندي کی.

انګرېز چي دا واروېده په خبنم سو ځکه چي دی پوهېده چي هرات دروازه او کيلي د هندوستان ده ژر يې لښکر د خليج فارس وخواته ولاړ کی، بوشهر، بندر جزيره، خارق او بلده محمديه[95] يې دپاره د دې چي شاه وبېروي او هغه خلل چي وروسته ځني پېښېږي او هيجان چي په هندوستان کي په سبب د ګرځند بدو د خبرد پرمخ تللو د ايراني لښکرو پښتانه په مځکه کي استېلا کړه.

يو کال وروسته له دې واقعي سوله سره وسوه انګليس تر خپله هوډ چي ايران ته يې درلوده تېر سو په دې شرط چي شاه دي يو پښتون په هرات کي حاکم ودروي او لښکر دي له هراته بېرته ايران ته وغواړي.

شاه د امير د اکا زوی چي خسر يې کېده په مشوره د انګرېز په هرات کي والي کښېناوه په دې شرط چي سکه به د شاه پر نامه وهله کېږي او خطبه به هم د هغه پر نامه ويله کېږي.

سره له دې هم د انګرېز زړه پوره نه سو وروسته تر څو کاله يې امير دوست محمد خان وپوهاوه چي هرات ونيسي، وعده يې ورسره وکړه چي خپل لښکر به ورکوي چي ملک يې په ساتلی وي. دپاره د دې چي يو امارت چي په مېانځ کي د هندوستان او روس يو کروړ د بوال وي په مېانځنۍ ايشيا کي قايم کړه سي.

هغه وچي امير لښکر تيار کی د هرات پر لور يې وخوزاوه هرات يې تر ډېر وخته پوري په محاصره کي واچاوه په دغه هاړودوړ کي سلطان محمد خان چي دننه په

[95] د کوټي چاپ کي: "د محمره په ښار" ليکلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلا کي و وفات سو د ده له وفات څومري وخت نه و تېر سوی چي په خپله امير هم په خپله چوڼۍ کي مړ سو.

وروسته د لښکر مشرانو امر وکی چي پر قلا هجوم وروړي وروسته تر څو حملو په 1280 کال کي په ډېر زيار او سختۍ ښار ونيوه سو. امير دوست محمد خان عاقل، زيرک، هوښيار سړی و، طبيعت يې نرم او پوست و، د ظلم هڅه يې نه درلوده د خپلو ورونو زړونه يې په ښه سلوک ځان رخي کښلي[96] وه. که څه هم تولهٔ په عمر تر ده لوی وه ده ته يې خضوع او اطاعت درلود او د ده تر نقشه د تدبير او حکمت لاندي يې سلطنت تاسيس کړی و.

امير دوست محمد خان ډېر زامن درلوده د هغه غوره او هوښيار زوی يې محمد اکبر خان و چي د پښتانه ملک يې د انګرېز د حرص د منګلو ويوست دی يې خپل وليعهد وټاکه.

څرنګه چي نوموړی د پلار په ژوند کي وفات سو د ده ورور شېرعليخان د ده ځای ونيوه که څه هم امير په ټاکلو کي د ده د ورور رعايت د محمد اکبر چي د ده سره يې خصوصاً او په تېره بيا د پښتنو سره عموماً احسان کړی و د حقونو وکی مګر د ملت د حقونو ساتنه يې ونکړه او نه يې دي ته وکتله چي پر دې باندي په څه توګه خطرونه بنا کېږي، څرنګه چي ځيني ورونه د شېرعليخان په عمر کي تر ده لوی وه سر يې ده ته نه کښېته کاوه هغه و چي فتنې ولاړي سوې، ويني وبهيدې، ښارونه خراب سوه. امير په هرات ولايت کي د پښتانه يو له خپلو زامنو څخه والي مقرر کی مګر امير په مقربدو کي د خپل زامنانو د پښتانه د ملک په ولاياتو کي يوه بله سهوه وکړه، ولي د پښتانه ملک قانوني ملک نه دی امير په خپل دغه حرکت

(96) رخي کښلي: کش کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د فتنې او بغاوت موقعیت دوی ته ورکی.

لکه دمخه چې وویل سوه امیر په وخت کې د هرات د محاصرې په خپله چوڼۍ کې وفات سو، له زامنو څخه یې شېرعلیخان ولیعهد سو، محمد امین خان او محمد اسلم خان[97] په معسکر کې حضور درلودی.

شېرعلیخان یو خاین وزیر له غلجو څخه درلودی چې محمدرفیق نومېده دی یې وپوڼځاوه چې دا نور ورونه تر خپل لاس لاندې راوله، داسې یې ورته وویله:-

ستا سلطه تر هغو پورې چې دا بې واکو والیان په تیره بیا هغه تر تا مشران دي موجود وي ټینګار نه سي موندلای. دا خبر څرګنده سوه او د هغه چا تر غوږه چې په معسکر کې وه ورسېده هر یوه په دغه شپه مخ تښتې ته کښېښوه هر والي د خپل ولایت و لور ته ولاړ. شېر علیخان چې د دوی په تېښته خبر سو د هرات د ښار په تنظیم اخته او خپل زوی محمد یعقوب خان یې د هغه ځای والي مقرر کی په خپله بې له دې چې پر هغو ځایونو چې ورونو یې استېلا کړې وه تعرض وکی د بلخ لار یې ونیوله، هوډ یې وکړ چې خپل لوی ورور محمد افضل خان ته چې خلکو په درنه سترګه ورته کتله او هم د لښکر د خوا تر نورو ورونو مروچه و، چم وکی او تر خپل لاس یې لاندې کی.

چې د بلخ شاوخوا ته ورسېده لیک یې ورولېږه داسې هیله یې وړاند کړه:-

ته زموږ لوی او مشر ورور یې دا ښایي چې د وطن په اصلاح کې د فساد په ورکېدو کې او د ورونو په اتحاد کې زیار وباسې، زه عهد کومه چې ستا له امره به

---

[97] په کوټه چاپ کې دا نومونه: "محمداعظم خان، محمدحسن خان، محمداسلام خان" راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر ونه پېچم او وانښکی د اطاعت ستا به غاړي ته وانه چوم.

محمد افضل خان چي د لیک د مضمون نه خبر سو ، په وغولېده ورته راغی (د) شېر علي زړه پوره سو دی يې ونیاوه بندي يې کی د هغه زوی عبدالرحمن مخ پر بخارا وتښتېده. بلخ د ده (شېرعلیخان) په تصرف کي سو خپل ورور فیض محمد خان يې هورېږ والي مقرر کی پخپله مخ پر کابل راوګرځېده.

وروسته يې لښکر غونډ کی د خپل وزیر محمدرفیق تر قیادت لاندي يې د محمد اعظم د مقابلي دپاره د کرم پر لور ولېږه، محمد اعظم د محمدافضل ورور په لومړی حمله مات سو مخ پر هند وتښتېده.

چي د دغه لوړني نومړو د کاره خلاص سو خپل زوی محمد ابراهیم خان ضعیف الفکر يې د کابل حاکم وټاکه پخپله دپاره د نیولو د خپل ورور محمدامین خان د کندهار وخواته وخوزېده.

چي د غلجو کلات ته ورسېده ورور يې سره له لښکره مخ ته ودرېده جګړه پېښه سوه په نتیجه کي د ده زوی محمدعلي او امین ورور يې په قتل ورسېده، په اثر کي د دې واقعي پر دماغ د شېر علي وسوسو او وهمونو غلبه وکړه په نتیجه کي يې حکومت او اداره د لښکرو پرېښووله په قندهار کي د عزلت په کنج کي کښېنوست هغه وخت چي خبر د تغیر د حال او عزلت پیغام د ده و عبدالرحمن ته ورسېده له بخارا څخه د بلخ پر لور وخوزېده وروسته تر لږو جګړو يې د فیض محمد خان په اوږه هغه اُلکه ونیوله.

د محمد اعظم خان سره څکه چي انګرېز ښه مخ نه وری هند يې پرېښو بلخ ته ولاړی په عبدالرحمن پوري ملحق سو کار يې مړوچه سو تکړه لښکر يې تیار کی د کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار ته يې هوډه وکړه د کابل تر رسېدو د مخه په باجګاه کې د دوی او د محمد ابراهيم خان د شېرعليخان د زوی د لښکرو په ميانځ کې محاربه پېښه سوه په نتيجه کې د محمد ابراهيم خان لښکرو ماتې وکړه په خپله ده کابل پرېښو، د بيري څخه قندهار ته ولاړ.
په دې وخت کې محمد رفيق خان د شېر عليخان وزير په کابل کې و په ډېر ورين تندي يې د دوی هرکلی وکی په سلامتي او مبارکي کابل ته ننواته وروسته يې يوه ډله عسکر د جلال آباد و خواته ولېږله فتح يې کی، ځرنګه چې خبره ورځ په ورځ درنه او کار سخت سو شېر عليخان د غفلت له خوبه ويښ سو او د غم و بېهوښی څخه پر سد سو، بيا يې لښکر تيار کی مخ پر کابل ولاړ، په غزني او شېخ آباد کې د محمد عظيم او عبدالرحمن تکړه لښکرو سره مخامخ سو د جګړې اور ولګېده محمدعظيم بری وموندہ شېر عليخان ماتې وکړه مخ پر کندهار ولاړ، محمدعظيم په غزني ننووت خپل ورور محمدافضل يې د حبسه ايله کی وروسته څه ده څه د ده عسکرو د ده پاچهي ومنله.

دا بری چې يې وموندہ کابل ته وګرزېده محمدعظيم خان وليده چې محمد رفيق زيار کاږي چې نفاق او لګه درګه د خانانو او مشرانو په ميانځ کې واچوي ځکه دی د پخوانی فتنې په جزا او دا چې خپل بادار يې پرې ايښی و او خيانت يې ورسره کړی و او استربل يې زيارکښه چې فساد واچوي په قتل ورساوه.

وروسته محمداعظم لښکرونه راغونډ کړه د کندهار پر لور وخوزېده د غلجو په کلات کې د امير شېر عليخان سره مخامخ سو، د دواړو خواوو لښکر سره ونښته شېر عليخان په دغه شخړه کې زښته زړه وري ښکاره کړه مګر د ده د زړه قوت سبب د ثبات د ده د عساکرو په سبب د ډېرو ماتو چې زښت يې بې زړه کړي وه ونه ګرزېده ناچار سو قندهار يې ايله کی مخ پر هرات ولاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو مياشتي وروسته د يوې ډلي سپرو سره مخ پر بلخ ولاړی او يو لوی شمېر د ازبکو او پښتنو جګړاليان يې سره ټول کړه.د فيض محمد خان تر لاس لاندي يې د کوهستان د سختي لاري څخه پر کابل واستوله په پنجشير کي د عبدالرحمن خان سره مخامخ سوه دواړو خواوو لاس سره واچاوه په دغه شخړه کي فيض محمد خان په قتل ورسېده ګويا د ده اقبال او ادبار، وفاق او نفاق واړو د ده مرګ غوښتی. شېر علي خپل توپونه ايله کړه ولاړ غرو ته وخوت پر هغه مخ بلخ ته ولاړ، ځرنګه چي پوهېده چي عبدالرحمن خان دی نه پسي پر ېږدي له هغه ځايه څخه هرات ته وغورځېده په هغه ځای کي يې سکته وکړه[98].

په دې وخت کي محمد افضل خان چي د علم او علماوو مين او د ظلم څخه يې بد راتله وفات سو، محمد اعظم خان وروريې استخلاف وکی.

چي پر تخت کښېنوست آرام سو خپل د مړه ورور زوی عبدالرحمن يې بلخ ته ولېږه او اسمعيل خان د محمد امين خان په زوی يې دی مړوجه کی چي وکولای سي هغه اور د فتنې چي د ازبکو او پښتنو په منځ کي لګېدلی و مړ کی.

(اعظم خان) خپل زوی محمد سرور خان يې د کندهار والي وټاکه، او خپل بل زوی عبدالعزيز خان چي په دغه وخت کي يې عمر شپاړس کاله و د هغه ځای د لښکرو په رياست مقرر کی. دا ځوان رئيس غرور پر سر واخيست بې له دې چي پلار په خبر سي لښکر يې غونډ کی او د هرات پر لور يې وخوزاوه چي ګرشک ته ورسېده د شېرعليخان د زوی محمد يعقوب خان سره مخامخ سو، ځوان رئيس نابېره د دوه سوه پياده و سره د غليم د لښکر پر قلب حمله وروړه يو توپ يې ونيوه، توپچي يې مړ کی د توپ پر سر کښېنوست د محمد يعقوب خان لښکر چي وليده چي مرسته

---

[98] سکته (د لومړي دوهم او دريم په فتحه) = قناعت، صبر، دمه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ورته رارسېږي له هره لور پر ده راوګرځېده ويې نياوه لښکر يې سره وپاشل سو لکه د شرقيانو عادت چي دی چي په وخت کي د رئيس د بايللو تښتي، دوی هم مخ تښتي ته کښېښنو.

وروسته محمد يعقوب خان مخ پر قندهار حرکت وکی قندهار يې بې ټکه ټوکه لاس ته راووست، شېرعليخان چي دا خبره واروېده زړه يې قوت ومونده په سر کي يې هوډي جوش وخوړ د جمشيدي او فيروزکوهي سپرو سره يې د کندهار د ښار قصد وکی.

پاشلي عسکر يې د دې ځايه سره غونډ کړه، د خپله زويه سره د کابل پر لور روان سو د مقر په وادي کي چي له غزني شپږ فرسخه ليري ده د محمد اعظم خان سره مقابل سو دواړو خواوو هڅه وکړه چي استحکامات جوړ کي او خندقونه پرې کي. محمد اعظم چي واروېده چي شېرعليخان هم د مقابل لښکر سره يو ځای دی، بلخ ته يې خبر ورکی خاين اسمعيل يې راوغوښت، ولي پوهېده چي هغه د شېرعليخان و وينو ته ناست دی، ځکه چي د ده پلار يې وژلی و او خورا يې سپک کړی و. اسمعيل له بلخ څخه لښکر وخوځاوه په کوهستان کي يې پښه ونيوه هغه و چي دواړه لښکره د مقر پر دښت په جګړه سره ګډ سوه ده د کابل پر ښار تاړاک يووی د شېر علي خان په نامه يې ږغ پورته کی په دې خيال سره چي شېرعليخان به دی د پلار پر ځای په قندهار کي والي وټاکي.

په رسېدو د دې خبر د محمد اعظم پر لښکرو د نااميدی لښکرو بری ومونده بې اتفاقي پکښې ولوېده څرنګه چي ځانونه يې د دوو لښکرو په منځ کي وليده او وپوهېده چي ازوغ نه سي رارسېدای په فکرو او خيالاتو کي يې اختلاف پيدا سو.

محمداعظم وپوهېده چي پر داسي لښکر چي په داسي ببره اخته دی بې زړه سوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، مات دی او خاص بيا زړه وري د جمشيدي سپرو چي تل پر اطرافو د معسکر حمله هجوم وړي نه ښايي چي تکيه وکړه سي د بلخ وخواته وتښتېده د خپل وراره عبدالرحمن سره يو ځای سو شېر عليخان وروسته تر ډېر وخت هجرانه د کابل په ښار ننووت. د خلکو د خوا يې په ورين تندي هرکلی وسو، ولي ده د خپلو ښو اخلاقو او هڅه نه درلودل و ظلم ته د خلکو د محبوب درجه مونډلي وه. محمد اعظم خان او عبدالرحمن ډېر زيار ويوست چي د ازبکو او هزاره لښکر غونډ کي د هزاري له لاري څخه د غزني خواته وخوزېده شېر علي د جګړي په ډګر کي ورسره ودرېده وروسته تر کلکو جګړو د محمد اعظم او عبدالرحمن لښکر مخ تښتي ته کښېښو، مشهد ته ولاړه عبدالرحمن په دغه ځای کي د خپله اکا څخه بېل سو، بخارا ته ولاړ او په سمرقند کي يې استوګه غوره کړه تر ننه پوري هلته استېږي.

محمد اعظم د ايران په لار کي د نيشاپور په ښار کي وفات سو، دی يو مدبر، هوښيار سړی و، عدل يې خوښ و مګر ضرورت او طبيعي د زماني حوادثو دی ظلم او جور ته ولاړ کړی و. خپل ځوان زوی يې چي په حقيقت کي سبب د نا اميدۍ او د سلطنت د تلو د ده ګرزېدلی و، د قندهار د لښکر په رياست وټاکه سبب دا و چي ده د پښتنو پر خانانو بروسه نه درلوده او د دوی د ناوړو اخلاقو څخه يې انديښنه درلوده، بې عاره بې ننګه وه خيانت يې رذالت نه باله

ډيری له دوی څخه په دغو فتنو کي تر شل واره ډېر د غليمانو په ډلو ننوتلي وه، دی صوفي مذهبه و چي په وحدت الوجود سره قايل و. لنډه دا چي امير شېرعليخان په سنه 1285 کي بې له يو جګړه کوونکي او ترټونکي چي په مخ کي دي يې ودريږي، درلوونکی د بشپړي سلطې سو د انګرېز دعوت يې قبول کی د انبالې و خواته يې حرکت وکی انګرېز هغه پخوانۍ معاهدې چي د ده د پلار او د دوی په منځ کي سوي او د حيلو د چمو ډکي وې اوس يې په نورو زياتي وعدو او قولو ټينګي کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغې خوا چې راوګرزېده خاين اسماعيل خان يې سره له نورو ورونو و هند ته ويوست خپل توريالى او مېړه زوى محمد يعقوب خان يې له وليعهدۍ څخه ويوست او د ده وړور عبدالله خان يې سره له دې چې په عمر کوچنى و په سبب د ده د مور وليعهد وټاکه. څه بد شى دى شهوت. سترګې د حق د ليدو څخه ړندوي عقل د سمې لارې څخه تېروي په کېږه[99] کې يې اچوي.

محمد يعقوب خان هرات ته ولاړى هلته يې د سرکښۍ جنډه پورته کړه په سرکښي کې څومره وخت تېر نه سو چې د پلار له خوا کابل ته وغوښت سو، سره له دې چې د پلار پر لښکر بريالى و بيا يې هم د پلار غوښتنه ومنله پلار يې پر ځاى د دې چې دى ونازوي په محبس کې واچاوه، امير لا په خپل مقصد نه و کامياب سوى چې د اجل لښکر يې پر نوي وليعهد تاړاک راوى.

په سنه 1295 کې د روس وفدونه[100] امير ته راتله په دې سبب وسوسې او انديښني د انګرېزانو لويانو ته ولوېدې يو سفارت يې چې له څو کسو مهندسانو او زرو سپرو څخه جوړ و، د امير حضور ته ولېږه، امير په دې سبب چې انګرېز له څو کالو راهيسته هغه کلني مواجب بې سببه پر شلولي وه د سفارت له قبلولو څخه يې ئټه وکړه.

پر انګرېزانو دا وضع بده ولګېده په خښم په زښت ظالمانه ورځ يې د پښتانه پر وطن لښکر وروخوزاوه.

---

[99] کېږه (فشار پر دوهمه څپه دئ) = کنده، ژوره.

[100] په کوټه چاپ 141 مخ کې د روسي وفدو پر ځاى "رومي سفيران" ليکل سويدي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلورم فصل

په بیان کي د ببل ببل کامو چي په افغانستان کي استوګه لري او اخلاق، عادات، مذهبونه د دوی او دغه رنګه توضیح د حکومت د دوی چي په څه توګه یې په دې ښارو کي کوي؟

لو ټولی چي په دغه اُلکه[1] کي استوګه لري او هم په شمېر ډېر دي هغه پښتون کام دی. د دوی د استوګي ځایونه د ملک جنوبي او شرقي جنوبي خوا ده.

په دې جنس کي حقد او حسد، کسات اخیستو ته هڅه درلوول، د جګړو او حربونو غوښتل، په کوچني سبب سره ژر په خښم کېدل ډېره مونده کېږي. او دا خویونه د دوی د انهار[2] ځرګند برې، تندي یې تل تروه وي.

که څه هم په ځیني کارو کي حلم او نرمي کوي مګر خوشحال سړي لږ پکښې پیدا کېږي، زیږې خبري کوي، درانه اوازونه یې دي، دا دواړه پر هغو لوړني اخلاقو د دوی او پر زیږوالي د دوی د طبیعت دلالت کوي.

لګو درګو، نتنو[3]، تاړاک وهلو، مال وړلو ته ډېره هڅه لري. له دې سببه چي زړه

---

[1] اُلکه: مځکه، سیمه، وطن.

[2] مراد یې ښایي (طرز، ډول) وي؟

[3] نتنه: خواری. جمع یې (نتني) ده او (نتنو) د (نتني) مغیره شکل دئ (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

وري او اقدام او طبيعي هڅه و جګړو ته يې په ختمه کې اخښلې ده د صديو راهيسته طبيعت دوی ته داسې ترتيب د عسکري نظام ور ښوولی دی چې د نن ورځې د نظام سره نژدې باله کېږي.

هغه په دې توګه دی چې صفونه ودروي ښه ټينګ ترتيبات يې وکې ضابطان يې د لويانو او کوچنيانو مراتب ټاکي. چې د جګړې ډګر ته يې باسي لويان يې په وړاندې وړاندې د لښکر ځي. چې د جګړې اور بل سي ضابطان استربل ونيسي، لښکريان جګړې ته لاس ورته کې ضابطان يوازې امر يا نهې کوي، اړې د پرمخ تلو يا پر شا کېدو. د ښې او کيڼې او تله او ولاړه کرده امرونه کوي د دوی دا خوی دی چې يو وګړی يې د لښکر څخه وتښتي، وژني يې.

لکه د اصفهان په جګړه کې چې پېښه سوه يو ضابط و، چې خپل يو لښکري وګړی يې د تېښتې په وخت کې وليده هوډ يې وکړه چې مړ يې کې، هغه وګړي خپل ښی لاس ورښکاره کی چې غوټ پرې و، دپاره د دې چې د سزا وژغورل سي ضابط که څه هم دی د مرګه وباخښه ليکن د خښمه يې خلاص نه سو.

په تېښته يې خوښ نه و، امر يې وکی چې بېرته لښکر ته ولاړ سي، او ويې ويل: ای نرښځيه !آيا کيڼ لاس دې نه درلود او داسې به يې وبولو چې کيڼ لاس دې هم پرې سوی و، غاښونه دې د غليم د غوښو د پرېکړن دپاره درلوده ، ځغله !د ژوند تر وروستنی سګلی پورې د غليم سره جګړه وکه !

د ضابطانو يې دا وظيفه ده چې د لښکرو ترتيب کوي، او تنظيم د دوی ساتي. امر کوي او منع کوي، سربېره پر دې هغه چې د جګړې پر ډګر مړه وي د ډګره يې راباسي چې د غليم د اهانت تر لاس او پښو لاندې نه وي پراته، مګر هغه څوک چې د تېښتې په وخت کې مړه کړه سي په کورته جواز نه ورکوي چې ښخ دې کړه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکري وګړي يې د خپلو مشرانو داسې په خوله دي چې مثال يې په هيڅ يوه کې د متمدنو لښکرو د نړۍ نه ليده کېږي تر داسې حده چې که په دښت کې سره پاشلي او ځرګند سوي وي او دوه وګړي هم يو ځای نه وي کـه د يوه سړي ږغ واروي چې دوی د خپل مشر حضور ته ورغواړي په ښتـه غورځانده ورځ بلنه مني او د پاره د اروېدو د مشـر د وينـا راغونـډېږي او کـه بـه د لـوړي يـې ځکنـدن وي ډوډۍ تـه ورسېږي تر هغه تېرېږي د غوښتونکي د غوښتو پالنه کوي.

د دوی له ښه اطاعته ځخه يوه دا ده چې پـه وخت کې د يو ښار د فـتح چي د دوی مشران امر وکي چي پر اهاليو دي تعرض نه کېږي يو لږ حرکت هم چي خلکو تـه زيان رسېږي د دوی څخه نه پيښېږي، تـر داسې حده چي کـه د زرو او جواهرو او ګېڼو ډکې ښځې پر دوی پېښې سي دوی ورته ګوري هم نه.

يو وار داسې پېښه سوه چي په اصفهان کې په لومړي وخت کې د اشرف د تخت د کښېنستو د دوو پښتني کامو په منځ کې جګړه ولوېده، شخړه خورا درنه سوه، قتل او قتال پېښ سو دوکاندارانو خپل دوکانونه وتړله چي تاړاک ونه لوېږي، د اشرف له حضور څخه امر وسو چي دوکانونه دي خلاص کړه سي، او داسې اعلان يې وکی هر چاته چي زيان ورسېدی زه په خپله د هغه د زيان د برېا کېدو ضامن يم. جګړه ډېره اوږده سوه ليکن يو لږ زيان هم خلکو ته ونه رسېده.

د دوی ټولـه مړونـه د وسلې پـه استعمال او تـوره وهلو عـادت دي پـه سپارلي کي ښت ګرنديان دي، په اوس وخت کې يې د توپـک پـه استعمال کې هم عـادت او تجربه موندلې ده.

د امير دوست محمد خان له عصر څخه يې ترتيب او تنظيم تـه لښکرو پـه جديـده توګه لاس اچولی دی که څه هم علماً نه دی ليکن عملاً يې ښه لاس پکښې پيدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې دی، د منظم لښکر شمېر یې شپېته زره ته رسېږي.

یو لوی شمېر د دوی څخه لکه:- د کندهار، غزني، جلال آباد استېدونکي هغه د ښارو او د کلو استوګي ته لري لیکن د خپلو نورو ورونو په شان د دوی ژوند هم په زېږه توګه دی، آرام ته هغه نه لري په معشیت کي زیږه دي. د دنیا له خوږو څخه یې په لږ سکتته[4] خوښه ده، پسه د پوسته سره خوري.

پسه چي حلال کي وږی یې پر اور سوځي، الووی یې کي بیا یې نو غوښې وچي کي ویې ساتي، غذا په چمچه[5] نه خوري د غذا لوښي پر سترخان نه ایږدي پر مځکه یې ږدي په لاس ډوډۍ خوري. د سرت)صورت(صفایي او د لباس تنظیف ته هڅه نه لري، په نظافت کي د استوګي د ځایو هم زیار نه باسي ښارونه خپل هم د ګندګیو څخه څو مرې نه صفا کوي. هم دغه وجه ده چي ډېر ښارونه د دوی لیده کېږي چي د قاذوراتو[6] خلاص نه وي او ډېر داسي هم پېښه سي چي د حیواناتو لاښونه د دوی په عسکري ځایو کي پراته وي، په لیري کېدو یې دوی سر نه ګرزوي.

ډېر د غرو او کلو استېدونکي چي ډوډۍ وخوري لاسونه نه مینځي، په ږیره یا د بدن په پوست پوري یې موږي. ځیني د دوی چي نوي کالي واغوندي لستوني یې غوړ کي د دې دپاره چي د ده غنا او ثروت ځني ښکاره سي، چي دی په نوو کالو څومري پروا نه کوي.

دوی ټوله که پر دښت استېږي که په کږدۍ کي او سېدونکي ځانته عجب کالي په

---

[4] سکتته: قناعت.
[5] چمچه: کاچوغه.
[6] قاذورات: مرداری، امبار.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجب شکل له وړيو ښځه جوړوي لکه د فيل شونډ کان اوږده لستوڼي ورکوي چي تر مځکي رسېږي، دوی يې کوسی بولي، دوی يوه دغه ډول جامه هم لري چي لستوڼي يې لنډ او تر ورنو پوري اوږده وي سدری نومېږي لږ داسي ښېښېږي چي دوی دي خپل لباس تر زړېدو د مخه اليش کي.

د ښارو او سېدونکي خپل کالي له زيږو ټوکرانو ښځه چي د وړيو دي جوړوي، چي دوی يې برکه بولي د هغه ښځه تنګي جُبې، چوخې جوړوي، لستوڼي يې لنډ وي رنګ په رنګ، د چيټ ښځي وراچوي، په ژمي کي د اوښ پوست اغوندي، په پښتن او اش کي يې زښت زيار باسي تر داسي حده چي په پوست والي کي لکه ورېښم داسي سي ژړ روښان رنګ وکاږي، د ورېښمو کار پر کوي، چوخې ځني جوړوي هغه چي کارکوونکي ډله يې اغوندي لنډ وي چي تر زنګنو پوري رسېږي او لستوڼي يې تر څنګلو پوري وي پوستينچه يې بولي.

لويان او ماړه خلق يې اوږد رقم د هغه اغوندي چي تر بجلکو پوري رسېږي او اوږده لستوڼي يې وي، پوستين[7] يې بولي. غټان او مشران د دوی چوخې د کشمير د شالو ښځه او پوستين د سمور او سنجاب ښځه جوړوي. ډېر پښتانه شني بګړۍ تړي ليکن سرداران او غټان يې د کشمير د رنګارنګ شالو بګړۍ تړي. د تودو ښارو استېدونکي يې چوټي او موچني په پښو کوي، سدری اغوندي تر زنګنو پوري قميصونه اغوندي، لوی لستوڼي يې وي.

ډېر له دوی ښځه پلن پلن ملابندونه تړي چي د ټټر لاندي ښځه تر ورنو پوري رسېږي، ډېر کامونه د دوی ښځه د سر ورېښتان نه خريي، يو اوږده کوڅۍ پرېږدي

---

[7] مولانا پوستين او پوستينچه د اوښ د پوستکي ښځه بللي دي. په هغه وخت کي به يې د اوښ د پوستکي جوړوله، مګر په اوس زمانه کي يې د پسه د پوستکي او نورو پوستکو ښځه جوړوي، (مترجم).

(c) ketabton.com: The Digital Library

اويي يې. ښځې يې اوږدې جامې اغوندي خاص ډول ملا بندونه و تيو ته نژدې چې تې يې ښکاره وي. ډيري غرځنی ښځې يې د آس د لکۍ وريښتان پرې کې په خپلو وريښتانو پوري يې ونښلوي. د غلجو ښځې د تندي وريښتان واويي، ټيکی ځنې جوړ کې پر تندي يې راوځړوي چې اوږدوالی يې تر پزې او په بره تر ټيکو پوري رسيږي لکه يو ګردی برقع داسې ښکاريږي، په غوږو د سپينو زرو، او سپني، مسو، بلورو درنې خپرې ځړوي.

غتان او واک درلوونکي د پښتنو پر چوکۍ او تخت نه کښېني د ناستې ځايونه فرش کې، بالښتان ايږدي لکه نور غټان و شوکت او عظمت ته په خومره سترګه نه ګوري، د ډوډۍ خوړل د کوچنيانو او نوکرانو سره ننګ نه بولي.

د غرو او د دښتو اوسېدونکي ګلې او رمې پيايي ډوډۍ ګټې، څوک و څوک يې کښت هم کوي، په دوی کې سوداګر لږ دي مګر د لوهاني په کام کې ډېر دي. چې په غرو کې استېږي. ډېر وګړي د دغه کام څخه د تجارت په ذوق کې عجيب کيفيت لري، مالونه پر اوښانو بار کې چين او نور د سايبيريا ښارونو ته يې رسوي له هغه ځايه اناطول[8] ته ځي بيا پر شاوخوا د هند طواف کوي.

دا کام د نورو کامو څخه په لباس کې بېل دی، د دوی بګړۍ څلور متقابل کنجانه[9] لري چوخې يې لکه د ارناود[10] او د آذربايجان د اوسېدونکو داسې دي چې پورته خواته تنګې، لمن يې پراخه په ملا کې ډېر چونړه لري.

---

[8] اناطول د ترکيې پخوانی نوم دئ (مرتب).
[9] کنجانه: کونجونه، کونجه.
[10] د يوې سيمې نوم دئ. په کوټه چاپ کې دا نوم نسته. هوري يې يوازې "آذربايجان" کښلی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښار او سپږونکي کښت کوي، درختي او باغونه ايږدي د صنعت خاوندان لکه آهنګر، ترکاڼ، ګنډونکي په دوی کي لږ مونده کېږي. ډېر داسي دي چي دوی تجارتي شغل نه لري مګر د کندهار او سپږونکي چي تجارت ته ښه هڅه لري ډېر سوداګر د دوی د طالب العلم د طبقې څخه دي.

ښتانه د حکومت په کار کي او د دفتر په ضبط و ربط کي بشپړه پوهه نه لري ټول دغه کارونه د قزلباشو په لاس کي دي، دا هغه کام دی چي د نادرشاه د لښکر څخه پاته سوی دی.

د اسيرانو خرڅلاو که څه هم کافر وي، جايز يې نه بولي د خوارانو او مسافرانو پالنه او عزت کوي، ډېری يې داسي دي چي غلا بده بولي. که څه هم خپله دوی په تاړاک سرلوړي کوي.

ببرېدونکي نه دي، فرق په منځ کي د غلا و تاړاک لکه فرق په منځ کي د ضعف او قوی دی، بد عملونه او عادتونه چي له عيش او عشرته زېږي په سبب د بدوي اخلاقو په دوی کي لږ ليده کېږي، ځکه چي خوار غريب دي ډېر ځله د دوی دوستۍ د توزني هيلي(11) خالي نه وي، د دوی ښځي چي په ښارو کي استېږي مخونه پټوي، هغه چي په دښتو او کلو کي استوګه لري مخونه يې لڅ وي، د نرو سره ګډي وي د سرو سره لاس په لاس کي ګردۍ دائره جوړ کي د ښادۍ په وخت کي رخسېږي ځيني وختونه په دغه توګه يوازي په اخترو کي رخس کوي دا رخس په دوی کي اتڼ بولي.

د غرو او دښتو د اسپږونکو دا رشه(12) ده چي په ښادي کي د ناوي پلار او خپلوان

---

(11) توزنه هيله = طمع ـ ټيټوالی.

(12) رشه (فشار پر لومړی څپه دئ) دود دستور، رسم رواج.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او همسايګان د واده په سحار راغواړي د زامه[13] او ناوي د پاره لکه چي عادت دی کالي يې جوړ کړي وي دوی ته يې ښکاره کي وروسته زوم په دغه محفل کي راوبولي هغه کالي چي يې ده ته جوړ کړي وي وروسته تر فاتحي[14] تر ويلو يې په واغوندي کټ مټ دغه توګه ښځي د ناوي سره کوي. وروسته ناوي په ډول او سرنا سره د زامه کره وړي، هلته يې چي ورسوله په هغه خونه کي چي خاص د دې د پاره ښايسته سوې وي کښېنوي، نجوني رنګ په رنګ مېوې او خوږې راوړي د ناوي پر سر يې وپاشي مېلمانه نر او ښځي خوږې خوري، ناوې د مېړه په کور کي څو ورځي ګوښه ناسته وي ځان چا ته نه ښکاره کوي، څو ورځي وروسته د کوڅه ګۍ نجوني ناوي ته راسي د اوبو لوښي يې پر سر وي ناوې هم پر سر د اوبو لوښي واخلي ورسره ولاړه سي پر لاري خوښۍ کوي، سندري وايي، ځي په دغه توګه ولې ته ورسېږي لوښي ډک کړي بېرته په هغه ډول کورو ته راځي له دغي ورځي څخه ناوې ګوښه ايله کي معاشرت پيل کړي.

د منګلو د کام او دَوَړو دا رشه ده چي د ناوي پلارګنۍ او مېړه به په ښادي کي اتڼ کوي دغه دواړه لوړني کامونه يو عجيب عادت لري چي ځوانان يې په موسمي يا د اختر په روځو کي د يوې خوا ورځه او د بلې خوا برېت خريي چي ږيره لري يوه خوا د ږيري وخريي، دا بله خوا يې پاته وي.

په عادي ورځو کي په توره لوبي کوي خپل توريالېتوب کتونکو ته ښکاره کوي، د دواړو کامو اولادونه په ښايست کي مثال او جوړه نه لري هر چيري چي په سترګه سي زړه وړي.

---

[13] زامه: د زوم مغيره شکل.
[14] مراد يې د نکاح دوعا ده (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي صدق او محبت کي يو له بله تنافس[15] او خلوص په وړاندي کېدو کي د قربانيو کوي تر داسي حده چي ځيني خپل پسونه مذبح[16] ته وړاندي کوي د ختڅو دا عادت دی چي ښځي يې په غم کي مخونه په رنګ او خاورو لړي خپل مخ په ښېرو وهي او په نوکانو يې شکوي[17].

د ټولو پښتنو دا عادت دی چي درې ورځي تعزيه دارانو ته ډوډۍ ورکوي هغه څوک چي ډوډۍ ورکوي په دې توګه وي په ډېرو کامو کي داسي ده چي د غم خاوند په خپله مړی ورکوي او په ځينو کي د همسايه او نزدې کليوالو پر اوږه وي، په خپله د ماتم کور د مړی د ورکولو په کورته خلاص وي.

کليوال خپلو زامنانو ته رخس ورښيي يو ډول لباس ور جوړوي چي لکه د فرنګي کون[18] (Cone) د هري خوا چوښان لري د خوښۍ او رخس په وخت کي يې په اغوندي. د کليوالو چي مولود وزېږي دا يې پر يو لوړ ځای د کور که څه هم نيمه شپه وي ودربېږي درې واره په لوړ ږغ د شکر په ډول د زوکړي خبر خلکو ته رسوي.

پښتانه ټوله سنيان او د امام ابو حنيفه (رح) په مذهب دي په لمانځه او روژه کي څه ښځه څه نر څه ښاري څه غرځني ځان نه سپموي، توری کام شيعه دی تل سني

---

[15] تنافس: فخر کول (غياث).

[16] مذبح: د حلالېدو ځای، مسلخ.

[17] په کوټه چاپ کي پورته مطلب داسي ژباړل سوی دی: "د دواړو قبائيلو ځلميان ښايسته الکان چي هر چيري خوبصورته او جاذب نظر ځوان ووينې، هغه تر لاسه کړي او بيا ډېر په اخلاص سره د ده په حضور پسه وړاندي کړي، تر دې هنده چي ځني خو دومره مبالغه کوي چي د خپل پلار مخي ته هم دا جرأت وکړ او د خپلي ميني د پاره مين ته پسه وړاندي کړي.

[18] د اروپايي مېرمنو يو ډول خولۍ ده چي مخروطي شکل لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همسایګانو سره په جګړه دي په لمانځه او روژه اهمن (؟) نه دي.

د حسین (رض) په ماتم کي په تېره بیا د محرم د میاشتي په لومړیو لسو ورځو کي زښته زیار باسي تېرونه، شاوي، مړوندونه لخ کي په خنجرانو یې وهي، د کاکړو په ځینو قبیلو کي که څه هم د اسلام په دین دي بیا هم پاتي طریقې د مزدکیانو په دوی کي لیده کېږي. مزدک د قباد په زمانه کي یو سړی و چي د نبوت دعوه یې کړې وه په خپله قباد چي د فارس کسرا و او څلو ښېست زره فارسیانو د ده متابعت قبول کړی و، د ده د دین دا اصول دي چي مالونه او ښځې مشترکي دي ولي دوی دواړه جګړې او مرګونه له دغه دوو شیو (شیانو) بولي که خلق په دې دوه شیه کي سره شریک وي دا هاړ و دوړ او نفاق به په کورته ورک سي ځای به یې آرامي او راحت ونیسي.

قباد چي مړ سو او د ده زوی نوشېروان چي په عادل سره مشهور دی پر تخت کښېنوست د دې بدعت په شریعت کي یې خیال وکی نو یې شارع راوباله په ډېري خوښۍ یې د ده هر کلي وکی خپله خوښي او رضامندي یې ده ته ښکاره کړه ویې ویل:-

زما دا ستا بدیع شریعت خوښ دی غوره کړی مي دی، مګر ببرېږم چا ته یې اظهار نه سوای کولای، ځکه چي نه پوهېږم شمېر ستا د پیروانو څومري دی آیا د مخالفینو شر دفع کولای سي که یه؟

شارع خپل ټول تبعه هغه ځای ته چي نوشېروان ټاکلي وه راوغوښتله حاضر سوه ده ته یې ښکاره کړه، نوشېروان ټول واخیسته تر تېغ یې وکښه، پرته بې درو کسو چي یوه د مزدک ماینه وه بل وګړی هم ژوندی ونه ووت. دا کار چي نوشېروان وکی په مشوره د خپل وزیر بوزرجمهر یې وکی ده ته یې ویلي وه. دی (شارع) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندېدو کي د خپل شريعت دا هوډ لري چي د نرۍ د مخه د پاچهۍ رينبه وکاږي ځکه چي پاچهي پر مال او نسب ولاړه ده په دې توګه چي ښځه او مال مشترک سي سلطنت به وجود ونه مومي.

خواجه نظام الملک[19] په خپل تاريخ کي وايي چي دا د ايران او سنۍ ډله د اباحت[20] واکي لري د هغه مزدک له اتباعو څخه دي، او دا طريقه يې له هغه وګړو څخه چي د نوشېروان د توري يې ژغور موندلی و په ميراث راوړې ده، دغه رنګه د خوست او کرم په اوسېدونکو کي ځيني د خوارجو او نواصبو عادتونه ليده کېږي، د محرمي د مياشتي په رومبۍ ورځ يو هيکل جوړ کي ښخوي يې د عاشورا په ورځ يې بيرته راوکاږي تکبيرونه او تهليلونه وايي، خوښۍ کوي غاړه يې غوڅه کي دغه ډله سنتي هم بده بولي.

پښتانه که څه هم په دين او مذهب کي ډېر متعصب دي ولي د بل دين د وګړو سره جګړه نه لري شيعه يا نا مسلمانه چي خپل د دين مراسم پر ځای راوړي دوی نه ځني ګوښه کېږي او هم هغه څوک چي ورډ لوړو مرتبو وي چي په حکومت کي دي ورکړه سي دوی يې نه منع کوي.

تاسي په خپله وينی چي د پښتانه په وطن کي د منصب خاوندان شيعه قزلباش دي هر پښتون په سبب د دې چي پښتون دی ځان د خلکو اشراف که څه هم فقير وي او داسي ګڼي چي بشپړ ايمان او خالص اسلام پرته بې پښتانه او عربه په بل جنس کي نسته.

هر کام چي يو کار ته ولاړېږي هرو مرو خپل مشران او غتان راغونډوي مشوره

---

[19] په کوټه چاپ کي يې: "خواجه نظام الملک طوسی" کښلی دئ 154 مخ.
[20] په کوټه چاپ کي: "اباجيه" دئ. اباحت په لغت کي "مباح ګڼلو" ته وايي (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چي دوی یې جرګه بولي.

که د یوه کام وګړي د بل کام وګړی مړ کي هغه کام چي وګړی یې مړ وي د کام هر وګړی په بېل بېل ډول پر ځان واجبه بولي چي د قاتل له کامه یو وګړی مړ کي. د حاکم په کسات اخیستلو نه ست کېږي که څه هم کلونه تېر سي تر دې هوډه نه تېرېږي تر هغه وخته چي په خپله قاتل دوی ته ننواتي ورځي، دغه رنګه ده که عائله د یوې قبیلې عائله د بلې قبیلې په قتل ورسوي.

پښتانه د هغه چا په ساتنه کي چي دوی ته یې پناه ور وړې وي زښته ډېر زیار باسي، په مالو او ځانو د ملتجي[21] مرسته کوي.

پښتانه څه د ښار او سپېدونکي څه د دښتې د ډېرو شخه یې کوچنۍ کوچنۍ توري وي چي سپلاوه او توره یې بولي او دغه رنګه سم سم خنجرونه او نېره، ټوپکچې، ټوپک چي ورڅخه وي د غرڅنیانو ټوپکونه ډېر ځله پلیته یي[22] وي د کور او کامو په منځ کي تل جګړې وي. ډېر ځله داسي پېښه سوې ده چي زوی پلار او پلار زوی وژلی دی، د دوو کامو په منځ کي جوړه نه کېږي تر څو چي خوښېي سره ونه کړي.

غرڅنیان تر څو چي زور او جبر ونهویني امیر ته سر نه کښېته کوي تل یو موقع ته ګوري چي د امیر د غوښتو بار له خپلو اوږو وغورځوي ځیني کامونه په جواریو ځیني په ږدنو ځیني په اوربشو ځیني په غنمو شپه تېروي، ډېری یې دا دي چي

---

[21] ملتجي "التجاه کوونکی. التجاه "پناه وړلو" ته وايي (مرتب).
[22] پلیته یي (پلته یي) ټوپک یو راز پخواني ټوپک وه چي د پټاکۍ پر ځای به یې یوه کوچنۍ پلیته درلوده او د ټک پر وخت به یې دغي پلیتې ته اور اچاوه او ټوپک به ټک کاوه. پلیته یي ټوپکو ماشه نه درلوده (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښې او کورت خوري. په ژمي کې د غوښو ښوروا او کورت په اوبو کې ګډ کې پاخه یې کې خواړه ځنې جوړ کې پر کور چې وي ډوډۍ پر تبی. پخوي په سفر کې ډېره په اوړو کې ونیسي تر اور یې لاندې ایږدي چې پخه سي دا ډول ډوډۍ دوی کاک بولي، په ځینو کامو کې لکه (یوسفزي) او اڅکزي پیاز لږ مونده کېږي چې بېګانه سړی وویني غوړږبې او زاری ورته کوي، مورږ ناجوړ لرو هیله کوو چې یوه دانه پیاز راکې ښایي چې په هغه کې زموږ د مریض دپاره شفا وي.

د اڅک کام ډېر وخت د غارت او غلا په هوډ پر قافلو تاړاک وروړي لار یې ونیسي په ټوپکو او نورو حربي سامانو جګړه ورسره کوي که یې بری ونه مونده نو په یوه یا دوې اُقې[23] پیازو د قافله والو سره روغه وکې.

یو وخت داسې پېښه سوه چې محمد اعظم خان چې هند یې پرېښود د یوسفزو پر کام راغی د یو خان په کړدۍ کې کښېنته سو ، خان په ډېره چابکي ولاړ سو له تندي یې خوښې اوربده نابېره یې امیر ته یوه دانه پیاز راوی ورته کښېښود.

ټول پښتانه د ولیانو قبرو ته عقیده لري او زیارت ته یې ځي قرباني. او خیراتونه پر کوي. ځیني په دغه عقیده کې تر حد تېری کوي، لکه چې د افریدو ځخه یو سړی و چې په غلا ، چور او چپاو مشهورو پر یو سړي پېښ سو غوښته یې هغه څه چې لري ټول ځني واخلي هغه سړي د خدای (ج) او رسول (ص) روی ورته شفیع کی ایله یې نه کی چې د شېخ ملا یارمحمد زیارت یې ورته شفیع کی هغه زښت وبېربده هولکي سو ویې ویل:-

"جل جلاله کفر ته دي واړولم" ، دی یې ایله کی خپله لار یې ونیوله. ډېر کامونه او

---

[23] اُقه: نیم رطل دی. ژباړن (رطل = نیم من دی چې دوولس اوقې کېږي "غیاث").

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درو استېدونکي بازيو او طرب[24] ته ھڅه لري چي له کاره يې لاس وخېژي سره غونډ سي اتڼ واچوي ، آس ځغلوي په توره لوبي کوي. هغه چي په سرو د واورو ښخه ډکو غرو کي استوګه لري لکه خوست او کرم رنګونه يې سپين دي او هغه چي په تودو ځايو کي لکه قندهار او جلال آباد کي اوسېږي غنم رنګه دي.

دا يې يوه ديني طريقه ده چي يو ځني مړ سي څه روپۍ يې د مال ښخه وباسي په نامه د لمانځه داسقاط يې ملايانو او خوارانو ته ورکوي، د ښار او کلو اوسېدونکي زښت شوق لري چي د صرف، نحو، معاني، بيان، فقه، اصول، تفسير، حديث، منطق، فلسفه او حساب علوم ووايي، ځيني يې د طب علم هم وايي.

تر هغه وخته چي يو طالب يې په تحصيل اخته وي عامو خلکو په خوښۍ سره د ده ډوډۍ پر ځان بللي وي ورکوي يې. هر څوني چي د طالبانو بسېږي سحار و ماښام يې ورکوي، کوچنی طالب کور په کور ګرځي ډوډۍ ټولوي، پر ځيني خواوو باندي داسي ده چي ډوډۍ چي د طالبانو دپاره ايښو سوې وي او کوچنی طالب رانه سي کور والا يې خوړل جايز نه بولي.

په دې ښارو کي علماوو ته زښت لوی شان او برم حاصل دی لو روحاني سلطه لري په اهاليو کي د دوی وينا زښت رسوخ لري تر داسي حده چي غتان او اميران ځني ببرېږي ولي د عامو زړونه واړه د دوی په منګل کي دي، هر وخت چي وغواړي کامونه د امير پر مخ ور ولاړوي.

لوی شمېر له علماوو د اميرانو ښخه ځانونه ګوښه کوي او هديه نه ځني قبلوي سره

---

[24] طرب: ساز، موسيقي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې چي د دا نورو خلکو څخه هدیې او تحفې اخلي. د حکومت و غټانو ته ورتګ ننګ ورته ایسي، چي حاکم یا امیر د اُلکې[25] د ده و لیدو ته ورسي دی لکه د خپلو امثالو مخې ته چي ولاړېږي یا یې هرکلی کوي د هغه استقبال او هرکلی یې پرخوانه هوا رېږي[26].

د دې سبک او سلطې له لامله ځیني وختونه ډېر مضر عملونه له دوی څخه پیدا کېږي چي شرع او عقل دواړه یې نه مني څرنګه چي پر ځیني وګړو باندي چي د ده د هوا د غوښتو څخه مخالف وي عمل وکي د کفر یا فسق حکم وکي بلکه دپاره د دې چي یوازې دی حکمران وي یو د بله هم د کفر حکمونه سره کوي په تېره بیا په دې اوس وختو کي چي په هند کي وهابیه مذهب څرګند سو، یو چا چي څه سبک او سلطه وموندله نورو بری او خلاصې په دې توګه وبلله، چي د وهابي حکم به پر وکي او بدنام به یې کي، او د وخت حاکمان پر جزا او سزا د هغه کسانو راولاړ کي چي پر دوی یې د کفر حکم کړی دی.

لکه په قندهار کي چي پېښه سوه. یو لوی ملا پر شیعه د کفر حکم وکی، اهالي یې پر وخوځوله قتل او قتال پېښ سو، ویني وبهېدې، کورونه چور سول، دوکانونه وتړل سول.

دغه رنګه په کابل کي پېښه سوه.

ځیني علماوو پر شیعه ګانو د کفر حکم وکی، د هغه په سبب په منځ کي د سني او شیعه جګړه ولوېده په میاشتو اوږده سوه، ځینو بیا ځان د طریقت په نامه موسوم

---

[25] وګورئ: د همدې متن 14 _ 92 مخونه.

[26] پر خوا نه هوا رېږي، یعني نه یې سي منلای. زړه یې نه غواړي (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړې وي، د ارشاد پر وساده[27] ناست وي د زيارت کوونکو د پاره يې خاص ځايونه نيولي وي په ټاکلو وختو کي هغو ته ډوډۍ ورکوي.

عزت او نفوذ د ونيا او ډېربښت د ډوډۍ ورکړن د دوی په هغه اندازه ده چي نور يې دوی ته د هديې او نذر په توګه ورکوي. ځينو د ښه سلوک او سربېرني اصلاح په سبب د عامو په زړو کي ځای نيولی وي لوړ مقام او بشپړه نفوذ ومونديو په زړو وګړي د هري ګوښي څخه عقيدتاً مخ ورته راونيسي تر هغه څو د ده په ځای کي استېږي د ده ډوډۍ خوري د ده کور هر وخت له سوو ډولو خوړو او اشربه[28] او پوښاکو تش نه وي، ځينو بيا په ځينو ځايونو کي ځان لره بېل حکومت غوره کړی وي، د خپله ټکه څخه استفاده کوي د خپل ټک ساتنه کوي له همسايه مهاجمينو څخه يې ګوانښي او کله دوی په خپله پر هغو هجوم وروړي، او پر دې خپل اقدام ديني دليلونه وايي.

له دغه ډلي څخه عبدالغفور دی چي د صوات اخند يې بولي او پر صوات او بنير تسلط لري د پښتانه ښارونه ټوله او هند او بخارا پر ده اعتقاد لري. دی فقيه زاهد سړی دی، لږ خواړه خوري، خيرن اغونديو، زيږ اوسي. په ږدنو او جوارو ژوند کوي، د بوزې شيدې خوري د غره په ونبو ګذاره.

يو لوی شمېر د مريدانو څخه د ده په حضور کي حاضر وي داسي کسان چي پر انګرېزانو يې تاړاک وئ[29] او بری به يې مونده. فرمانونه يې شاوخوا لېږله خلق يې جهاد ته رابلله پر ده باندي په زرو زرو کسان راټولېده. د ده مرسته يوې هندي وهابي ډلي کوله، چي د سيد احمد وهابي مصاحبين وه، او د سني مسلمانانو د

[27] وساده: نيالي، کوربچه.
[28] اشربه: د چښلو شيان.
[29] وئ = وړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيري د هند د خوا وشا څخه صوات او بنير ته تښتېدلي وه او هلته يې استوګه غوره کړې وه، مسافرين او زائرين چې به د صوات اخند ته راتله اخند به د هر يوه له حال سره برابر چې په خپل وطن کي خدای ورکړي وه لکه جاه، مال، فقر پستي په هغه توګه به يې دوی روزله.

امير ته به يې د هغه ورځ شی دمخه کاوه، او فقير ته به يې يوازي شيدې او وچه ډوډۍ او پياز ورکوله چې دا به يې اروېده چې فلاني شېخ شهرت وموندہ يا پر وساده[30] د ارشاد کېښېنوست د وهابي حکم به يې پر وکی چې عامه ځني خواپوته سي او دی د اعتباره ولوېږي.

ځيني مشايخ په نتيجه کي د دغسي حکمو د ده مړه کړه سوه، او ځيني يې زښت په ناوړه توګه تشهير سوه، د پښتانه ټول علما تمباکو څکول هرډول چې وي لکه د بخارا علماء حرام يې بولي مګر پر هيڅ چا يې تعرض نه دی کړی او (د صوات اخند) د خپل ځان د خوا سړي د پښتانه ښارو ته لېږله چې وګړي د تمباکو څکولو څخه منع کي او هر چيري چې بری پر و مومي چلمان دي ورمتوي[31].

خوړل د غوښو د هغي ذبحي چې د شيعه په لاس ذبح سوي وي حرام يې بولي سره له دې چې د يهودو او نصاراوو ذبايح حلال شمېري ولي په دې چې شيعه مرتد دی، او د مرتد د لاس ذبح پر خلاف د اهل کتابو نه خوړل کېږي.

دوی ټوله د لمانځه په وخت کي پنډ يا نازک شالونه د موسم سره وړ پر اوږو اچوي بلکه دا د پښتنو رشه ده دوی ټوله په خپل دين او شرعي احکامو کي تعصب او غيرت ښکاره کوي مګر هغه څوک چې د ارشاد پر مصلی ناست دی کله کله په

---

[30] وساده: نيالي (نالي)، کوربچه.
[31] متوي = ماتوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديني امرو کي غفلت ځني ليده کېږي.

ځيني طالبان په سبب د احترام چي د عوامو د خوا ورکاوه کېږي کله کله پر اهاليو تېرى کوي لکه د (ننګهار) طالبان چي يو لږ څه اهانت له يوه وګړي ووينې سره راغونډ سي غربيني[32] راوا خلي پر کليوالو هجوم ورورې او تر څو چي اهالي د خپل افراط کفاره ورنکي دوى لاس له تاړاکه نه اخلي.

يو لوى شمېر د دغه ځاى د طالبانو په لمانځه پروا نه کوي د کال په ځينو ورځو کي محفلونه جوړ کي طالبان او نور هغه ته رابولي چي شمېر يې تر زر کسه هم اوړي. د کلو وګړي درنه مېلمستيا جوړه کي وروسته يو ښايسته هلک راولي پوړنى يې پر اوږو وراچولى وي بنګړي يې ور په لاس کړي وي پر کرسۍ يې کښېنوي پاچا يې کي تر څو چي محفل وي دى حکومت کوي له حاضرينو څخه ځيني وهي او ځيني ترجرم لاندي کوي، هغه وخت چي وغواړي ګدى[33] ماته کي يو سړى چي وزير يې بولي باچا ته داسي ووايي:-

لښکر په دي سبب چي تنخواه يې شلېدلې ده پر پاچا راولاړ سوى دى. وروسته هلک پوړنى د مخه هيسته کي د خپله يوه اړخه سره يې نسوار اينبي وي ويې پاشي هر يو د مېلمنو څخه ده ته راځي او د هغه نسوارو څخه لږ لږ اخي[34] محفل او لوبي پاى ته ورسيږي.

د پښتنو ژبه زښته زيږه ده، د هجايي حروفو شمېر يې د پاړسي تر ژبه ډېر دى هغه ښه محاوره او خبري يې د کندهاريانو محاوره او خبري دي. په پښتو کي مولفات د

---

(32) غربينه يو راز توپک دئ. زما په خيال د کارابين يا قرابين اوښتى شکل دئ.

(33) ګدى = ډله، قوم.

(34) اخي = اخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظم او نثر دواړو لږ دي د پښتانه په ښارو کي د اوسني کامو څخه يو کام دی چي تاجيک يې بولي ډېر اوسېدونکې د هرات او شاوخوا د هرات او د کابل ښار او هغه کلي چي د کابل او بلخ په منځ کي پراته دي او دغه رنګه د غزني ښار او ورنزدې کلي او څه کلي په قندهار کي او د بلخ د ښار ډېر اوسېدونکي تاجيک دي دا کامونه په حرفت او صنعت لکه خياطي، آهنګري، نجاري، معماري کي زښت ډېر زيار باسي په کښت او د درختو او تاکانو په روزنه پوهېږي تجارت ته هڅه لري.

له دې کامو څخه هغه چي د کابل په کوهستان کي استېږي و شر او شخړو ته طبيعي هڅه لري سره وژني، ويني سره تويوي او تل د کور، کور او کلي، کلي په ميانځ کي جګړه وي. له دغه سببه ده چي د دوی سړي د تاړاکيانو د بيري څخه ډېر وخت د قلاوو په برجو کي وسله په لاس کي ناست وي. دا کامونه چي ذکر سوه تر پښتنو په حال کي ښه دي، په کورني نظام ښه پوهېږي، په کالو او پاکي کي ښه امتياز لري، بلکه په پوهه او ذکاوت کي سر لري، پر خلاف د دوی پښتانه د علومو زده کېدو ته لږه هڅه لري او عالم سړي په دوی کي لږ موندە کېږي.

د دغه کامو کليوال په نخښه ويشتو کي لاس لري، د دوی مردک نخښه هيڅکله نه خطا کوي، اوږده خنجرونه په غاړه ځړوي. دا کامونه سنيان دي د ابو حنيفه رح په مذهب دي، تعصب نه لري، اميران پکښې نه ميندە کېږي. د ډيري رنګونه يې سپين دي يو ډول د پښتنو بګړی تړي.

له کامو څخه يو د هزاره کام دی د غزني شمال و لور ته په غرو کي چي د هرات تر شماله اوږده استوګه لري. د دوی اصل د مغول د ذاته دی څرنګه چي د تنديو څخه يې ښکاري کوچنی تنګي سترګي يې دي. د سر و خواته هڅه لري، ږيره يې څو وربښتان وي چي يوازي پر زنه راشنه کېږي. لنده دا چي د مخ ترکيب يې د اصلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چينايانو او تاتاريانو د مخ د ترکيب سره تشابه لري.

ځيني مورخينو ويلي دي چي دا کام د چنګيز خان د لښکرو پا يځوړ دی، بلکه وايي چي د درې سوه کاله راهيسته دوی د مغولو په ژبه خبري کوي. ولي هغه چي پر پاړسي ټينګ دي او سره له دې چي د ترکمنو او ترکي ازبکو سره همسايګي لري پاړسي يې نه ده په ګډه کړې، سبب دا دی چي دوی دا اوسنی وطن تر چنګيزخان ډېر پخوا په استوګه غوره کړی.

دا کام تل په وحشت او زيږه توګه ژوند کوي، له اوله تر آخره پوري د جوخ صنعت ښه ګڼي چي دوی يې برکه بولي دا د دوی ها غوره صنعت دی چي په يوروپ کي دغه ډول شی لږ جوړېږي. پرته له جمشيديانو ښځه نور ټوله چاکداره چپني اغوندي او ملاوي تړي.

که د برکي چپنه وي لستوني يې تر ښنګلو جوړوي کله کله وربښمين ټوکران پر ګنډې د لاس تر بندو پوري يې اوږدوي، په ژمي کي د ټوکر خولۍ جوړوي او پر سر کوي يې. ښځي يې تل بګړۍ تړي، لکه د نرو داسي چپني اغوندي.

د جمشيدي کام لباس لکه د خپلو همسايګانو ترکمنو او ايماقو داسي دی هغه چپنه ده چي تر بجلکو رسېږي، لستوني يې تنګ وي، خولۍ د پوستين جوړوي پاپاق[35] يې بولي.

دا قبيله د آس په سپرلي کي شهرت لري لکه خپل همسايګان چور تاړاک يې په طبيعت کي اخښلی دی، لکه خپل هزاره ورونه په زړه وري، پرمختلو، اوښان

[35] پيق يا پيخه په کندهار کي "قره قلي خولۍ" ته ويل کېده (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویشتلو کي ښه لاس او شهرت لري.

دا کام پرته له شېخعلي، او جمشیدي کامو څخه په مذهب شیعه دی مګر په دغه مذهب کي هم پرته له خلفاوو له بغض او د علي مینه او د عاشورى له ماتمه او تبرګ په خنجرانو وهلو په بل شي تمسک نه لري.

سره له دي چي تقیه د شیعه و له مذهبي واجباتو څخه ده بیا هم د دغه کام وګړي خپل مذهب نه پټوي که له یوه څخه د مذهب پوښتنه وکړه سي ډېر وګړي یې په خلاصه خوله وایي زه د علي بنده یم.

تر خپل مذهب یې ګوتي کلکي کښلي دي. دلته ښه خوند کوي چي یوه کیسه یې وکم. یو سني و، ویې غوښته چي خپله خادمه سني کي، خادمي نته وکړه، بادار په خښم وبېروله، خادمه هم په خښم وخروښېده ویې ویل چي سپی یم دا آسانه ده نه دا چي سني سم. دا یې رشه ده چي مړی ښخوي دا کلیمات پر وایي چي:-

ناکر او منکر درته راسي مه بېرېږه ! ستا مولا علي به درته حاضر سي هغه به درځخه وشړي.

دا هم د دوی رشه ده چي تر ښخېدو وروسته د مړي تبر خپلي خولۍ خیري کي د هغه پر قبر یې کښېږدي. په دي کام کي نقدي روپۍ لږ مونده کېږي، ډېر معاملات یې د مالو په الیشېدلو کېږي. حکومت د هر یوه د حال سره د نقدي پر ځای اوزګړي اخلي او که کله یو له دوی څخه د محصول په ورکړه کي خنډ کښېباسي او پای ته پر ډېر سي چي له اداینې یې عاجز سي په بدله کي یې خپله لور عامل یا حاکم ته د مینځي په نامه وړاندي کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېرې له دوی څخه بې مالګې خواړه خوري، ولې مالګه زښته لږ مونده کېږي. د شرفاوو یعني د علي بن ابیطالب د اولادو زښته ډېر تعظیم کوي.

په دوی کې شریف او غیر شریف په ننګ او عزت کې داسې سره برابر دي چې مجلس ته راسي که یې عامو ته غتې ویل او ښنم، ښکنځل یې کوله په دې دلیل چې شرفاء او امیران پرته بې د غه توګې نه ښایې چې په بله توګه د خلکو سره سلوک وکې. د دوی له عجیبو عاداتو څخه یو دا دی چې د دوو ښځو وګړو په منځ کې جګړه ولوېږي هره یوه د ځان له خوا څخه یوه ښځه چې په ښکنځلو کې تېره ژبه ولري پر خپل ځای دروي، دا دواړه ښځې مخامخ سره ودرېږي یوه له دې دوو څخه په داسې حال کې چې لاس او پښې، سترګې او وروځې سره غورځوي و ښکنځلو ته پیل وکې دا بله هم کټ مټ لاس ، پښه، سترګې او ورځې سره غورځوي تر هغه کلک جوابونه ورکوي، دا ښکنځل واري په واري کوي تر هغو چې یوه خوا داسې ښکنځل وکې چې دا بله ښځه تر هغه د کلکو ښکنځلو څخه عاجزه سي نو جګړه فیصله سوه او هغه ښځه ملامته بلله کېږي چې نائبه یې د مقابلې څخه عاجزه سوه. او که ورځ تېره سوه یوې هم بری ونه موندی نو هره یوه قفه[36] راوړي سمه یې کې ووایې:-

"سبا به یې ګورو ! "

ازبک او ترکمن په خټه تاتاریان دي، تر نن ورځې پوري ترکي ژبه وایي، دا لمړی کام په شاوخوا کې د بلخ استوګه لري، وروستنی کام د میمنې او د هرات د ښار په منځ کې اوسي. دوی ټوله سنیان او د ابو حنیفه په مذهب دي، هغه ازبکان چې د چنګیزخان له احفادو څخه شمېرل کېږي په کرهنه او د درختو او تاکانو په روزنه

---

[36] قفه = کېپه، د خاشو ټوکری (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخته دي، ګلې او رمې ساتي.

بکرۍ ترې شمله پر غوږ راځړوي، وربښمني چپني اغوندي پنډ استرونه او د پنبه و لاپې (استرونه) ورکوي لکه د کنهي باف[37] شاتير داسي ښکاربږي. ځيني يې بيا دري ځلور دغه ډول چپني يو پر بل سره اغوندي په آس ځغلولو او نېزه وهلو کي زښته لاس لري.

چي يو د بل ليدو ته ورسي لاس پورته کي فاتحه[38] ووايي وروسته د کور خاوند يوه ګوله ډوډۍ ده ته وړاندي کي. دی په ډېر احترام ډوډۍ ځني واخلي په چپنه کي يې کنبږدي. چای يې زښته خوښي دي، د آس د غوښو خوړل ناوړه نه بولي ځيني علماء هم پکښې مونده کيږي.

ترکمنان د برکې چپني اغوندي او د پوستين خولۍ پر سر کوي چي پاپاق يې بولي د آس په تربيه کي زښته ډېر زيار باسي د دوی آس د عربي آسو له نسله څخه دي چي نادر شاه راغوښتي وه.

له دغه کام څخه ډېری وحشيان دي، معشيت يې د داړې او تاړاک له لاري دی د ايران پر ملک او د هرات پر خوا او شا تاړاک وروړي نر او ښځې بنديان راولې د مريي او مينځې په نامه يې خرڅوي.

په دې دليل چي دوی شيعه دي د اسلام د دينه وتلي دي نو يې خرڅلاو جايز دی، ډېری د دوی څخه داسي هم کوي چي سنيان ونيسي دپاره د دې چي بخارايان يې د رانيولو څخه نټه ونه کي وهي يې ترتې يې داغونه پر ايږدي شيعه کوي يې د خلکو

[37] کنهي باف: جولا.

[38] الحمد الله شريفه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مخ کي اقرار په کوي او داسي هم پښنه سوې ده چي د هرات له خواوشا څخه يو سني عالم اسير نيولی دی له دي بيري نه چي ونه تښتي په ځنځيرانو يې تړلی دی د لمانځه پر وخت يې د امامت دپاره ايله کړی دی تر لمانځه وروسته يې بيرته تړلی دی. هغه عالم چي دا وضع وليده پوښتنه يې ځني وکړه:-

تاسي پوهېږی چي زه سني يم، څه دليل لرئ چي زما بند او خرڅلاو جايز دی؟

دوی داسي جواب ورکی:-

ته تر قران مشرف نه يې، څرنګه چي د قرآن هبه[39] مونږ ته روا ده دغه ډول ستا هبه هم جايز ده خرڅلاو لا څه کوې؟

لنډه دا چي دواړه لوړني کامونه په تېره بيا دا وروستنی کام په ظلم او شرارت مشهور دی که څه هم د پښتنو په مځکه کي د دوی شمېر لږ دی له اوسنيو کامو څخه چي د پښتانه په ښار کي استوګه لري يو شرفاء کام دی د (علي ابن ابيطالب اولاد چي سيد يې بولي).

ځيني د دوی په پښين کي چي د قندهار په شاوخوا کي دی استوګه لري او ځيني په کنړ کي چي جلال آباد ته څرمه دی، اوسېږي د کنړ سيدان د بابر شاه له وخته تر نن ورځي پوري له لويانو او عظماوو څخه تش نه دي.

پښتانه دغه کام ته خورا ډېر يقين لري، خويونه او عادتونه د سيدانو د پښتنو عاداتو او خويونو ته څرمه دي، د پښتانه د ملک د اوسېدونکو څخه يو کام

---

(39) هبه: بخشش ته وايي (غياث).

(c) ketabton.com: The Digital Library

قزلباش دي دا لفظ ترکی دی معنی یې سور سر، وجه تسمیه دا ده چې ټولو صفوي شیعه لښکرو سرې بګړۍ تړلې لوی شمېر یې په کابل کې استوګه لري یا یخوږ یې په غزني او قندهار کې اوسېږي.

د دوی اصلي ځای ایران دی نادرشاه دې ښار ته راوستلي دي. په آدابو صنایعو او دفتري کارو کې پوهه لري هم له دغه سببه ده چې د پښتانه په رسمي ادارو کې واک د دوی په لاس کې دی. ډېر امیران د پاره د اولاد د تربیې او د شعر او ادب د تعلیم د پاره دوی غوره کوي، په ذکاوت او پوهه او نظافت کې تر دا نورو د وطن او سېدونکو امتیاز لري زړه وري هم لري دوی ټوله په مذهب شیعه دي او د محرمې په لومړیو لسو ورځو کې د حسین ابن علي ماتم پالي.

د قندهار په جنوب کې پښین ته څرمه د بلوڅ کام لیده کېږي، دوی په اصل کې د فارس دي دا د دوی رشه ده چې د سر وربښتان او ږیره پرېږدي او غوړوي یې، موچنې په پښو کوي او توره په ملا ځړوي.

په سبک ستایل کېږي په غلا او تاړاک مشهور دي، په سخاوت کې یې نوم څرګند دی، د مسلمانۍ څخه پرته د خدای (ج) او محمد (ص) بې نامه په نور څه نه پوهېږي که د یوه څخه د دوی پوښتنه وکړه سي چې ای بلوڅه روژه نیسې؟

داسې ځواب وایي:-

ما په خپله د پیغمبر اوزګړی نه دی غلا کړی، بلکه زموږ خان غلا کړی دی حضرت رسول اکرم (ص) د هغه پر ترټنه کې دی د برش ورځې د خوړو ګرځولې دي.

دغه رنګه که د لمانځه پوښتنه ځنې وکړه سي، وایي:-

(c) ketabton.com: The Digital Library

خان دی چي لمونځ کوي.

چي يو له دوی څخه د خپل کام يا د پردي وګړي سره مخامخ سي لمړی د خان پوښتنه کوي بيا نو وروسته تر ډېر تعظيم چي د ده استربل او وينا وکي زما مړتيا او مړوچتوب وګوره او وه غواړه، هغه چي زما د لاسه کېږي وبه سي. لنډه دا چي دا کام زښت وحشي دی او د کلک زړه خاوندان دي ځرنګه چي په دوی کي يوه پښنه ده مري يې بولي پر قافلو تاړاک وړي څو چي سړي مړه نه کي تر هغو مالو ته لاس نه وروړي، په دې زعم[40] تر هغو چي د مال خاوندان ژوندي وي پر مال قبضه روا نه ده.

د پښتانه په ملک کي يو لوی شمېر د هند بت پالونکي مونده کېږي، معبدونه لري چي درمسال يې بولي، د کابل د ښار دباندي محرکه[41] لري چي سم د خپله دين سره د خپلو مړو لاښونه په هغه ځای کي سوځي، ايره يې ساتي بيا يې د ګنګا سيند ته لېږي. ډېری د دوی د بابا نانک په مذهب دي ډېر په تجارت او صرافي[42] اخته دي، د هغه چا څخه چي د دوی په دين نه دي ځان ځني ټولوي د خوړو او اوبو څخه يې ځان ژغوري.

---

(40) زعم: ګومان.

(41) بايد محرقه وي چي د سوځولو ځای ته وايي او مراد به ځني (هندوسوز) وي.

(42) په کوټه چاپ کي: "تجارت او زرګري" راغلي ده (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتنو د حکومت طرز

د پښتنو حکومت استبدادي مطلق حکومت دی، مګر یو ډول مشابهت د شوروي د حکومته سره لري ځکه لوی کارونه چي کوي بې مشورې د مشرانو يې په کورته نه کوي، د حکومت مشران يې دا اشخاص دي:-

امیر چي د ټوله وطن پاچا باله کېږي.

وزیر: چي د صدارت عظمی درجه لري.

مستوفی الممالک: د مالیې ناظر دی داخله وزیر هم دی.

خزانه دار: د حکومت د نقدو روپو ساتونکی دی.

الیشک اقاسي باشي: دا هغه سړی دی چي د حق غوښتونکو عرایض په ده اړه لري په امر د امیر د وګړو جګړې او دعوې فیصله کوي.

والي: والیان د پاچا د کورنۍ دي سردار يې لقب وي.

جنرل: د لښکر مشر وي ځیني جنرلان هم د سردارانو له ډلي وي.

کوتوال: د ښار د امن ضابط وي.

په هر ښار کي مستوفي ټاکلی سوی دی چي د مستوفي الممالک نائب باله کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

محصولات اېښوول او ټولول په ده اړه لري د غه رنګه نور مامورين او وظيفه درلوونکي.

د پښتانه امير لکه دا نور د شرق اميران داسي شوکت او جلال نه لري د حکومت په اداره کي چي دوی يې دربار بولي د خپلو نورو غټانو سره پر ايراني غاليو باندي کښېني. امير چي د دا نورو څخه بېلېږي په دي سره چي بالښت يې تر څنګ لاندي وي، څوک چي دربار ته ورننوزي درباريان يې نه ګرځوي که څه هم بيخي کښته درجه سړی وي.

د ښار د وګړو څخه هر څوک چي وغواړي امير ته شکايت ورسوي امير ته مخامخ ورسي خبري ورسره کوي په لوړ ږغ سره بې پروا حال ورته وايي دا نور واليان هم په خپلو ولايتو کي د غه توګه چلوي.

د امير په حضور کي يو لوی شمېر د خدمه و ولاړ وي توري او خنجران ورڅخه وي، تيار وي چي د امير امر يا نهي پر ځای کي، امير کله کله په تخت روان کي ناست وي چي خلکو پر اوږو اخيستی وي کله کله په حوزه[1] سپور وي چي پر فيل يې ايږدي.

د امير سره په دربار کي د خان ملا[2] ناست وي چي هغه نو قاضی القضات وي او شرعي دعوې فيصله کوي د غه رنګه په هر ولايت کي قاضي د والي سره مل وي.

د پښتانه حکومت سياسي قانون نه لري د قضيو حل او عقد، د جزا تعين او د زجر حد او جزيه اېښوول نقدي جزا، وهل، بند، فرار ټوله په خپله د امير په رايه اړه

---

[1] حوزه: کجاوه، جوپان.

[2] "خان ملا" د قاضيانو لقب دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. دا نور واليان هم سم له خپلي ارادې سره کار کوي، هيڅ شک نسته چي دا توګه کار ډېر ځکه د عذر او ظلم څخه خالي نه وي. پزه يا لاس او پښه پرې کوي په دې ښاروکي.

امير پر سياسي اعدام باندي په ښکاره توګه اقدام نه کوي مګر له هغه چا څخه چي امير يې له فساده ببربېږي، يا تصور کوي چي فتنه به جوړه کي، هم داسي چي د لويانو رايې د ده سره يو سي نو هغه څوک په ښکاره وژني، امير ډېر ځله وژل، رنده ول د لويانو او خپلو رعيتو په سبب د دې چي هغه ناصر او کسات کښونکی نه لري کړي دي او هم يې ډېر ځله له وزيرانو څخه مالونه ضبط کړي دي چي له هغو څخه يې ناوړه کارونه ليدلي دي.

هغه واليان چي د شاهي ټبره څخه دي په ولاياتو کي يې په دغو سببو سره د مامورينو سره لار ورېږي ده، بډايان له سوداګرو څخه او کښت کرونکي هم له دې ټکي ژغور نه دی موندلی ، امير حق لري چي د حکومت په خزانه کي داسي تصرف وکي لکه په مطلق خپل مال کي چي يې کوي. هيڅ سړی د ترديد او تنقيد حق نه لري بلکه د چا په خاطر کي دا نه تېرېږي چي د حکومت مالونه د امير ملک نه دی او نه امير ته دا جواز لري چي پرته بې هغه چي قانون ده ته جواز ورکړی دی يا د رعيتو ورسره خوښه ده په نورو مالو کي دي تصرف وکي.

د پښتانه حکومت د نه خبرتيا له لامله له خپلو وظايفو څخه او هم دا چي قانون نسته چي دی دي اصلاحاتو ته ناچاره کي هيڅ هوډه د لارو امنيت ته، د سړکانو جوړېدو ته، د غلو او غدوی لاس لنډېدو ته، د قافلو او لارو ساتني ته نه لري.

که يوه قافله د يوه ښاره و بل ښار ته د سفر هوډه وکي څو په سوو وګړي وسله درلوونکي ورسره نه وي سفر نه سي کولای، دوی داسي ښکارېږي لکه د جګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډګر ته چي ځي، او حمله پر يو ځای وروړي، نه لکه د تجارت او رانيولو او خرڅېدو دپاره هم له دې سببه دی چي په دې ښارو کي تجارت لږ او بازار يې سوړ دی.

د مفاسدو او مهلکاتو د ليري کېدو دپاره د پښتانه په ښارو کي محتسب ليده کېږي. د پښتانه حکومت عسکري حکومت دی، ټوله د منصب خاوندان که ملکي وي يا لښکري بلکه ټوله مامورين يې له وزيره نيولې تر کاتبه پوري د ميرزا په نامه يادېږي. له قاضی القضاته نيولې د ده تر کښته درجې نائبه پوري په لښکري دفتر پوري اړه لري، مواجب يې په اندازه د شمېر د آسو دي چي دوی يې د جګړې ډګر ته حاضرولای سي، مثلاً يو قاضي په شمېر د سلو آسو مواجب خوري نو پر ده لازمه ده چي په ټولو جګړو کي به دی د سلو آسو سره او د سلو آسو لازمي وسلې سره حاضرېږي، حکومت چي لښکريان ټولوي د کلو مشران او غټان وګماري ملکان په خپله نظريه سره ښېله دې چي قانوني ملاحظه وکي يا پچه واچوي کښت کوونکي او نور ټاکي حکومت ته يې وړاندي کي، عسکري مدت ښکاره حد نه لري.

د يوه تر وسله لاندي لښکري وګړي معاش پرته بې روزانه تعييناتو د مياشتي شپږ روپۍ دي کله کله يې معاش پر وخت نه ورکول کېږي، څنډ پکښې لوېږي د جګړې په وختو کي د کليوالو او صحرايانو څخه په هغه اندازه چي د دوی ډېر ښت يا لږوالی دی پياده صنفونه ټولېږي چي دوی يې خاصه دار بولي او سپاره چي دوی يې اوپره سوار بولي د جګړې په ټوله وخت کي مدد او روزنه د هغو دوی پر خپله اوږه اخلي ډېر دغه سپاره د جمشيدي او ازبک له کامه څخه دي.

د پښتنو اميري په ارث سره ده، دا شرط نه دی چي د وراثت حق به لوی زوی ته رسېږي بلکه د وليعهد په ټاکلو کي پاچا واک لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره له دغه هم د پښتانه حکومت په سبب د حريصانو د ډېر حرص او د مفسدانو د شرارت چي تل زيار باسي چي برى دي پر وومومي د خدښي[3] او لړزه خالي نه وي، د پښتانه امير او د نورو حکومتونو په منځ کي دولتي معاهده نسته په پخواوو زمانو کي د پښتانه او د انګريز د حکومتو په منځ کي څه شرطونه ايښو سوي وه.

د حکومت مالونه[4] په دې ښارو کي پر دوه ټوکه وېشلي سوي دي:-

يو هغه ټوک دى چي کښته والو او باغوالو او مالدارو څخه اخيست کېږي دا ټوک لکه شرعي زکات داسي دى.

بل ټوک هغه دى چي له دوکاندارانو او صنعت د خاوندانو او د غلجو د کام پر هر نر باندي چي عمر يې پنځلس کاله وي اخيستل کېږي. د غلجو د کام هر نر به يوه روپي جزيه[5] غوندي ورکوي دا دپاره د تذليل د دوى له هغه وخته چي د دوى څخه حکومت ودي او سني ابدالي امير ته رانقل سو، په کال کي څني (له خارج څخه چي مالونه راځي) اخيسته کېږي، د جناياتو چي جريمي اخيستي کېږي د ګمرک محصول پر اخيست کېږي د ګمرک محصول يوازي په ښارو کي نه اخيست کېږي بلکه په کلو او دښتو کي هر ځاى ببل اخيست کېږي.

څرنګه چي غرځنيانو[6] ډېر ځله سر اخيستى وي د غه محصولات بې جبره او بې ورلېږلو د يوې ټولۍ لښکرو په کورټه نه څني اخيسته کېږي. د پښتانه په ښارو

---

[3] خدښه: غولول، شک درلودل.

[4] مراد يې ماليات دي (مرتب).

[5] په کوټه چاپ کي "يوه کالداره" کښلي ده. له روپۍ څخه دلته مراد (کالداره) نه ده، بلکه مقصد يې د هغه وخت مروجه افغاني سکه (کابلۍ) ده (مرتب).

[6] مطلب يې د غرونو اوسېدونکي دي (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي څرنګه چي تل پر له پسې شخړې پېښېږي او کامو تل سر اخيستی وي حکومت ته يو حقيقي تله په لاس نه سي ورتلای. اما دا سي ګڼله کېږي چي تر يو نيم ميليون ګنی پوند[7] ډېر او تر يوه ميليون او څلورمه دي لږ نه وي دا ټوله د پاچا د کورنۍ په معاشاتو کي ځي.

د حکومت رسمي ژبه پارسي ده.

د پښتانه اميرانو دا عادت دی چي د کوچني او لوی اختر په ورځو کي د ډېرو سپرو سره تر ښار د باندي لمانځه ته وځي، تر لمانځه وروسته د توپو او توپکو ډزي کوي، سپاره هغه خپل ښه ښه آسان په سپرلو سره اچوي د لمانځه څخه چي راسي سترخان وغوړوي خلق ډوډۍ ته راغوښتل سي.

[7] په کوټه چاپ کي هم په دغه شکل دئ. د ګنی پونډ او پونډ تر منځ په توپير پوه نه سوم (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب خاتمه

د افغانستان د هوا، ودانيو، کرهنو، صناعت، تجارت او کانو لنډ بيان

د پښتانه ښارونه په سبب د دې چي د استوا د خطه ليري دي او لوړ غرونه او ژوري درې لري، هوا يې ډول ډول ده او تودې اُلکې لري، ځرنګه چي هوا يې له فساد او ګندګی څخه خالي ده، د جوړوالي او صحت د پاره ښه ده. د وبا ناجوړتياوي چي د هوا د خرابی څخه زېږي لږ پېښېږي.

د ښارو او کلو ودانۍ يو پوښښت او ډېری د اومو خښتو جوړي سوي، خړې پړې ودانۍ دي. مګر د کابل ښار چي ډېری ودانۍ يې د ډبرو او لرګو دي او په ځينو ودانيو کي يې باغچې، ولې او حوضونه هم مونده کېږي د کابل لارې او کوڅې تنګې او کږې وږې دي، د قندهار کوڅې پلنې او سيخ دي.

ټينګې او ښايسته جامع ګانې چي له پخوا زمانې په دې ښارو کي سته دي د غليمانو د پرله پسې جګړو او حملو له لامله يې پوښښونه نړېدلي دي لږ پر پخواني حال پاته دي.

هغه چي نن ورځ پاته دي خپل ټينګ والی او پخوانی ښايست يې بايللی دی. لوی او کوچني ښارونه يې قلاوې لري، او پخوانی ډول برجان (برجونه) لري که څه هم د توپ مقاومت نه سي کولای مګر سپاره تمولای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلي ! د کابل او هرات ښارونه هر يو قلاوي لري د لومړي ښار قلا يې د خاورو ده، د توپ مردک اغېزه نه پر کوي پر وروستني ښار غرونه راخرخېدلي دي، د غرو پر سرو يې برجان او ټينګ کلک ځايونه جوړ کړي دي، ښايي چي يوه اوږده زمانه دي غليم له ځانه په وګرځوي د افغانستان مځکي چي د هر ډول کرهڼي وړ دي لويي او کوچنۍ والي لري، د ډېرو شخړو او فسادو له لامله او دا چي اوسېدونکي يې د کرهڼي پلان جوړولو او کښلو په فن کي لاس نه لري ډېرى مځکي يې وچي پاته دي او به يې بېځايه ځي فايده نه ځني اخيسته کېږي.

سره له دې يې هم اوسېدونکي د غنمو، اوربشو، جواريو، نخودو، باغليو او نورو شنګياوو کښته کوي خپل معشيت په کوي لړ څه پنبه، تنباکو، ترياک، ډيلي[1] هم کوي د خپله سپکه سره سم درخته هم ايږدي د تاکانو، زردالو، سيب، امرت، بهي، انار، جوز، اناپ، پسته او توت هم پالنه کوي، د هرات وګړي د وربښمو د چينجي روزنه او پالنه کوي.

د جلال آباد وګړي ګنى کري، د افغانستان په ځينو غرو کي صنوبر، مصطکي[2]، دښتي پسته او جميزي[3] ډېر مونده کېږي. په دې ښارو کي صنعت زښت لږ دى، هغه چي د پلار او نيکه په ميراث پاته سوى دى پر هغه توګه پاته دى، په ښېګڼه کي يې دوى زيار نه دى ايستلى.

يو له هغو څخه د وربښمو ټوکرانو اودل دي او جوړول د يو ډول کشميري شال دي چي دوى يې پټو او ګُرک بولي او د اوبن د وړيو څخه يې په کابل کي جوړوي. د غه رنګه په هرات کي رنګ په رنګ ټوکران جوړېږي. يو له هغو څخه برکه ده چي د مخه

---

[1] ډيله: يو راز چمني وابنه دي.
[2] مصطکى: يو ډول ژړي داني دي.
[3] جيمزي = جنغوزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو د هزاره په کام کي له هغه نه ذکر وکړ.

په کابل او قندهار کي کوچنۍ کارخانې سته چي توپ، توپک او توره پکښي جوړېږي، افغانستان ډېر خله تجارت د هندوستانه او بخارا او ایرانه سره لري.

افغانستان چي هند ته مال باسي وړۍ، پنبه، مېوه او ډول ډول خوږې دي چي پر اوښو يې وړي. ایران ته کُرک، برکه یو ډول موچنه او کشمیري شالونه چي له کشمیر او امبرسره (امرتسره) يې راغواړي باسي.

د هغه په مخۍ کي له بخارا او هندوستانه سوني او نخي ټوکران، چای، بوره، ښیښه، چیني لوښي، کاغذ، پولاد، اوسپنه، مس، پاره، د وریښمو چینجي او عقاقیر[4] له ایرانه څخه کالي او وسله راوړي. په افغانستان کي زښت ډېر کانونه سته مګر اهالي يې د راایستو او استفادې سبک نه لري، د هغو څخه د طلا کان په قندهار کي، د اوسپني کان په خوست او کرم کي او د یاقوتو کان په کابل کي د اوسپني او ګوګړو او لاجوردو او یاقوتو کانونه په بدخشان کي دي، ماورا له دې څخه نور هم ډېر کانونه لري چي د غسي پاته دي. دغه دی چي سم له هوډې سره مي د پښتانه پاچهۍ او د دوی د ښارو وضعیت او د معشیت لاري او د دوی کامونه درته ذکر او بیان کړه.

والله ولي التوفيق

---

[4] عقاقیر د عقار جمع د یو بوټي بخیله ده په دوا کي يې اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتانه آمر نصيحت وليعهد ته !

زما ګرانه زويه ! پته دي نه وي چي زه د حکومت ټول واک په خپل ژوند کي تا ته سپارمه هيڅ شک نسته چي د اروپا د حکومتو څخه په غرب کي او د شرق د پاچهيو څخه په ايشيا کي ښېل دی. زما غرض دا دی چي تا پوهومه چي پر پاچهي کښېنې څه ډول حکومت او په څه توګه عمل وکړې چي له عقل او حکمت سره سم وي. بل مقصد هم لرم چي د پښتانه د قومونو خانان او مشران ستا مقام وپېژني ستا تر بيرغ لاندې وي او ستا امر ته يې غاړه ايښې وي، اوس هوډ لرم چي څه خبري د نصيحت په ډول تر غوږو در تېري کړم. دا يقين دی که پر هغه ولاړ سې ستا ملک به په امان وي. که پښه خطا کښېږدې نفوذ به دې له لاسه ووزي. زما نصيحت تا ته دا دی:-

1. پر تا واجبه ده زويه چي د دين تر اصولو به دې ګوتي کښلې وي، لمړی مقام به دې دين لره مخصوص کړی وي. دمخه تر دې چي په سياست اخته سې خپل ديني واجبات به تر سترګو لاندې لرې يا په دې عبارت چي پر تا واجبه ده چي د ټولو خپلو رعيتو دپاره په ديانت او تقوا کي يو ښه پېشوا و اوسې.
2. پر تا ترلې ده چي د خپلو رعيتو، په سعادت، آرام او راحت کي به توجه لرې. د وطن په امن کي به کوښښ کوې. وپوهېږه ! چي د وطن فلاح په ثروت پوري ترلې ده او ثروت بې له کښته، تجارته او صنعته نه سي موندلای د دغو وسايلو پر مخ تلل په عمومي تعليم او تربيت پوري اړه لري. اې زويه ! زموږ د وطن وګړي د مدنيت لمړی درجې لري، مګر وګړو د علومو حاصلېدو او د افکارو و پالني ته هڅه نه ده کړې زما په زړه کي دا هيلې وې چي مدرسې جوړې کړم او د علم روښنايي د پښتانه د ملک په نورو ښارو کي هم وړانګه واچوي او دا تعليم او مدرسې د اوسني غربي ملکو د مدرسو او دارالفنونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډول وي مګر داسي هوډي ژر نه تر سره کېږي ولي اړتيا سوکه او تدريجي سير او لوړتيا ته لري، نو پر تا ترلې ده چي بشپړه توجه دغه ټکي ته وګماري او يقين ولري چي ستا له مقدسو واجباتو څخه دا ده چي د رعيتو په خوا او خاطر کي د تعليم دپاره هڅه او هيله پيدا کې.

3. ژر دی چي د حکومت واکي به په خپل لاس کي واخلې، نو ښايي چي ته په خپل وطن کي تر ټولو ښه سړی واوسې، په عقل کي لوړ و اوسې، په فکر لوی يې، درجه او ځای دي تر ټولو اوچته وي، د خپلو رعيتو سره او د هغه چا سره چي ستا تر لاس لاندي وي ښه مخ يوسې ! پر رعيتو باندي د پلار په مينه تېربږه چي ستا پر شفقت کلکه عقيده پيدا کړي او دا د دوی زړه ووينې چي ته د دوی په ښېګڼه پسې يې. داسي عمل هغه مينه چي دوی يې له تا سره لري ډېروي او ته د دوی په نظر کي لوړ ښکاربږې. د پرديو سره داسي مه اوسه چي بيا د دوی زړه ورتيا او بې حيايي ډېرېږي.

4. پر تا ترلې ده چي د خپلو رجالو کارونه او عملونه به تلې او د فضلاوو فضل به نه هېروې ولي دا تلنه دوی ته د کار په کړن کي سبک او قوت ورکوي او ناچاره کوي يې چي ستا خدمت زښت په ربښتيا ، اخلاص او استقامت سره وکړي.

5. د ظالم څخه چي د مظلوم حق او انصاف اخلې او مجرم ته چي سزا ورکوې زړه مه سوځه ! که څه هم ستا د زړه ټوکر وي، ويوهېږه ! چي په دې توګه به د وګړو زړونه ځان ته رارخي کاږې او خدمت به په خلوصيت او پوره زړه درته کوي.

6. پردو ته هيڅ ډول حق او لاره مه ورکوه. ولي که دي لږ حق يا لار يا واری ورکړی ګواکي د ملک د ورانېدو دپاره دي په خپل لاس لار جوړه کړه.

7. څرنګه چي تر ننه پوري انګرېز وضعيت[1] له ما سره پاته دی او مصاف و مسالمه لرو د دوی سره دغسي اوسه لکه چي ومه، مګر په هر حال کي د

[1] دغه ځای په کوټه چاپ کي "تعلقات له انګرېزانو سره " ترجمه سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغانتسان سلامتي[2] او آزادي تر ستركو لاندي لره.

8. ستا د لمريو واجباتو څخه يا ده چي د خپلو رعيتو د مصلحت او ښېګڼي ساتنه به په هر حال کي پر ځان ترلي بولې.

9. لازمه ده چي په سياسي مسئلو کي پر خپلو وزيرانو او ملګرو بروسه ونه کې. بلکه په کوچنيو او لويو کارو کي په خپله بايد توجه ولري او ځان ور ورسوي.

10. پر تا ترلې ده چي د جنګ په باب کي داسي تيار يې چي سبا وغواړي لښکري تر ځان مروچه دولت سره په جنګ ايستلای سې يا دي لښکر داسي تيار لره لکه سبا چي د ډېر سبک ناکه غليم په مقابله ځي.

ويوهېږه اي زويه !

زمانه مونږ ته ښوونه کوي مونږ ښايي چي فايده ځني واخلو ، مونږ پوهېږو چي زمونږ لمرۍ اړي دا ده چي لښکر به مو تل سبک ناکه او تيار ولاړ وي دوهمه دا چي د صلح او جوړ په وخت کي د حربي سامان ډېره ول مه هېروه، ولي ته پوهېږې چي د جګړې په وخت کي د لښکر د جنګ سامان او د خوراکي موندل زښت سخت وي.

11. پاچهانو ته دا لازمه ده چي د لښکري وګړو زړونه به ځان ته را رخي کاږي او د دوی د ميني د ډېرښت په هکله به ځانته ډېر زيار باسي. لښکر خوښ او آرام ساته چي ستا سره مينه پيدا کي چي د بري پر ډګر پر شا رانه سي او ستا په مينه کي تر سر تېر وي. وپوهېږه ! چي لښکري وګړي خپل ګران ارواحونه د معاشاتو په وړ يا قيمت خرڅوي، معاشونه يې پر خپل وخت ورکوه که په دي توګه د دوی سره ولاړ نه سې. دوی بيا په هغه سخته موقع کي که څه هم خورا په لوړ قيمت وي د خپل سر په خرڅلاو کي بخل کوي.

12. اي زويه وپوهېږه ! چي د حکومت بيت المال د ملت حق او مال دی، پاچا يا آمر د هغه ساتونکی دی نه د هغه خرڅونکی ! که يو حاکم له امانت مال څخه د

---

[2] په کوټه چاپ کي "د هيواد سلامتي" راغلې ده (مرتب).

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل ځان دپاره خرڅ وكي د هغو كسانو په وړاندي چي دا مال يې ده ته اېښى دى او دى يې پر درولى دى او يقين يې پر كړى دى خاين باله كېږي، او دا ښكاره كوي چي خاين سړى د وګړو په سترګو كي څه قدر او قيمت نه لري او د خداى (ج) او د خلكو غليم دى. بيت المال تل ښايي چي ډك او ودان وي ولي د حكومت بې سپكي تر نورو شيانو په لړوالي كي د مال ډېره څرګند ېږي.
دغه ډول پر تا ترلې ده چي وارداتو او صرفياتو ته په ژوره كتنه وګورې هغه چي زيات وي د بيت المال ته يې رخي كاږي پر تا دا لازمه ده چي څو دي وس وي او كېداى سي (هغه) لاري ومومې چي بيت المال په ډېرېږي ولي ستا ټوله هوډي حربي، سياسي، تجارتي، صنعتي، تعليمي پر هغه خپل وړ وخت په دغه بيت المال سره پوره كېږي.

ولي اې زويه ! زمانه واړو دغه عملو ته پر دغه پخو لارو تلو ته اړې لري چي ژوند په سپک او پوره زړه او لوړ سر وكي.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library